# زمونږ عقيدتي
# اصول

GLOBAL UNIVERSITY

# زمونږ عقیدتي اصول

GLOBAL UNIVERSITY

# زمـونږ عـقيدتي اصول

ليکونکی

لوئيس جيتروا‌کس

***Global University***
***P.O.Box 5749***
***Nicosia, Cyprus***

# زمونږ عقيدتي اصول

**لومړی چاپ ۲۰۰۵**

© 2005 All Rights Reserved

***Pashto "We Believe" 2005***

*Global University*
*P.O. Box 5749*
*Nicosia, Cyprus*

## د مضمونونو فهرست


| سرلیک | د پاڼې نمبر |
|---|---|
| لومړی لوست | ۱ |
| دویم لوست | ۹ |
| دریم لوست | ۱۹ |
| څلورم لوست | ۲۹ |
| پنځم لوست | ٤۱ |
| شپږم لوست | ۵۵ |
| اوم لوست | ۷۱ |
| اتم لوست | ۸۱ |
| ستاسو یادداشت | ۹۱ |
| نهم لوست | ۹۳ |
| لسم لوست | ۱۰۵ |

| | |
|---|---|
| يولسم لوست | ۱۱۷ |
| دولسم لوست | ۱۳۱ |
| ديارلسم لوست | ۱٤٥ |
| څوارلسم لوست | ۱٥۹ |
| پنځلسم لوست | ۱۷۱ |
| ستاسو يادداشت | ۱۸۷ |
| شپاړسم لوست | ۱۸۹ |

# لومړی لوست

# مقدس کتاب

ټول ماڼوګان په ویرې کې وو. طوفان ډېر هیبتناکه او دوامداره ؤ. تر دې حده چې څو تنه دوستان ئې د اوبو لاندې ډوب او ورک شوي هم وو. او د لاځوابه سوالونه څخه د هغوی ماغزه ستومانه شوي وو. هغه پوښتنې چې: هغوی چېرې ځي؟ ترکومه به دې سفر ته دوام ورکوي؟ آیا د خپل کور لاره به بیا ومومي؟

دغه پېښنه په کال ۱۴۹۲ کې منځ ته راغلې وه او د دوی کپتان کریستف کلمب او نورو ماڼوګانو هم نه شو کولای چې د هغوی دغه سوالونو ته ځواب ورکړي. هغۀ هندوستان ته د تګ په مقصد هغوی دغه نامعلومه او بې پایه سفر ته اړ کړي ؤ چې ناڅاپه ئې خپل ځانونه د هندوستان پر ځای د امریکا په یوې ټاټوبې کې ولیدل. هلته هغه او د هغۀ نورو ماڼوګانو خوړې او تازه اوبه پیدا کړې او د هغوی ژوند له خطره څخه بچ شو.

نن ورځ داسې پېښې صورت نه مومي، ځکه چې بېړۍ چلونکي د هغه نقشو او وسایلو د استعمال په وسیله چې ورسره دي، خپلې لارې نه ورکوي.

دغه حالت یوازې په سمندرکې نه دی بلکه د ځمکې پر مخ هم ګڼ شمیر خلک ژوند کوي چې خپل ځانونه د سمندر په

طوفاني څپو کې ښکیل، او ورک ویني. هغوی د خپل ضمیر څخه ډېري داسې پوښتنې کوی چې چېرې ځم؟ آیا خپل ځان

راڅخه وروک شوی دی؟ آیا یوه داسې ورځ به راشي چې سمه لاره بیا ومومم؟خدای زمونږ د دارنګه پوښتنو په اوریدلو سره زمونږ د لار ښونې او لاس نیونې لپاره یو کتاب راکړی دی.

مخکې له دې چې ددې پو ښتنو د ځوابونو په لټه کې شو راځئ چې لومړی په ګډه سره دغه لوی کتاب ته یوه کتنه وکړو ترڅو وپوهېږو چې دا کتاب څنګه لیکل شوی او څه رنګه زمونږ لاس ته رسیدلی دی.

## هغه څه چې تاسو به ئې په دې لوست کې ولولئ

د مقدس کتاب اساس او جوړښت

د مقدس کتاب هدف او د الهی الهامونو اړخونه

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو ...

- وکولای شئ چې د مقدس کتاب د جوړښت اساس او منبع تشریح کړئ.
- وپوهېږئ چې څرنګه، او ولې دغه سپیڅلی کتاب مونږ ته راکړ شوی دی.

## د مقدس کتاب اساس او جوړښت

مقدس کتاب چې د ۶۶ کتابونو له مجموعې څخه جوړ شوی دی، یوې کوچنۍ کتابخانی ته ورته والی لری چې د خدای له لورې مونږ ته را کړل شوی دی. لومړی برخه ئې چې د زړې لوظنامې په نامه یادېږي ۳۹ کتابونه لري، او همدارنګه دوهمه برخه ئې نوې لوظنامه یادېږي چې ټول ۲۷ کتابونه لري.

نوموړی کتاب چې د ځلویښتو کسانو په واسطه لیکل شوی ؤ د شپاړس سوه کالو په موده کې بشپړ شویدی. مقدس کتاب د دې کسانو په هکله وایې چې دا ټول د لوی خدای سپېڅلي خلک وو چې د هرې طبقې خلک په دوی کې شامل وو. ځوک بادشاه ؤ او ځوک شپونکی. ځوک شاعرؤ او ځوک باجګیر (محصولچي)، ځوک مذهبی لارښود ؤ او ځوک فوځی مشر. چې د مختلفو ښارونو اوسیدونکي او د بیلابیلوذوقونو او فکرونو خاوندان وو.

د مقدس کتاب شامل ټول کتابونه د ډول ډول مضمونونو او څېړنو څخه ډک دي لکه تاریخ، نبوت او شعر. همداشان ښکلې غزلې او حکیمانه خبرې هم لري چې د امثالو یا متلونو په نامه یادېږي. داسې قیصې او داستانونه لري چې د ټولنې د ټولو وګړو پام که ځوان دی که بوډا، ځانله راکاږي. د دې سره سره دغه ټول شیان په یوه کتاب کې د یو اساسی غرض او مقصد لپاره راټول کړای شویدي. چې هغه د انسان او خدای ترمنځ د اړیکې او رابطې ټینګول دي.

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

دابرخه چې د «هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ» په نامه یادېږي له تاسو سره مرسته کوي تر څو لوستل شوی درس یو وار بیا له نظره څخه تېر او تکرار کړئ.

۱) خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

الف) مقدس کتاب د .......... کتابونو مجموعه ده چې د .......... تنو لیکوالو له خوا د مختلفو موضوعاتو په هکله لیکل شویدي.

ب) مقدس کتاب د .......... کلونو په موده کې لیکل شوی دی.

ج) د مقدس کتاب لومړۍ برخه چې ................ بلل کېږي له ......... کتابونو څخه جوړه شوې ده او همدارنګه د هغې دوهمه برخه چې د ................ په نامه یادېږي......... کتابونه لري.

خپل ځوابونه د هغه صحیح ځوابونو سره چې دې درس په آخر کې راغلي مقایسه کړئ.

## د مقدس کتاب هدف او د ا لهی ا لهامونو اړخونه

ښايي تاسو هم دې تناقض ته چې په لومړي لوست کې ليدل کېږي، پام کړی وي. لومړی لوست د یوې خوا وايي چې مقدس کتاب مونږ ته خدای رابخښلی دی او وروسته بیا وائي چې مقدس کتاب دانسانی افرادو له خوا لیکل شویدی. دا کار څنګه امکان لرلی شي؟

هغه څلوېښتو کسانو چې مقدس کتاب ئې لیکلی دی د الهی ا لهام څخه برخمن وو. دا په دې معنی ده چې روح القدس هغه افکار او حقایق د هغوی په مغزونو کې ځای په ځای کړي وو کوم چې خدای غوښتل د لیکل شوې نسخې بڼه ځانله ونیسي. په دويم تیموتیوس ۳: ۱۲ کې راغلي دي چې: "هره صحیفه د خدای د روح د ا لهام په وسیله ده." همدا رازدا آيات مونږ ته دا خبره هم څرګندوي چې مقدس کتاب د څه لپاره مونږ ته راکړل شویدی. مقدس کتاب مونږ ته د تعلیم، اصلاح، تنبیه او د تربیت دپاره راکړل شویدی. خدای هغه تعلیم چې د صحیح او با مقصده ژوند پورې اړه لري، مونږ ته د مقدس کتاب په وسیله را کړی دی، ځکه چې خدای زمونږ هوسايي او ښه والی غواړي. او په دې هم پوه دی چې هر کله مونږ د هغه د اصولو په مطابق ژوند نه کوو نو خپل ځان ته نقصان رسوو. يعنی خپل فکر، خپل بدن، او بالاخره خپل روح ته زيان رسوو. د دې زيان او تاوان څخه د ژغورنې يوازنی لار دا ده چې د هغه دکلام څخه د زړه له کومې پیروي او پرې عمل وکړو. په دې وسیله مونږ د هغه ذات پېژندنې ته رسېږو او په دې حقیقت

پوهېږو چې دغه لار زمونږ لپاره یوه بهترینه او ګټوره لار ده. د خدای کلام لکه د یوې نقشې یا د لارښود په شان د دې دپاره لیکل شوی او زمونږ لاس ته را رسیدلی تر څو مونږ سره مرسته وکړي او مونږ ته قوت را کړي. داڅومره د ویاړ څخه ډک مقام دی چې د خدای ذاتی تعلیم او خبرې د خپلې لارې روڼ مثال وګرځوو او همېشه یې د خپل ځان سره ولرو.

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

په لاندینو دوو پوښتونو کې صحیح ځواب وښیئ.

۲_ کله چې وایو، مقدس کتاب الٰهی الهام دی نو مونږ په څه شي باندې ټینګار کوو؟

الف) خدای مونږ سره خبری کوي.

ب) هغه شیان چې خدای غوښتل چې باید ولیکل شي د مقدس کتاب د لیکونکو په ذهن کې یې ورته ځای ورکړ.

ج) دغه کتاب د یو مذهبی تاریخ ارزښتناک مقام خپل ځان ته ګټلی دی.

۳) د مقدس کتاب لیکونکو د یوی اصلی موضوع پرسر خپلې لیکنې کړي دي. د دوی په لیکونو کښې د عدم تناقض دلیل دا دی چې.

الف) د کتاب اصلی لیکونکی په خپله خدای دی او هغوی فقط هغه شیان ولیکل چې خدای ورته ښوولي ؤ.

ب) د هغوی هر یو خپل روستني لیکوال ته په کافی اندازه معلومات پرځای پریښی وو.

۴) هغه جملې چې ددې پوښتنې صحیح ځوابونه دی هغه غوره کړئ. خدای ولې مونږ ته مقدس کتاب را وبخښه؟

الف) ځکه خدای زمونږ هوسایي او ښه والی غواړي.

ب) هغهٔ غوښتل چې مونږ ته د صحیح ژوند لارښوونې او دستورونه راکړي.

ج) ځکه هغهٔ غوښتل چې مونږ په دی وپوهیږو چې هغه زمونږ د پوهې او پېژندنې نه لوړ دی او مونږ نشو کولای چې هغه وپېژنو.

د) هغه غواړي چې خپله رابطه مونږ سره ټینګه کړیاو خپل ځان مونږ ته وپېژني .

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

په دې برخه کې د هر لوست د سوالونو صحیح ځوابونه لیکل شوی دی. ښه به دا وي چې د سوالونو دځواب ورکولو پروخت، دغې برخې ته ونه ګورئ. کله مو چې د لوستل شوي لوست سوالونو ته ځواب ورکړ، نو وروسته هغه له دې برخې سره مقایسه کړئ.

۱ – الف) ۲۲، ۴۰

ب) ۱۲۰۰

ج) زړه لوظنامه، ۳۹، نوی لوظنامه، ۲۷

۲_ ب) هغه شیان چې خدای غوښتل چې باید ولیکل شی د مقدس کتاب د لیکونکو په ذهن کې ئې ورته ځای ورکړ.

۳ _ الف) د کتاب اصلی لیکونکی په خپله خدای دی او هغوی فقط هغه شیان ولیکل چې خدای ورته ښوولي ؤ.

۴ – الف) ځکه خدای زمونږ هوسایي او ښه والی غواړي.

ب) هغۀ غوښتل چې مونږ ته د صحیح ژوند لارښوونې او دستورونه راکړي.

د) هغه غواړي چې خپله رابطه مونږ سره ټینګه کړي او خپل ځان مونږ ته وپېژني.

# خدای

کله چې ماشوم وم مور مې راته ښودلې ؤ چې څرنګه د طوفانونو څخه خوند واخلم. خپل لاسونه به ئې زما د اوږو څخه چاپیر کړل. او دواړه به د کور د کړکۍ تر شا ودریدو، او د باد هغه آوازونو ته به مو غوږ نیوو چې د ونو د پاڼو څخه راوتل. کله به چې بریښنا په آسمان کې څریکه وهله نو لیدل به مو چې د ونو خیشتې پاڼې خپل ځانونه د باران په مرغلینو څاڅکو پریمنځې. او کله به چې د تندر آواز په آسمان کې په غره هارو شو نو د هغو واښو او ګلونو خبرې به ئې کولې چې د باران تازه څاڅکو ته لیواله وو.

دا خبره چې آیا خلک د طوفان څخه خوند اخلي یا ویره کوي په دې پورې تړلې ده چې هغوی څه زده کړیدي. مګر د دې تر څنګه یوه بله مسئله هم د اهمیت وړ ده او هغه دا چې څرنګه طوفان دی: ورانوونکی که ګټور.

کله چې د طوفان کلمه اورئ نو ستاسو په ذهن کې څه ګرځي؟ دآسمان باد، باران او بریښنا به په کوم شکل وي؟ آیا کولای شئ چې طوفان په یوه بوتل کې ځای په ځای کړئ؟ نو ستاسو ځواب به خامخا منفي وي چې هیڅ امکان نه لري. مونږ هغه وخت کولای شو چې د طوفان شتنه والی درک کړوچې د

هغه مختلف اړخونه مطالعه کړو. د مثال په توګه کله چې يخه هوا د ګرمی هوا سره ټکر کوي نو مونږ کولای شو د هغۀ اثرات مطالعه کړو او وګورو چې دا رنګ ټکر د ځمکې او يا د سمندر پر مخ کوم ډول نتايج منځ ته راوړلی شي.

په همدې توګه خدای هم يو طوفان ته ورته دی. يوه ډله ترېنه په وېرې کې وي او بله ډله ورسره مينه او محبت کوي. دغه وېره او يا مينه په هغه څه پورې تړلې ده کوم چې هغوی ته ويلی شوې دي او دا چې د هغې په اړوند د هغوی غبرګون څه دی.

تاسو نشی کولای چې خدای وګوری مګر هغه څه چې خدای ئې سرته رسوي کولای شئ چې هغه تر مطالعې لاندې ونيسئ. په لومړي لوست کې مو ولوستل چې دا مقدس کتاب دی چې د خدای د صفتونو او د هغه د کردار په هکله چې دبنې آدم سره ئې لري، خبرې کوي. په دې لوست کې به مقدس کتاب ته يوه کتنه وکړو او هغه برخې به تر مطالعې لاندې ونيسو چې د خدای په هکله خبرې کوي.

## هغه څه چې تاسو به ئې په دې لوست کې ولولئ

د خدای رابطه زمونږ سره

زمونږ رابطه د خدای سره

**دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو ...**

- وکولای شئ د خدای دځو صفتونو نومونه واخلئ.
- دا توضیح کړئ چې ستاسو کړۀ وړۀ د خدای په مقابل کې باید څه ډول وي.

## د خدای رابطه زمونږ سره

د مقدس کتاب د یوحنا په انجیل ۴: ۲۴ کې راغلي دي چې خدای روح دی. په لغتنامو کې د روح په هکله داسې لیکل شویدي: «روح یو لازمی او حتمی اصل دی چې ژوند وربخښي.» له هغه ځایه چې خدای خالق دی نو مونږ ویلای شو چې هغه یو مافوق الطبیعه قدرت دی چې ټولو مخلوقاتو ته ژوند وربخښي. د روح خاصیت دا دی چې لیدل کیدای نشي مګر دا چې تصمیم ونیسي چې په یوه بڼه ځان څرګند او ښکاره کړي.

خدای خپل ځان د خپل زوی په واسطه دنیا والو ته څرګند کړ. یوحنا ۱: ۱۴ وائي: "نو کلام جسه شو او هغه زمونږ سره اوسیدو او مونږ د هغه لوئی ولیده، داسې لوئی لکه چې د پلار د یو زوی چې په فضل اؤ حقیقت معمور وی."

خدای خپل ځان په دری ګونی بڼه یعنی پلار، زوی او روح القدس کښې ښکاره کړ. دری ګونی شخصیت چې په تثلیث اقدس یعنی (سپیڅلی درې والی) په نامه هم یادېږي د مقدس کتاب په زیاتو برخو کې ورته اشاره شوې ده چې د هغو څخه یوه متی ۲۸: ۱۹ دی چې وائی: "ځکه تاسو په مزکه خواره شئ

او ټول قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ.“

د خدای د زیاتی پېژندنې یوه طریقه د هغه د صفتونو مطالعه ده د خدای صفتونه لکه نیک، قدوس، عادل، قادر، په هر شی غالب، په هرڅه پوه او خبردار او ابدی ذات دی. راځئ چې یو څو هغو آیتونو ته نظر واچوو چې د خدای دغه صفتونه پکښې په ښه توګه بیان شویدي.

د مقدس کتاب دزرې لوظنامې د خروج په ۳۴: ۲ کې لیکل شویدي چې: ”...زهٔ (خدای) رحیم، مهربانه، روف، زر نه په قهر کیدونکی، لوی احسان کوونکی او وفادار یم...“

همدارنګه د لاویان ۱۱: ۴۴ کې راغلی دي: ”زه ستاسو یهوه خدای یم نو خپل ځانونه پاک کړئ او مقدس و اوسئ لکه هسې چې زه مقدس یم.“

د هغهٔ د قدرت لوړوالی چې په هر شی او هرڅوک باندی یې لري، د دانیال د کتاب په ۴: ۳۰ کې په بشپړه توګه واضح شویدی. ”... داسې څوک نشته چې د هغه مُخه ونیسی او ورته ووایی چې ته څه کوی.“

خدای په هر څه پوه دی.

هیڅ داسې کوم شی نشته چې د هغهٔ څخه پټ وي. خدای مونږ هریو په جلا جلا توګه پېژني.

"او دخدای نه د خلقو هیڅ ځیز پټ نه دی بلکه د چا سره چې زمونږ حساب دی، د هغه په نظر کښې ټول ځیزونه څرګند او بې پرده دی." (عبرانیان ۴: ۱۳)

د مکاشفې کتاب ۱۰: ۲ د خدای د ابدیت څخه خبرې کوي. "او په هغه چا ئې قسم وخوړلو چې تل تر تله ژوندی دی او په آسمان، مزکه، سمندر او دوئ کښې ئې هر څه پیدا کړی دی."

دا څو آیاتونه مو چې ولوستل مونږ سره مرسته کوی چې په دې پوه شو او ووینو چې خدای څومره لوی او غښتلی دی. او له بله پلوه رحیم او مهربانه هم دی. او غواړي زمونږ سره چې د هغه مخلوقات یو، نږدې اړیکې ټینګې کړي.

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۱_ اړوندو آیتونو ته په مراجعې سره دالاندې خالي ځایونه ډک کړئ

الف) متی ۹:۲_۱۱، خدای یو مهربانه..............په شان دی چې د خپلو ..............هر ډول اړتیاوې پوره کوي.

ب) یشعیاه ۲۲: ۱۳ ، خدای د یوې ........ مثال لري چې خپلو............ته تسلي او ډاډګیرنه ورکوي.

۲_ لاندیني خالي ځایونه په هغو صفتونو ډک کړئ کوم چې د متعلقه آیتونو څخه لاس ته راځي.

الف) دويم پادشاهان ۴: ۴۲ – ۴۴ ..........................

ب) پيدايښت ۹: ۱۳ – ۱۷ ..............................

ج) دويم تواريخ ۷: ۱۳ – ۱۴ ................................

د) خروج ۳: ۷ ................................................

ه) زبور ۹۷: ۱۰ – ۱۲ ....................................

که چيري غواړئ چې د خداى د صفتونو په هکله زيات معلومات تر لاسه کړئ يو بل زبور انتخاب او مطالعه کړئ لکه ۱۰۳ او ۱۳۹ زبور چې د خداى او زمونږ د حفاظت په اړه ډېر واضحه بيانات لري.

خپل ځوابونه د لوست په آخره کښې له صحيح ځوابونو سره مقايسه کړئ.

## زمونږ رابطه د خداى سره

د نوى لوظنامې د متى د انجيل په ۲۲: ۳۷ کې عيسى مسيح فرمائيلى دى: "...د مالک خداى سره د زړه په راستئ، په پوره روح او په پوره عقل سره مينه لرئ. "

د خداى سره د مينى د اظهار له پاره ډېرى لارى وجود لري زمونږ دعا او عبادت کولاى شي چې زمونږ ويناوې د الفاظو په قالب کې واچوي او مستقيماً ئې خداى ته ورسوي. مګر مونږ بايد خپل محبت او مينې ته د عملي بڼه ورکړو او د حقيقت په ميدان کې ئې ښکاره کړو.

"څښتن تعلیٰ ستا څخه څه غواړی بې له دې نه چې ته د هغه څخه ووېرېږې، د هغه په تمامو لارښونو باندې عمل وکړې، له هغۀ سره مینه وکړې او د زړه له کومې د هغه عبادت وکړې." (تثنیه ۱۰: ۱۲ - ۱۳)

"که څوک د هغه په کلام عمل کوی نو په هغه کښې دخدای مینه کامله شوې ده. او داسې مونږ ته معلومه ده چې مونږ د خدای سره شراکت لرو." (اول یوحنا ۲: ۵)

که چېرې غواړو خپله مینه خدای ته ښکاره کړو، باید د هغۀ د هغه تعلیماتو نه چې په خپل کلام کې ئې مونږ ته را کړي دي، اطاعت وکړو او د هغه د لارښونو په مطابق عمل وکړو.

د خدای سره د مینې د اظهار بله لار، ورکړه او له نورو سره شراکت ده. د دې بیان په اول یوحنا ۳: ۱۷ - ۱۸ کې په دې ډول شوی دی."که څوک ما لدار وی او خپل ورور حاجتمند وینی او بیا هم زړه سواندې پرې نه کوی نو هغه څنګه د خدای مینه په خپل زړۀ کې لری؟ زما بچو! مینه دې تش په خبرو یا په ژبه نه وی بلکه هغه په رښتیا او په عملی طور په کار ده."

هغه مینه چې اطاعت کوونکې ده او له نورو سره شراکت لري، هغه خوشحالوونکې او د ستاینې وړ دی. عیسی میسح په لوقا ۱۰: ۲۸ کې وائی چې، که چېرې خدای د هر څه نه زیات خپل دوست وګڼو «ژوندی به پاتی شو». یوه ډله «واقعی ژوند» په ثروت دبدبه، مال او دولت، قدرت او منصب کې لټوي. مګر دغه شیان نه شي کولای چې مونږ راضي کړي ځکه چې مونږ د خدای په خیر او د خدای په صورت او د هغه د لوئی د ښکاره

کولو دپاره پیدا شوي یو. زمونږ روح باید په روحاني شیانو راضي شي.

حقیقي ژوند د خدای سره مینه ده لکه چې مسیح فرمایلي دي: "تاسو د هر څه نه اول د خدای بادشاهۍ او د هغه د ریښتینوالۍ لټون کوئ، نو نور هر څه به تاسو ته په خپله حاصل شی." (متی ۶ : ۳۳)

خپل ځانونه د کم اهمیته شیانو پورې مه محدودوئ. خدای په پوره توګه د زړه له کومی خپل دوست وګڼئ او مینه ورسره وکړئ.

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۳ـ صحیح جملې په ښښه کړئ.

د هر څه نه لومړی باید

الف) له قدرت سره مینه وکړئ تر څو وکولای شئ د هغه په وسیله خپل ژوند کنترول کړئ.

ب) خدای سره مینه کوئ او دغه مینه او محبت په عملي توګه هغۀ ته ښکاره کړئ.

۴ـ هغه آیتونه معلوم کړئ چې د خدای پر وړاندې ستاسو په لومړني مسئولیت باندې ټینګار کوي.

الف) تثنیه ۶ : ۵

ب) تثنیه ۱۰: ۱۲

ج) تثنیه ۱۳: ۳

د) یوشع ۲۲: ۵

هـ) مرقوس ۱۲: ۳۰

و) یهوداه ۲۱

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱-الف) پلار ـ زامن

ب) مور ـ زامن

۲- کولای شئ چې خپلې خاصې کلمې او لفظونه ددې خالي ځایونو په ډکولو کې استعمال کړئ مګر ستاسو ځوابونه باید لاندې ذکر شوو صفتونو سره ورته والی ولري.

الف) قادر مطلق

ب) رحیم

ج) بخښونکې

د) هغه چې په ټولو شیانو عالم او د ټولو شیانو کتونکې دی

هـ) سپیڅلې او مقدس (قدوس)

۳ - ب) خدای سره مینه کوئ او دغه مینه او محبت په عملي توګه هغۀ ته ښکاره کړئ.

۴ – باید ټول آیتونه په نښه کړئ ځکه دا ټول ستاسو د لومړني مسئولیت نه چې د خدای پر وړاندې ئې لرئ خبرې کوي.

## دریم لوست

# انسان

د یوه مشهور مجسمه جوړونکي په هکله یوه قصه ده چې هغه به د لرګیو څخه مجسمې جوړولې. وایي چې یوه ورځ ئې د لرګیو څخه د یوه کوچني هلک مجسمه جوړه کړه. هغه په دومره ښکلی انداز سره جوړه شوې وه چې مجسمه جوړونکی ورباندې د «پینوکیو» نوم کیښود.هغه په دې کار سره چې ترسره کړی ؤ ډېر ویاړ کاوه خو هیڅ داسې د یوې لارې امکان نه ؤ چې دا د لرګیو جوړه شوې مجسمه دې هم په بدل کې هغه ته د خپلې مینې اظهار وکړي.

څه به شوي ؤ که چېرې مجسمه جوړونکي د دې د لرګیو جوړه شوې مجسمې په داخل کې د آواز ثبتولو سیستم ځای پرځای کړی وای؟ ښایې هغه کولای شول چې مجسمې ته په حرکت ورکولو سره د هغې نه دا جمله واوري چې «زه تا سره مینه لرم» خو آیا مجسمه جوړونکی د دې جملې په اوریدو سره راضی کیده؟ او آیا په ډېر شوق سره به یې داسې ویلی ؤ چې ګنې اوس دا د لرګیو جوړه شوې مجسمه له ما سره مینه لري؟ نه هیڅکله نه ولې چې دا جمله د باطني محبت د احساس کومه نتیجه نه وه چې د زړه له کومې را بهر شوې وای، بلکه یوازې او یوازې یو عبارتي آواز ؤ چې د لرګیو جوړه شوې مجسمې

کې ثبت شوی ؤ. هغې تر شا هيڅ کوم واقعی احساس نه ؤ موجود.

د داستان په اوږدو کې لولو چې د لرګيو جوړ شوی هلک په يوې طريقې سره سا واخيسته او ژوندی شو. هغه په فکر کولو قادر شو. کله چې هغه وئيل چې «زه تا سره مينه کوم» مجسمه جوړونکی به ډېر خوشحاله او احساساتي شو. اوس بايد وپوښتو چې ولې؟ ځکه چې هغۀ دا مجسمه نه وه مجبوره کړې چې داسې يو اظهار وکړي. بلکه دا هغه باطني محبت ؤ چې مجسمې د خپل صانع سره درلوده او په پوره مينه او د زړۀ له کومې يې دا اظهار کاوه.

مونږ پوهېږو چې دا فقط يوه افسانه ده. لاکن مونږ ته يوکوچنی تصوير راښيي چې مونږ په دې وپوهوي چې کله خدای انسان پيدا کړ څه احساس ئې درلوده. خدای انسان په ډېر ښکلي او ښائسته صورت سره پيدا کړ. او د ټولو څخه مهمه او د قدر وړ خبره دا ده چې انسان ته ئې اختيار ورکړ څو هغه په آزادې ارادې سره عمل وکړي. خدای انسان جوړکړ مګر نه د لرګيو څخه. خدای څرنګه انسان پيدا کړ؟ په هغه کې کوم صفتونه ځای پر ځای کړل؟ په تېر درس کې مو د خدای ځينی صفتونه ولوستل او ومو ليدل چې زمونږ کردار بايد د هغه په مقابل کې څرنګه وي. اوس دې مطلب ته فکر کوو چې خدای انسان څنګه پيدا کړ او کوم مسئوليتونه ئې د هغه په غاړه کيښودل؟

## هغه څه چې تاسو به ئې په دې لوست کې ولولئ

د انسان وضعیت په پیدا ایښت کې

د انسان وضعیت په اوسنۍ زمانه کې

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو...

- وپوهېږئ چې ولې، او څرنګه خدای انسان پیدا کړ.
- د ګناه ګار انسان وضعیت درک کړئ.

## د انسان وضعیت په پیدایښت کې

خدای یوه ښکلې دنیا چې د ونو، ګلونو او راز راز حیواناتو څخه ډکه ده پیدا کړه. مقدس کتاب وائي چې هغه څه چې خدای ولیدل خوشحاله شو. خو دا خلقت لا هم نیمګړی ؤ. ځکه د ځمکې په سر انسانان نه وو چې د دې ښکلا څخه یې خوند اخیستی وای او په هغې کې شریک او برخمند شوی وای. د پیدایښت کتاب ۱: ۲۶_ ۲۷ وائي چې: "خدای وویل: «انسان به د خپل ځان په شان جوړ کړو، ترڅو دمځکې پر حیواناتو، د سمندر پر ماهیانو او د هوا پر مرغانو حکومت وکړي.» نو په دې توګه خدای انسان د خپل ځان په شان پیداکړ.او انسان یې نر او ښځه پیدا کړ."

انسان د نورو مخلوقاتو څخه چې خدای هست کړي وو، خورا فرق درلود. ځکه انسان د خدای په صورت کې پیدا شوی ؤ. هغه ډېر یو شانداره مخلوق ؤ چې په خپل جسم او روح کې بشپړ او کامل ؤ. د دې پېښې نور تفصیلات او جزئیات د مقدس کتاب د پیدایښت په دوهم باب کې ګوروچې خدای

څنګه انسان د خاوری څخه جوړ کړ او بیا ئې د هغه په پوزه کې د ژوند روح جاري کړ او هغه ژوندی شو.

د ژوند نه وروسته، مسئولتونه منځ ته راغلل. انسان کولای شول چې د خپلې ارادې مطابق خپلې غوښتنی انتخاب کړي هغه کولای شول چې د ژوند په هره مرحله کې خدای ته لوئي او جلال وروبخښي. اشعیا ۴۳: ۷ د خدای خبري مونږ ته را یادوي چې ویلی وو: " هغوی زما قوم دي او هغوی مې د خپل عظمت او لوئۍ دپاره پیدا کړي دي." مقدس کتاب وائې چې خدای د مازدیګر په یخې هوا کې د انسان سره په هغه ښکلی باغ کې چې هغه پکښې ژوند کاوه، قدم واهه او خبرې ئې کولې. خدای هغه لومړني دوه مخلوقات یعنې آدم او حوا خپل دوستان ګڼل او خوښ ئې کړل. او د هغوی سره د ملګرتیا او شراکت غوښتونکی ؤ. لاکن خدای پوهېدۀ که چېرې آدم او حوا دا کار په زوره ترسره کړي او د انتخاب او ټاکنې حق ونلري نو دغه شراکت او ملګرتیا به نیمګړې وي.

څرنګه چې خدای د ارادې آزادي لري او انتخاب کې پوره ټولواک دی او انسان ئې د خپل ځان په څیر پیدا کړ، نو هغه ته ئې هم پوره ازادي ورکړه چې تصمیم ونیسي چې آیا دې ته چمتو دی چې دغه شان ښکلې او نه ماتېدونکې مشارکت او ملګرتیا ته دوام ورکړي؟ ښایي آدم او حوا غوښتل چې دا مشارکت او ملګرتیا دې په همدا توګه پاتې شي مګر د دې سره سره هغوی د نورو شیانو غوښتنه هم کوله. کیدای شي یوه ورځ هغوی داسې یوې مرحلې ته رسیدلي وای چې مجبوره وو خپل

تصمیم ونیسي چې د هر شي نه پورته کوم شی غواړي چې ولري.

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۱ـ د هرې صحیح جملې مخې ته د صحت علامه ولیکئ.

الف) انسان د خدای د جلال دپاره پیدا شویدی.

ب) خدای انسان دهیڅ نه هست کړیدی.

ج) د خدای نَفَس انسان ته د ژوند روح وربخښلی دی.

د) بشر په جسم، ځان او روح کې پوره پیدا شویدی.

ه) خدای بشر د ارادي او انتخاب دآزادۍ سره پیدا کړیدی.

۲) د مکاشفی ۴: ۱۱ آیت حفظ کړئ او بیا وروسته دالاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ.

"ای زمونږ مالکه خدایه! ته.......................او.....................

ځکه....................او.......................او....................

راغلل."

۳) د لاندینې جملې د پوره کولو دپاره د ورکړل شوي جملو څخه مناسبه جمله غوره کړئ.

انسان پیدا شو څو ..................................................

الف) د ظلم او جبر لاندې ژوند تېر کړي

ب) په زوره او جبري توګه د خدای خدمت وکړي

ج) خدای لره د عظمت او جلال ننبنه شي

## د انسان وضعيت په اوسنۍ زمانه کې

ځومره لويه خوشحالي به دخدای په زړه کې پيدا شي کله چې له خپلو مخلوقاتو سره رابطه قايمه کړي. آدم او حوا دا غوره کړه چې خپله اړيکه او مشارکت له خدای سره وشلوي.

په همدې توګه انسان د خپل کامل وضعيت څخه راپرېوتو. ځکه چې د هغه انتخاب غلط ؤ. هغه په ګناه ککړ شو. د روميانو د خط په ۵: ۱۹ کې داسې راغلي دي: " ځکه چې د يو سړي په نافرمانۍ ډېر ګناه ګار شول نو هم دغه شان د يو سړي په فرمانبردارۍ به ډېر صادق کړی شي."

د خدای عدالت نه شو کولای چې په ګناه باندې سترګې پټې کړي او هم خدای نشو کولای چې د لومړۍ خبرې په خلاف بله خبره وکړي او يا دروغ ووايي. هغۀ ويلي ؤ چې نافرماني کولای شي د دې سبب شي چې کامل انسان په يو فاني موجود باندې بدل کړي. نو له دې کبله آدم او حوا بايد هغه ښکلي جنت پريښې وای او د خدای د حضور څخه لرې شوي وای. د بشر وضعيت تر اوسه هم په ګناه ککړ دی په روميانو ۳: ۲۳ کې ويل شوي دي: " ځکه ټولو ګناه کړی ده او د خدای د لوئی نه محروم دي." انسان هيڅکله هم د انتخاب قدرت له لاسه نه دی

ورکړئ. غلط انتخابونه تراوسه هم خلک د خدای څخه لرې ساتلی دي.

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

د لاندنيو ورکړل شوو جملو څخه د ټولو نه ښه بشپړکوونکی ځواب په نښه کړئ.

۴ـ د صفنیا کتاب ۳: ۱۷ کې راغلی دي. کله چې د خدای سره مشارکت ولرو نو خدای،

الف) احساسوي چې دا هغه ټول څه دي چې کولای شئ سرته یې ورسوئ.

ب) سندرې وائي او ستاسو نه خوشحاله کیږي.

ج) پوهیږي چې زر به انسان یوځل بیا د هغه څخه نافرماني وکړي.

د) تاسو ته به نوی ژوندون وبخښي.

۵ـ د ایوب په کتاب ۸ : ۳ کې راغلی دی: ” خدای خپل کړه وړه او کردار نه بدلوي او نه هم انصاف ته تغیر ورکوي.“ د همدې خبرې په اساس خدای مجبور ؤ چې خپل شخصیت او خصوصیت ته وفادار پاتې شي او.................................

الف) انسان د صحیح او غلط دانتخاب کولو قدرت له لاسه ورکړو.

ب) ګناه ته په سزا ورکولو سره يې خپلې خبرې ته عملي بڼه ورکړه.

ج) آدم او حوا مجبوره شول چې د عدن د باغ څخه بهر شي.

د) خدای درک کړه چې آدم او حوا د هغه په لاربښونو او تعليماتو باندې صحيح نه وو پوهېدلي.

۲ـ د اوسنی انسان یو وضعیت ..............................

الف) د خدای نه لرې والی دی.

ب) په ګناه ککړ شوی طبیعت دی.

ج) دا دی چې د خپلو ګناهونو په مقابل کې کوم مسؤلیت نه لري.

## ✓ خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱ـ الف) انسان د خدای د جلال لپاره پیدا شوی دی.

ج) د خدای نَفَس انسان ته د ژوند روح وربخښلی دی.

د) بشر په جسم ځان او روح کې پوره پیدا شوی دی.

هـ) خدای بشر د ارادې او انتخاب د آزادئ سره پیدا کړی دی.

۲ـ د عزت، لويی، قدرت مالک يې، تا هرڅه پيدا کړي دي، دا ستا په مرضئ پیدا شول، په وجود کښې.

۳_ ج) خدای لره د عظمت او جلال ننبنه شي.

۴_ ب) سندرې وایي او ستاسو نه خوشحاله کېږي.

د) تاسو ته به نوی ژوندون وبخښي.

۵_ ب) ګناه ته په سزا ورکولو سره یې خپلې خبرې ته ئی عملي بڼه ورکړه.

ج) آدم او حوا مجبوره شول چې د عدن د باغ څخه بهر شی.

۶_ الف) د خدای نه لری والی دی.

ب) په ګناه ککړ شوی طبیعت دی.

ستاسو یادداشت

## څلورم لوست

# ګناه

راځئ چې دیوې شیبې لپاره داسې سوچ وکړو چې که چېرې ستاسو له دوستانو څخه یو تن تاسو ته دښائسته شیانو څخه ډکه یوه ماڼۍ درکړې وي او د هغې په مقابل کې له تاسو څخه یوه غوښتنه وکړي چې: «هیله کوم چې د برج د لوړې څوکې څخه ځان لاندې ونه غورځوې ځکه چې د مرګ د خطر سره به مخامخ شې.»

وروسته ستاسو یو دښمن دې ماڼۍ ته راشي او ووایي چې: «چا تاته وئیلي دي چې د برج څخه ټوپ ونه کړې؟ والوزه! دا ډېر ښه او خوندور احساس دی. ته به وپوهېږې چې الوتل څومره خوند لري. خپله ماڼۍ به هم د مختلفو اړخونو څخه ووینې. هیڅ فکر مه کوه. کله چې په ځمکه راپریوتې څه به درپېښ نشي؟ فقط دې ته پام وکړه چې کله د هوا څخه ښکته راکوزېږې، د کومو نوی شیانو تجربه کوې.»

نو آیا ددې خبرې په اورېدو سره به سمدلاسه د برج سر ته منډه کړئ او لاندې به ټوپ کړئ؟ البته چې نه. دا ډېره د احماقت خبره ده چې سړی دې پر خپل دښمن اعتبار وکړي او د هغه د خبرو په مطابق دې عمل وکړي.

آدم او حوا ته همدا پیښن شول. خدای هغوی په ښائسته بڼ کې ځای پرځای او هغوی ته ئې د «اشرف المخلوقات» لقب ورکړی ؤ. هغوی ته یې دا اجازت هم ورکړی ؤ چې د بڼ د د ټولو ونو څخه مېوه وخوري مګر د یوې ونې د مېوې څخه منع کړای شوي وو.

څه موده پس د هغوی سر سخت دښمن یعنې شیطان پیدا شو او هغوی ته ئې وویل چې بغیر د څه تشویش نه د نومو ړې ونې د میوی څخه وخوري او هغوی ته به هیڅ کوم نقصان ونه رسیږي. آدم او حوا د دې پر ځای چې د خدای په خبره اعتبار وکړي د دښمن په خبره ئې باور وکړ اودا یو ډېر احمقانه عمل ؤ چې هغوی ترسره کړ.

لکه څنګه مو چې په تېر درس کې ولوستل چې انسان پاک او کامل پیدا شو مګر د هغهٔ د نافرمانۍ په وجه، ګناه د هغهٔ ژوند ته لاره و موندله. ګنا څه ده او څنګه هغه تعریفولای شو؟ آیا د آدم په وسیله ګناه دې نړۍ ته داخله شوه؟ دګناه سزاڅه ده؟ آیا هغه نه د خلاصون او تېښتې لاره شته؟

د مقدس کتاب آیتونه به د دې لوست په لړ کې مونږ ته د دې پوښتنو ځوابونه راکړي.

## هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولئ.

د ګناه تعريف

د ګناه منشاء

د ګناه لپاره د حل لاره

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو ...

- د ګناه ماهيت او نتايج تشريح کړئ.
- د عيسى مسيح د کار د ارزښت په هکله پوه شئ چې د ګناه د له منځه وړلو په خاطر يې ترسره کړي دی.

## د ګـناه تعريف

ګناه يعنى د خداى نافرماني، ګناه يعنى دا چې خداى ته ووايو: «زه له تا څخه ډېر مهمه يم. زه ستا کلام نه منم.» ګناه يعنى سرغړونه.

ممکن ووايئ چې: «هيڅوک دا حق نه لرى چې ما محدود کړي. هر څه مې چې زړه غوښتي وي هغه تر سره کوم.» خداى مونږ په يو دليل د محدوديتونو لاندې راوستي يو او هغه زمونږ خيرخواهي او سوکالي ده. د مثال په توګه خداى په دې پوهېږي چې نفرت او بدخويي د سر د سخت درد سبب ګرځي، او د غچ اخيستلو شوق په معده کې زخم پيدا کوي. دغه کردارونه نورو ته هم نقصان رسوي. خداى د خپلو ټاکلو قوانينو په جاري کولو

او په مونږ د محدودیتونو د ایښودلو په واسطه زمونږ د تحفظ ضمانت کوي او خپله مینه مونږ ته څرګندوي.

که چېرې د دې محدودیتونو څخه یو ګام هم بهر کېدو نو ګناهګار یږو. د اول یوحنا په ۳: ۴ کې لیکل شوي دي: ''هر څوک چې ګناه کوی، هغه نافرمانی کوی، ګناه خو نافرمانی کول ده.''

نو بیا هر هغه څه چې خپل ځان او نورو ته ضرر نه رسوي آیا هغه صحیح او لازمی ده چې تر سره شي؟ نه دا خبره صحیح نه ده. دا یوازی قانوني شیان دي چې د هغو محدودیتونو په منځ کې کوم چې خدای مونږ دپاره مقرر کړی دي، ځای نیولی شي.

ممکن فکر وکړو چې د یو کار سرته رسول نه مونږ ته او نه کوم بل کس ته صدمه رسوي. ولې د دې امکان ډېر زیات دی چې مونږ په خپل قضاوت کې اشتباه کړې وي. د مثال په توګه ځینې میندې او پلرونو سره دا فکر وو چې د خپل اولادونو داصلاح او تربیې په خاطر دا لازمي نه ده چې د خدای پر قوانینو دې عمل وکړای شي. ځکه امکان لري چې هغوی مایوسه او زړه رټلي شي او د هغوی څخه سرکشي اختیار کړي. مګر په دې وروستیو کې یوه مقاله په یوې مجلې کې خپره شوه چې په دې یې ټینګار کاوه: «اوس د دې وخت رارسیدلی دی چې خپل بچي وروزو.» د انسان عقیده د بدلون او تغییر په حالت کې ده. تر یوې مودې پورې ګومان کوي چې فلان شی مونږ ته کوم نقصان نه رسوي مګر وروسته بیا وایي چې هو رسوي یې. یواځینی لاره چې کولای شو په پوره ډاډمندۍ سره

غوره کړو، د هغو قوانينو درناوی او اطاعت دی چې د خدای له خوا مونږ ته راکړل شوي دي. دا مهمه نه ده چې په دليل ئې وپوهېږو او که ونه پوهېږو.

## هغه څه چې تاسو ئې بايد سرته ورسوئ

د دې لاندنيو تمرينونو لپاره مناسب بشپړکونکی ځواب په نښه کړئ.

۱_ ګناه

الف) هرهغه شی دی چې تاسو احساسوئ هغه اشتباه ده.

ب) هر هغه شی دی چې نور ئې تاسو ته وائي چې دا غلطي او اشتباه ده.

ج) په غفلت او غلطۍ سره د يو ناسم کار سرته رسول دي.

د) د خدای د قوانينو څخه سرغړونه او نافرماني ده.

۲– خدای د انسان په کړو وړو کې څه محدوديتونه وضع کړل ځکه،

الف) غوښتل يې چې آدم او حوا نااُميده کړي.

ب) نه غوارې چې انسان دې د خپل ژوند نه خوند واخلي او يا آزاده وي.

ج) انسان سره يې مينه ده او د هغه د بهترۍ او ښه والي غوښتونکی دی.

۳– دهغو محدودیتونو څخه تېرى او خلاف رفتاري چې د خداى له خوا مقرر شوي دي،

الف) که چېرې چاته ضرر ونه رسوى صحیح کار دى.

ب) ترڅو چې ترې غافله شوي نه یو کومه ستونزه نه لري.

ج) کله کله د ستونزو او مشکلاتو نه د خلاصیدو په خاطر لاژمي دي.

د) هیڅکله باید صورت ونه نیسي.

## د ګـناه منشاء

شیطان د انسان په زړه کې وسوسه واچوله چې ګناه وکړي او هغه دې وسوسې ته غاړه کېښوده. اول یوحنا ۳: ۸ وائی: "هرڅوک چې ګناه کوی، هغه د ابلیس بچی دی ځکه چې ابلیس له ازل نه په ګناه کولو کې آخته دی. او د خداى زوی له ازل نه ځکه ښکاره شو چې د ابلیس کارونه برباد کړي." همدا شیطان وه چې د لومړی ځل لپاره یې ګناه دې دنیا ته راوسته. خو دا په دې معنی نه ده چې انسان د هغې ګناه نه چې یې ترسره کړی ؤ مبرا کړاى شي. بلکه انسان هم مسئول ؤ. آدم دا مجبوریت نه درلود چې د شیطان وسوسې ته تسلیم شي او ورته غاړه کېږدي. ځکه مونږ پوهېږو چې خداى انسان د وسوسی لاندې نه راولي. د یعقوب په خط ۱: ۱۳ – ۱۴ کې داسې لولو: "هر کله چې څوک و آزمئیلی شی نو دا دِ ونهٔ وائي چې " په ما دا آزمیښت د خداى د طرفه ؤ،" ځکه چې نه خو خداى په بدئ

آزمئیلی شی او نه خدای څوک آزمئی. په حقیقت کې هر سړی هغه وخت آزمئیلی شی کله چې د هغه خپل بد خواهش په دوکه ورکولو هغه ونښلوی."

وسوسه کېدل کومه ګناه نه ده. حتی عیسی مسیح هم د شیطان له خوا وسوسه شوی ؤ. مګر وسوسې ته تسلیمېدل یا غاړه ایښودل ګناه ده. که چېرې آدم وسوسې ته غاړه نه وای ایښې اوس به مو څه عجیبه او ښکلی ژوندون درلود.

کله چې انسان ګناه وکړه نو څه پېښ شول؟ خدای فرمایلي ؤ که چېرې نافرماني وکړئ نو مړه به شئ. د مرګ د هغه مفهوم په مطابق چې مونږ پرې پوهېږو، انسان سمدستی مړ نشو بلکه په یو فانی موجود بدل شو. مرګ د هغه په جسم ځان او روح کې کار پیل کړ. "د یو سړی په وسیله ګناه دنیا ته راغله او د ګناه په وسیله مرګ . او دغه شان مرګ په ټول انسانی نسل قبضه وکړله تر دې چې ټولو بنی آدمو ګناه وکړله."
(رومیان ۵ : ۱۲)
"ځکه چې ټولو ګناه کړې ده او د خدای د لوئی نه محروم دي." (رومیان ۳: ۲۳)

نن هم د ګناه سزا هغه سزا ده کوم چې په آدم او حوا ته ورکړل شوې وه، یعنی مرګ. رومیان ۵: ۱۲ هغه په دی شکل سره بیانوي چې: "مرګ په ټول انسانی نسل قبضه وکړله."

همدارنګه د رومیانو په ۲: ۲۳ کې لولو چې:"ځکه چې د ګناه بدل مرګ دی."

خو ګناهکاران هم د ګناه د کولو په وخت سمدستی نه مري. حتی چې بعضی وختو کښې دا فکر کېږي چې هغوی نور هم هوسا ژوند کوي. مګر په دې حالت کې هم مرګ په هغوی کې کار کوي او آخر نه يوازی په جسمی مرګ مړه کېږي بلکه د روحي له لحاظه هم مړه کېږي. چې هغه د خدای څخه ابدی لرې والی دی.

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

د لاندينو سوالونو د حل د پاره صحيح ځوابونه په نښه کړئ.

۴_ ګناه ..............................................................

الف) د شيطان په وسيله چې د ازل نه ګناه ګار ؤ، دې دنيا ته راغله.

ب) د شيطان وسوسې ته د آدم د تسليمېدو له وجې دې دنيا ته راغله.

ج) د خدای نه دآدم د نافرمانۍ په وجه دې دنيا ته راغله.

۵– له هغې راهيسې چې ګناه دې دنيا ته راغلې ده،

الف) شيطان نور خلک نه وسوسه کوي.

ب) ټول ګناه ګاران دي او کيدائ شي چې تر وسوسې لاندې راشي.

ج) له ځان سره ئې هم روحانی او هم جسمانی مرګ راوړ.

## د گناه لپاره د حل لاره

آیا هغه داستان چې د لوست په پیل کې مو ولوست، په یاد مو دی؟ که چېرې یو کس د لوړ برج څخه یی ځان لاندې وغورزوي کیدای شي چې مړ شي. مگر که چېرې د هغه یو ښه ملگرئ هلته چېرې نږدې موجود وي او په ډېرې تېزۍ سره د برج لاندې ورته ځولۍ ونیسي نو څه به وشي؟ که چېرې ټوپ وهونکی په دی ځولۍ کې پریوزی نو هغه به بچ شي یعنې ځان به یې وژغورل شي.

خدای د گناه د مجازاتو څخه چې د روحاني مرگ او د خدای له حضور نه د ابدی بیلتون سبب گرځي، د تېښتې او خلاصون لاره خلاصه پریښې ده . چې دغه د خلاصون او تېښتې لار هغه وخت مونږ ته پرانستل کېږي چې عیسی مسیح دخپل خلاصونکې یا منجی په توگه ومنو. په راتلونکې لوست کې به وگورو چې څنگه کولای شو د مجازاتو څخه تېښته وکړو. اوس دا به ښه وي چې هغه دوه آیتونه په خپل ذهن کې وساتو چې مونږ ته دا ښیي چې څنگه کولای شو د گناه د مجازاتو څخه تېښته وکړو.

"خو خدائ خپله مینه مونږ ته داسی ښکاره کړه ،کله چې مونږ لاگناه گار وو نو مسیح زمونږ دپاره مړ شو."
(رومیان ۵: ۸)

"کۀ مونږ د خپلو گناهونو اقرار کوو نو هغه وفادار او صادق دی، او هغه به زمونږ گناهونه معاف کړی او د هر قسم بدو نه به مو پاک کړی." (اول یوحنا ۱: ۹ )

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۶_ اول یوحنا ۴: ۹ – ۱۰ ولولئ او بیا خالي ځایونه ډک کړئ.

او د هغه مینه مونږ ته په دی شان..................شوه چې هغه دې دنیاته خپل..................د دې دپاره راولیږلو چې مونږ د ..................په وسیله..................ولرو. مینه په دې کښې نۀ ده چې مونږله .................. سره مینه وکړله بلکه په دی کښې ده چې هغۀ زمونږ سره.................. وکړله،او زمونږ د ګناهونو د.................. دپاره یی خپل زوی راولیږلو.

۷_ لاندینی جمله پوره کړئ.

یو ګناه ګار یوازې هغه وخت کولای شی د ګناه د جزا څخه ځان وژغوری چې ..................

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱_ د) د خدای د قوانینو څخه سرغړونه او نافرمانی ده.

۲_ ج) انسان سره یی مینه ده او د هغه د بهتری او ښه والي غوښتونکی دی.

۳_ د) هیڅکله باید صورت ونه نیسي.

۴_ الف) د شیطان په وسیله چې د ازل نه ګناه ګار ۋ دې دنیا ته راغله.

ب) د شیطان وسوسې ته د آدم د تسلیمېدو له وجې دې دنیا ته راغله.

ج) د خدای نه دآدم د نافرمانۍ په وجه دې دنیا ته راغله.

**۵**ـ ب) ټول ګناه ګاران دي او کیدائ شی چې تر وسوسې لاندې راشي.

ج) له ځان سره ئی هم روحانی او هم جسمانی مرګ راوړ.

**۶**ـ دا کلیمات دا دي:

ښکاره ـ یکی یو زوی ـ هغه ـ ژوندون ـ خدای ـ مینه ـ کفارې

**۷**ـ عیسی مسیح د خپل خلاصونکی په توګه ومني.

---

ستاسو یادداشت

---

## پنځم لوست

# عیسی مسیح

نوي ملګري مې وويل: «هو، دا ښکاره ده چې زه په عيسی مسيح باندی ایمان لرم. هغه يو ستر پيغمبر ؤ. داسې يو شخصيت ؤ چې خدای رااستولی ؤ او زیاتی لارښونې او تعليمات يی ورکړۀ چې باید د هغې نه پيروي وکړو.»

ما ورته وويل: «هو ډېره ښه ده خو دومره کفايت نه کوي. ته باید هغه يوازې د يو پيغمبر په صفت نه بلکه د خدای په صفت هم وپېژنې. ته باید هغه ته د يو ا لهی شخصيت لرونکي او د ژغورونکي په سترګه وګورې.»

د دې خبرې منل زما دوست ته ګرانه وه. هغه د عيسی مسيح په باره کې ډېر څه مطالعه کړي ؤ. مګر هيڅکله يې د هغه سره خپله رابطه، د خدای د کلام په ويلو او يا هغه ته د دعا کولو په وسيله نه وه ټينګه کړې.

هغه ته د دې خبری منل هم ډېره سخته وه چې ګنې ټول انسانان ګناه ګاره دي (لکه څنګه چې مو په څلورم لوست کی وليدل) او يا د ګناه څخه د خلاصون او تېښتې لاره هم وجود لري.

په هغه ورځ یې زما څخه ډېر سوالونه وکړل. عیسی څوک دی؟ هغه څنګه کولای شي چې په عین وخت کې هم خدای وي او هم انسان؟

که چېرې هغه مړ شوی دی نو بیا ولې مسیحیان وایي چې هغه ژوندی دی؟ هغه اوس څه کوي؟

د دې سوالونو له پاره د ټولو نه ښه ځوابونه مې په مقدس کتاب کې د خدای د خبرو څخه لاس ته راوړل. په دې لوست کې په همدې سوالونو نظر اچوو او هغه ځوابونه چې زما دوست غوښتل پرې وپوهېږي، تر څېړنې لاندې نیسو.

## هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولئ.

د عیسی مسیح شخصیت

د عیسی مسیح هدف

د عیسی مسیح بیا راتګ

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو ...

- دا وضاحت وشئ کړئ چې عیسی مسیح څوک دی.
- د هغهٔ د لومړني راتګ او بیا راتلو هدف درک کړی.

## د عیسی مسیح شخصیت

عیسی مسیح انسان ته د نه لیدونکي خدای ښکاره تجسم دی. د هغه جُسه کېدل او انساني شکل غوره کول د دې دپاره ؤ تر څو مونږ وشو کړای هغه ډېر ښه وپېژنو او د هغه د ژغورونکي نقشې څخه چې زمونږ دپاره یې کښلې ده ځانونه خبر کړو. دا انتخاب چې هغه انساني بڼه ځانله اختیار کړه په دې معنی وه چې د عیسی شخصیت دوه طبیعته درلودل یعنې یو انسانی او بل ا لهی طبیعت. په رومیانو ۱: ۳ _۴ کې داسې راغلي دي: "د هغه د زوی، زمونږ د مالک عیسی مسیح په حقله، چې په انسانی طور د داود په نسل کې پیدا شو، خو د قدوسیت د روح په مطابق له مړو نه د بیا ژوندی کیدو په وسیله هغه په قدرت سره د خدای زوی اظهار شو، یعنی زمونږ مالک عیسی مسیح."

د دې لپاره چې هغه انسانی طبیعت درلوده نو د مریم نومې یوې پېغلې څخه وزېږېد. "بیا فرښتی هغې ته وویل چې: «مریمې! ویریږه مه! خدای په تا مهربانه شوی دی. ته به امیدواره شی او یو زوی به دې وشي،او ته به د هغه نوم عیسی کېږدی. هغه به لوی وی او هغه به د الاعلی زوی وبللی شی. مالک خدای به هغه ته د نیکه داود تخت ورکړی. هغه به د تل دپاره د یعقوب په خاندان بادشاهی کوی او بادشاهی به ئې هیڅکله نه ختمیږی.»" (لوقا ۱: ۳۰ – ۳۳)

" نو کلام جسه شو او هغه زمونږ سره اوسیدو او مونږ د هغه لوئی ولیده، داسې لوئی لکه چې د پلار د یو زوی چې په فضل او حقیقت معمور وی." (یوحنا ۱: ۱۴)

دغه پلار چې د یوحنا ۱: ۱۴ کې د هغه ذکر شویدی څوک دی؟ خدای د عیسی پلار دی. په دویم پطروس ۱: ۱۷ کې راغلي دي: " چې هغه د خدای پلار نه هغه وخت عزت او جلال ومونډو کله چې هغه ته د هغه غوره جلال نه آواز راغی چې: «دا زما محبوب زوی دی چې زه ترې راضی یم.»"

د عیسی مسیح نوم هم د هغه د الوهیت څخه خبرې کوي. کله چې فرښتې وویل چې د هغه نوم به عیسی وی، یو خاص دلیل ئې درلود. عیسی یعنی «ژغورونکې» متی ۱: ۲۱ وائي: "د هغې به زوی وشي او ته پرې عیسی نوم کیږده، ولې چې هغه به خپل امت د ګناهونو نه خلاصوی."

د «مسیح» نوم هم یوه خاصه او ځانګړې معنی لري. مسیح یعنی «مسح شوی». پخوا دا دستور ؤ چې کله به یو تن د پادشاهی لپاره ټاکل کیده د هغه په سر به یی تیل واړول. چې دغه عمل یعنی په سر تیل اړول د «مسحه کېدلو» په نامه یادیده. مالک ته د «مسیح» یا «مسح شوی» اطلاق د هغه د بادشاهی ښکارندوی دی. مسیح هغه نوم ؤ چې یهودو هغه پادشاه او خلاصونکي ته خاص کړی وو او د هغه د راتګ په انتظار کښې وو.

شمعون پطروس عیسی د پادشاه په حیث پېژنده چې ویلی: " ته د ژوندی خدای زوی مسیح یی." ( متی ۱۶: ۱۶)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۱ـ په ښی طرف کې د عیسی مسیح صفتونه لیکل شویدي. د چپ طرف د ورکړ شوی متن حوالی د مقدس کتاب څخه پیدا او مطالعه ئې کړئ. وروسته بیا د هر یو متن مخامخ د صحیح صفت شماره ولیکئ.

| | |
|---|---|
| ۱- خدای د هغه پلار دی | ...الف) فیلیپیان ۲ : ۷ |
| ۲- د ښځې نه وزیږیدو | ...ب) یوحنا ۱۰ : ۱۷ |
| ۳- ژغورونکی دی | ...ج) فیلیپیان ۲ : ۲ |
| ۴- زمونږ په شان شو | ...د) ګلتیان ۴ : ۴ |
| ۵- هغه الهی دی او د خدای طبیعت لري. | هـ...) اعمال ۴ : ۱۲ |

## د عیسی مسیح هدف

عیسی دې دنیا ته راغی ترڅو انسانانو ته د ګناه د شر څخه خلاصون ورکړي. لوقا په خپل انجیل ۱۹ : ۱۰ کې وائي: "او ابن آدم دې له راغلی دی چې ورک شوی ولټوی او بچ ئې کړي."

فقط یوه لاره موجوده وه چې کولای شول مونږ ته خلاصون راکړي او هغه د مسیح د ځان قرباني وه. "ځکه چې ابن آدم هم د دې دپاره نه دی راغلی چې خدمت واخلی بلکه د دې دپاره

راغلی دی چې دی د نورو خدمت وکړي او چې خپل ژوندون د ډېرو په بدل کې په فدیه ورکړي.“ (مرقوس ۱۰: **۴۵**)

ژغورنه یعنی آزادول، مرسته او خلاصون ورکول دي. دا هغه لوړه او فوق العاده ژمنه ده چې د ټول بشریت سره شوې ده. مګر عیسی څه مجبوریت درلود چې زموږ د آزادی لپاره خپل ځان قربان کړي؟ که چېرې د آدم او د حوا قصه په یاد راوړو نو ګورو چې، خدای هغوی ته ویلی ؤ چې ګناه د مرګ سبب ګرځي او دا له یو بل سره لازم او ملزوم دي. خدای نشي کولای چې د هغه فیصلې پر خلاف چې په خپله ئې د ګناه په هکله کړې وه، عمل وکړي. نو اوس که چېرې یو سړی ګناه وکړي باید هرومرو مړ شي. په همدې وجه عیسی مسیح دنیا ته راغی تر څو د ګناه ګار پر ځای مړ شی. هیچا هم دا کار نشو کولای یواځی همدا عیسی ؤ چې په مرګ باندې بریالی شو.

سره د دې هم دا دومره آسان کار نه ؤ، حتی زموږ مالک ته هم. هغه څوک چې په تخت ناست ؤ او فرښتی ئې په فرمان کې وې، هغه چا چې ځمکه او آسمان او انسان ئې پیدا کړ. هم هغه کس خادم شو. خپلو مخلوقاتو ته ئې اجازه ورکړه چې هغه ته نقصان ورسوی، سپک ئې کړیاو د ګولګتا په غونډۍ یې د سولۍ کولو لپاره وخیژوي تر څو هغوی خلاصون ومومی.

په اول پطروس ۱: ۱۸ – ۱۹ کې داسې لولو: ”ځکه چې تاسو خبر یې چې ستاسو فضول چال چلن چې د پلار نیکه نه مو موندلی دی د هغې نه ستاسو خلاصون د فانی څیزونو، یعنی

سرو یا سپینو زرو په وسیله ونه شو، بلکه د یو روغ رمټ او بې داغه ګډوری، یعنې د مسیح د قیمتی وینی په وسیله.“

آیا له کله نه چې عیسی مسیح د ټولو انسانانو لپاره مړ شو، هغوی خلاصون وموند؟ نه، هیڅکله خدای د انسانانو څخه د ارادې د آزادۍ واک نه اخلي. هر څوک تر اوسه هم دا اختیار لري چې خپل تصمیم ونیسي. هغه باید عیسی مسیح د خپل ژغورونکي په حیث ومنی. تر څو خلاصون ومومی. عیسی خپلو پیروانو ته داسې وویل:

”...د تمامې دنیا هرې سیمې ته لاړ شئ او زما د زیرې وعظ ټول مخلوق ته وکړئ. هر څوک چې په دې ایمان راوړی او بپتسمه واخلی نو هغه به خلاصون بیامومی، او هر څوک چې پرې ایمان را نهٔ وړی هغه به مجرم شی.“
(مرقوس ۱۶: ۱۵ – ۱۶)

” خدای د دې دنیا سره داسې مینه وکړله چې خپل یکې یو زوی ئې هم ورکړو چې هر هغه څوک چې په زوی ئې ایمان راوړی هغه هلاک نه شی خو د تل عمری ژوندون بیا مومی. خدای خپل زوی دنیا ته د دنیا د مجرم کولو د پاره نه دی رالیږلی بلکه د دې دپاره چې د هغه په وسیله دنیا خلاصون بیامومی.“ (یوحنا ۳: ۱۶ – ۱۸)

عیسی زمونږ دپاره مړ شو. خو سره ددې هم که چېرې د هغه بدن په قبر کې پاتې شوی وای، نو د انسانانو دپاره به د خلاصون هیڅ قسم امید نه ؤ پاتې.

د ډېرو نورو مذاهبو پیروان د خپلو دیني لارښوونکو قبرونه په زیارتونو بدل کړي دي. چې د دې قبرونو په د ننه کې د سپېڅلو شخصیتونو هډوکې پراته دي. مګر د عیسی قبر خالي دی کله چې دهغه د سولۍ کېدو څخه دری ورځی تېرې شوې وې یوه معجزه پېښه شوه. عیسی د مړو څخه راپورته شو او د هغه د بیا ژوندی کیدو نه وروسته ډېرو کسانو هغه په خپلو سترګو ولید.

"او ښخ شو او د کتاب مقدس په مطابق په دریمه ورځ بیا ژوندی پاڅیدلو. او هغه پطروس ته ښکاره شو او د هغهٔ نه پس هغه دولسو کسانو ته. او بیا وروښو ته چې د پنځو سوو نه زیات وو یو ځل ښکاره شو چې په هغوی کې زیات کسان تر اوسه ژوندی دي او ځنې مړه دي. بیا یعقوب ته ښکاره شو او د دې نه پس ټولو رسولانو ته. او په آخر کې ما ته ښکاره شو. دا داسې وه لکه بې نیټې زیږیدلی." (اول کورنتیان ۱۵: ۴-۸)

د عیسی د مړو نه راپاڅېدل او بېرته ژوندي کېدل د دې شهادت دی چې هغه د خدای زوی دی. رومیان ۱: ۴ وائی: "خو د قدوسیت د روح په مطابق له مړو نه د بیا ژوندی کیدو په وسیله هغه په قدرت سره د خدای زوی اظهار شو، یعنی زمونږ مالک عیسی مسیح."

وروسته د هغې نه چې ځان ئې ډېر کسانو ته ښکاره او هغوی ئې تشویق کړل، مسیح بیرته آسمان ته پورته شو. دغه کار هم د خلکو د سترګو څخه پټ نه ؤ ځکه د هغهٔ مریدان د هغهٔ د پورته کیدو پر وخت حاضر وو.

"بیا عیسی هغوی بهر د بیت عنیاه پورې بوتلل او لاسونه ئې اوچت کړل او هغوی له ئې برکت ورکړ. او داسې وشو چې په برکت ورکولو هغه د هغوی نه جدا شو او آسمان ته پورته کړې شو." (لوقا ۲۴: ۵۰ – ۵۱)

اوس عیسی څه کوي؟ کله چې پورته شو د خدای پلار ښي لاس ته چې همدا یې ځای ؤ، کښېناست او د پلار سره زمونږ د ضرورتونو او اړتیاوو په هکله خبرې کوي.

راځئ چې په دغه دریو آیتونو نظر واچوو چې مونږ ته ښیي چې عیسی اوس په کوم کار بوخت دی.

" اوس چې کومې خبرې مونږ کوو په هغوی کښې د ټولو نه لویه خبره دا ده چې زمونږ یو داسې مشر کاهن دی څوک چې په آسمانونو کې د قادر مطلق خدای د تخت ښي لاس ته کښېناستو." (عبرانیان ۸: ۱)

"زما بچو! د دغو خبرو د لیکلو نه زما مطلب دا دی چې تاسو ګناه مه کوئ خو که چېرې څوک ګناه وکړي نو د پلار سره زمونږ یو شفاعت کوونکی دی، یعنی عیسی مسیح چې صادق دی." (اول یوحنا ۲: ۱)

"د دې دپاره چې څوک د ده په وسیله خدای ته راځي هغه هغوی ته پوره پوره خلاصون ورکولی شي ځکه چې هغه د هغوی د شفاعت دپاره همېشه ژوندی دی." (عبرانیان ۷: ۲۵)

څومره لویه خبره ده چې په دې وپوهېږو چې دا خلاصون زمونږ لپاره ډېر په لوړه بیه ترلاسه شوی دی او په دې وپوهېږو

چې په سولۍ (صليب) باندې د مرګ څخه وروسته، په قبر کې، په بيا ژوندی کېدو او آسمان ته پورته کېدو کې او حتی د پلار سره د کښېناستو په وخت کې هم، هغۀ مونږ له هېره نه يو ايستلي. هغه همېشه مونږ سره مينه کوی. او کله چې ترې وغواړو مونږ سره مرستې ته چمتو دی.

## هغه څه چې تاسو ئې بايد سرته ورسوئ

۲ـ د مکمل کونکې مناسبی جملې مخې ته نښه وکړئ.

عيسی مسيح په سولۍ شو تر څو چې........................

الف) مونږ آزاد کړي.

ب) هغه مرګ چې مونږ يی لائق وو پر خپل ځان ومني.

ج) د هر چا لپاره چې هغه د خپل خلاصونکې په توګه مني او پري ايمان راوړي هغۀ ته خلاصون او ابدي ژوند وبخښي.

۳ـ لوقا ۲۴: ۴۲ - ۴۷ ولولئ .۴۲ تم آيت د عيسی د سولۍ کولو او بيا راژوندی کيدو خبره کوي. ۴۷ تم آيت د هغې دليل تشريح کوي: هغه دليل چې ۴۷ تم آيات ئې وړاندې کوي څه دي؟

۴ـ صحيح ځواب په ګوته کړئ:

عيسی مسيح اوس څه دنده ترسره کوي؟

الف) خپل ځان د خدای نور مخلوق ته ښکاره کوي.

ب) د پلار سره زمونږ د احتیاجاتو په هکله خبری کوي.

ج) تصمیم نیسي چې څوک دې ابدي ژوند ولري او څوک دې ونه لري.

## د عیسی مسیح بیا راتګ

عیسی مسیح به یوځل بیا دې دنیا ته راځي چې مونږ ورته د هغه دویم راتګ وایو. مقدس کتاب وائی د دې پېښې څخه وړاندې به د هغه کلیسا (ټول هغه کسان چې په هغه باور او ایمان لري) پورته کړای شي څو په هوا کې د هغه هرکلی وکړي. چې دغی پېښی ته د «پورته تګ» نوم ورکړل شویدی. د پورته تللو څخه څه موده پس هغه به بیا دنیا ته راکوزشي څو خپله پادشاهي برقراره کړي.

ایمانداران په دې خاطر پورته تګ ته سترګې په لاره دي چې هغې نه وروسته به د عیسی مسیح سره یوځای وي او خپل هغه اجر چې د ابدي ژوندون څخه عبارت دی، تر لاسه کړي.

اعمال د رسولانو په ۱: ۱۱ کښې داسې راغلی دي: "دغه عیسی څوک چې ستاسو نه آسمان ته بوتلی شو، هم په دغه لار به بیا راځی په کومه چې تاسو د تلو په وخت ولیدلو."

همدا شان په اول تسالونیکیان ۴: ۱۲ - ۱۷ داسې وئیل شوي دي: "ځکه چې مالک به په خپله د آسمان نه د چغې، او د مقربی فرښتی د آواز، او د خدای د بګل د آواز سره را

کوزيږي، او اول به هغه څوک چې په مسيح کې مړه شوی دي را ژوندی شی. او بيا به مونږ څوک چې ژوندی پاتی يو، د هغوی سره په وريځو کښې پورته کړی شو د دې دپاره چې په هوا کې د مالک استقبال وکړو، او دغه شان به د مالک سره تل ترتله اوسو."

د پورته تګ او نورو راتلونکو واقعياتو په هکله به په لسم لوست کې مفصلې خبرې وکړو.

## هغه څه چې تاسو ئې بايد سرته ورسوئ

**۵** – د لاندينې هرې صحيح جملې پر وړاندې نښه ورکړئ.

الف) عيسى به د دوهم ځل لپاره بيا ځمکې ته راشی.

ب) د مسيح دوهم ځل راتګ، د هغه هم هغه «پورته تګ» دی.

ج) د عيسى مځکنۍ پادشاهی به د هغه د پورته تګ پر وخت برقراره شي.

د) ټول هغه کسان چې په عيسى يی ايمان راوړی وي په هوا کې به د هغه هرکلۍ وکړي.

۶_اول تسالونيکيان ۴: ۱۲ – ۱۷ يوځل بيا ولولئ او کم تر کمه هغه پنځه پيښې چې د پورته تګ په وخت کې واقع کيږي وليکئ.

الف) ..........................

ب) ..........................

ج) ..........................

د) ..........................

هـ) ..........................

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ـ الف) ۴ـ زمونږ په شان شو.

ب) ۱ـ خدای د هغه پلار دی.

ج ) ۵ـ هغه الهی دی او د خدای طبیعت لري.

د) ۲ ـ د ښځی نه وزیږیدو.

هـ) ۳ـ ژغورونکی دی.

۲ـ ټول ځوابونه صحیح او مکمل کوونکي دي.

۳ـ د هغه په نامه به ټولو قومونو ته د ګناهونو نه د توبې او د معافئ وعظ کولای شي.

۴ـ ب) د پلار سره زمونږ د احتیاجاتو په باره کې خبری کوي.

۵ ـ الف) عیسی به د دوهم ځل لپاره بیا ځمکې ته راشی.

د) ټول هغه کسان چې په عیسی یې ایمان راوړی وي، په هوا کې به د هغه هرکلی وکړي.

۲ ـ ستاسی ځوابونه باید دا وی:

الف) آسمان نه د چغې آواز.

ب) د خدای د (بګل) شپیلۍ آواز.

ج) د خدای راکوزیدل.

د) د مړو ایماندانو ژوندی کېدل.

ه) د ژوندی ایماندارانو پورته تګ.

و) په هوا کې د مالک استقبال.

ذ) د مالک سره تر تر تله اوسیدل.

## شپږم لوست

# خلاصون

کله چې یوې ۹۵ کلنی زړی ښځی چې آملیا نومیده ماته قیصه کوله چې څنګه یې عیسی مسیح د خپل خلاصونکې په صفت قبول کړی دی، ما د هغې په کوچني کور کې ژوند کاوه.

ډېر کلونه مخکې هغه د کلیسا د دروازې څنګ ته ولاړه وه او د ننوتلو څخه یې وېره درلوده. د وعظ کونکې آواز به یې د کلیسا د ودانۍ نه بهر اوریدلو چې ویل ئې: «عیسی ستاسو خلاصونکی دی. هغه به تاسو ته د ګناهونو څخه خلاصون درکړي. کله چې محتاجه یئ نو د هغه نوم یاد کړئ.»

په هم هغه ورځ هغه خپل کور ته چې د یوې غونډۍ (تپې) په سر ؤ، واپس راغله. په کوټې کښې د ننوتو سره سم ئې یو ډول د فش فش آواز تر غوږو شو. او مخکې له دینه چې تېښته وکړی یو غټ مار یې د غاړې نه را تاو شو او هغې ددې غټ مار ککره په واضیح توګه لیدله چې د هغې له ځانه چاپېر شوی ؤ. مار به هره شیبه خپل فشار ته زور ورکاوه. ناڅاپه د وعظ کونکې خبرې یې په یاد شوې. او د نا امیدۍ په حالت کښې ئې وویل: «ای عیسی ما وژغوره! ما وژغوره!» سمدستی د مار قوت کم شو او ښځې د غاړی څخه یی ځان خلاص کړو او په آرامۍ سره کوټې نه ووت.

دی ته اړتیا نشته چې ووایم چې املیا هغه ورځ نه یوازې د عیسی څخه د جسمانی ژوند د ژغورنې په سبب شکریه وکړه بلکه د هغه څخه یې دا غوښتنه وکړه چې د هغې روحاني ژوند هم وژغوري.

هماغه عیسی چې املیا ته یې نجات ورکړو تاسو ته هم خلاصون در کولای شي. اوس به دغه قیمتی خلاصون وڅیړو ترڅو وګورو څه د هغې د تر لاسه کولو لپاره څه کار باید تر سره کړو.

## هغه څه چې تاسو به یې په دی لوست کې ولولئ

د خلاصون تعریف

د خلاصون حدودو ته ننوتنه

د خلاصون نتایج

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی تر څو ...

- د خلاصون په معنی پوه شئ.
- د خلاصون اصول په خپل ژوند کې وکاروئ.
- د خلاصون د نتایجو په رڼا کې، خپل ژوند وڅیړئ.

## د خلاصون تعریف

یوه ورځ د پوهنتون یو ځوان محصل راته وویل: «خلاصون او جنت ته د تلو ډېرې لارې شته دي. بې ریایي او اخلاص د جنت کلي ده. هر څه چې غواړې ایمان ولره، او تر هغه وخته چې په پوره اخلاص سره د هغې په لټه کې یې هغه به حاصل کړې.»

آیا د هغه خبره صحیح وه؟ آیا بې ریایی او اخلاص د خلاصون لپاره کافی ده؟ آیا یو مخلص او بی ریا سړی کولای شی چې غلطي او اشتباه ونکړي؟ مقدس کتاب په ډېرو ښکاره الفاظو سره وائي چې د ګناه نه خلاصون یوازې د عیسی مسیح په واسطه حاصلیدای شي. مکاشفه ۱: ۵ کې لولو: "... هغه (عیسی) مونږ سره مینه کوی. او مونږ ئې د خپلې وینې په قربانئ له ګناهونو نه آزاد کړو."

اعمال د رسولانو ۴: ۱۲ وایي: "د بل هیچا په وسیله خلاصون نشته ځکه چې په ټوله دنیا کې بل نوم هیچا ته نه دی ورکړی شوی چې په هغې مونږ خلاصون ومومو."

په دې توګه مونږ کولای شو چې خلاصون، د ګناه څخه د بخښنې په معنی تعریف کړو. خو باید دا خبره هم پرې زیاته کړو چې د «عیسی د مرګ په وسیله».

څوک داسې یو خلاصون ته ضرورت لري؟ لکه هسې مو چې مخکې ولوستل، ټولو ګناه کړې ده او په ابدي مرګ محکوم شویدي، چې هغه د خدای څخه د جدایۍ او بیلتون په معنی ده. حزقیال ۱۸: ۴ وائی: "هر چا چې ګناه وکړه هغه باید

مړ شی.“ همدارنګه په روميانو ۳ : ۲۳ کې لولو: ”ځکه چې ټولو ګناه کړې ده او د خدای د لوئی نه محروم دي.“ ټول بشريت هغه عفوې او بخښنې ته چې دعيسی مسيح له خوا ورانديز شوې ده، اړتيالري.

## هغه څه چې تاسو ئې بايد سرته ورسوئ

۱_ هغه آيتونه چې مونږ ته دا ښيي چې خلاصون د عيسی مسيح له طريقه لاس ته راځي، په نښه کړئ.

الف) لوقا ۱۹ : ۱۰

ب) روميان ۵ : ۸

ج) روميان ۱ : ۱۲

د) ګلتيان ۱ : ۴

۲_ هغه جمله چې ښه بشپړ کوونکې وي په نښه کړئ: خلاصون يعنی...

الف) په هر هغه څه چې ايمان لرو ورته مخلص او بې ريا واوسو.

ب) د ګناه څخه آزاديدل د عيسی مسيح په واسطه.

۳ _ د لانديني صحيح جملو مخې ته نښه ورکړئ،

الف) يواځې هغه کسان چې نور خلک ځوروي خلاصون ته اړتيا لري.

ب) د خدای حضور او جنت ته د تللو ډېرې لارې شته دي.

ج) خلک پخپله خلاصون مومی.

## د خلاصون حدودو ته ننوتنه

د عیسی مسیح د پورته کیدو څخه څو کاله وروسته د رسولانو د اعمالو د کتاب لیکونکي د یوې بندیخانی د زندانیانو د ساتونکي حال بیانوی چې د وېرې څخه لکه د ولې په شان رپېده، ځکه زلزله شوې وه او هغه ګومان کاوه چې ټول قیدیان به د موقې نه په استفادې سره تښتېدلي وي. د دې بندیانو څخه دوه تنه پولس او سیلاس وو چې د عیسی مسیح د پیروانو له ډلې څخه وو.

پولس او سیلاس سمدلاسه د زندان ساتونکي ته ډاډ ورکړ چې هیڅوک هم ندي تښتېدلي. کله چې د زندان ساتونکی په دې وپوهېدو چې دغه پېښه یوه معجزه وه نو د هغوی څخه یې وپوښتل چې څنګه کولای شي خلاصون تر لاسه کړي؟

هغه ځواب چې دغو دواړو ایماندارو هغه له ورکړ ډېر ساده وه چې د اعمالو د کتاب په ۱۲: ۳۱ کې راغلی دي: "په مالک عیسی باندې ایمان راوړه او ته او ستا کورنۍ به خلاصون ومومي."

نو په دې توګه د خلاصون حدودو ته د ننوتلو لومړنی ګام په عیسی مسیح باندې ایمان راوړل دي. په کومې طریقې سره باید ایمان راوړو؟ د دې سوال ځواب هم په مقدس کتاب کې پیدا کېږي. مقدس کتاب وایي چې باید هغه (مسیح) د خپل

خدای او نجات ورکونکې په صفت قبول کړو او آسمان ته د تګ په خاطر، زمونږ تکيه بايد پر هغۀ وي.

"او هغه چې دلته ليکلی شوی دي دا تش په دې غرض دي چې تاسو په دې ايمان راوړئ چې عيسی هم مسيح دی، يعنی د خدای زوی، او د ايمان راوړلو په وسيله د هغه په نوم ژوندون ولرئ." (يوحنا ۲۰: ۳۱)

کله چې مونږ عيسی د خپل خدای او ژغورونکي په صفت منو او پرې ايمان راوړو نو د ګناه څخه هم بايد لاس واخلو او توبه وکړو. او هم دخدای څخه وغواړو چې د عسيی مسيح په خاطر مونږ وبخښي او پاک کړي. که چېرې مونږ دهغه څخه غواړو چې دا کار مونږ ته ترسره کړي نو بايد دا باور او يقين هم ولرو چې هغه مونږ بخښی او پاکوي. اول يوحنا ۱: ۹ په ياد راوړئ چې وائي: "که مونږ د خپلو ګناهونو اقرار کوو نو هغه وفادار او صادق دی، او هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړی او د هر قسم بدو نه به مو پاک کړي."

د عيسی مسيح قبول د خدای او ژغورونکي په صفت ډېر په سادګی او هغه ته په وئيلو سره تر سره کيدای شي، لکه يو کس چې له خپل ملګری سره خبرې کوي.

که چېرې تاسو تر اوسه دغه ګام نه وي پورته کړئ، کافی ده چې خدای ته ووايئ چې غواړئ هغه خلاصون چې هغۀ وړاندې کړيدی، هغه ومنئ. ښايي په خپلو الفاظو سره داسې يو شی ووايئ:

"ګرانه پلاره!

زه پوهېدلی یم چې ګناه ګار یم.

زه د خپلې ګناه څخه پښېمانه او د بخښنې غوښتونکی یم.

ما پاک کړه او هر ډول بد کار څخه مې وساته.

زه ستا د زوی عیسی قربانې چې زما په خاطر مړ شو منم.

زه اوس هغه د خپل خدای او خلاصونکي په توګه پېژنم.

زه شکر ګزار یم.

آمین"

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

د دې لاندینی تمرینونود حل لپاره ډېر ښه ځواب غوره کړئ.

۴_ د رومیانو ۱: ۱۲ آیت ولولئ. دغه آیت په ډاګه کوي چې هغه کسان د نجات یا خلاصون مستحق ګڼل کېدلای شي چې:

الف) د قوانینو په مطابق ژوند کوي.

ب) ایمان راوړي.

ج) زیات مال او دولت لري.

۵_ د اعمالو د۱۲: ۳۱ او یوحنا ۲۰: ۳۱ په مطابق ایمان او ژغورنه باید په...

الف) مالک عیسی مسیح کې وي.

ب) د هغه په مريدانو کې وي چې سپېڅلي وو.

ج) کليسايې رسمونو او دودونو کې وي.

## د خلاصون نتايج

کله چې خلاصون قبلوو څه پېښېږي؟ په انسان کې يو خاص روحاني بدلون منځ ته راځي. دې بدلون ته د زړه بدليدل هم وايي. دويم کورنتيان ۷ : ۱۰ داسې څرګندونه کوي: "ځکه چې د خداى د مرضى په مطابق غم داسى توبه راپيدا کوى چې د هغې انجام خلاصون دى." په دويم کورنتيان ۵: ۱۷ کې راغلى دي چې: "د دې دپاره که څوک په مسيح کې وى نو هغه نوى مخلوق دى، زاړه څيزونه تېر شول، وګورئ هغه اوس نوى شول."

دغه بدلون کولاى شو چې په څو طريقو سره وګورو. ځينې وخت د يو کس غبرګون د ژوند په نسبت بدل شي، غم يې په ښادۍ بدلېږي او يا کيداى شي له هغه کس سره مينه او محبت ښکاره کړي چې پخوا يې ورځخه کرکه کوله.

بعضې فزيکى تغيرات هم کيداى شى چې مينځ ته راشى. هغه کسان چې په ځينو بدو فعلونو او ناوړه عادتونو اخته وو، د هغه څخه آزاده کېږي، لکه د شرابو څښل او داسې نور ناوړه عادتونه. خداى دا قدرت لري چې هر هغه بدلون چې ايماندار ورته اړتيا ولري، په هغۀ کښې راولي.

د عیسی مسیح قبلونه دخپل خدای او د ژغورونکي په حیث، په دی هم دلالت کوي چې د خدای په کورنۍ کې نوې زېږېدنه تر لاسه کوو. د عیسی مسیح مقصد د "بیا زېږېدو" څخه چې د یوحنا په ۳: ۳ کې د هغه ذکر شویدی، همدا دی.

یوحنا ۱: ۱۲- ۱۳ وائي: "خو کومو خلقو چې قبول کړو هغوی ته ئې دا حق ورکړو چې د خدای اولاد شی یعنې هغوی چې د هغه په نامه ایمان راوړی، چې نه له وینی نه او نه له جسمانی شوق او نه د انسانی پلار په ارادی بلکه له خدای نه پیدا شو."

مقدس کتاب د یو بل شی په اړه هم خبرې کوی چې هغه د "اولاد وئیلو" خطاب دی چې د ځان سره د ورته والې اړیکه څرګندوي. د بچی یا اولاد خطابول، مونږ د خدای په کورنۍ کې شاملوي. هغه مونږ خپل بچیان ګڼي څو د هغه وارثان شو. دا هغه حق دی‌چې د خدای اولادونو ته په خاصه توګه ورکړل شویدی.

"په دې ویلو سره د خدای روح زمونږ د روح سره هم دا وائی د دې ګواهئ دپاره چې مونږ د خدای بچی یو، او چې بچی یو نو وارثان هم یو. مونږ د خدای وارثان او د مسیح په میراث کې شریک یو، که داسې وی چې مونږ د هغهٔ د تکلیفونو په زغملو کې شامل یو نو د هغهٔ په جلال کې به هم شامل شو."
(رومیان ۸: ۱۲ – ۱۷)

د خدای په کورنۍ کښې د غړیتوب تر لاسه کول یو خاص امیتاز دی. له همدې وجې څخه دی چې عیسویان اکثراً یو بل

ته د «ورور» يا «خور» خطاب کوي. او په دې خبرو سره هغوی وايي چې: « مونږ د يوی کورنۍ غړي يو».

آيا کولای شو د خپل خلاصون نه ډاډه و اوسو؟ يوه ورځ يوې ښځې زما نه د دعا غوښتنه وکړه. هغې راته وويل چې کله يې عيسی مسيح د خپل ژغورونکي په توګه ومنه نو يو عجيبه احساس يې ترلاسه کړ. داسې يو احساس چې د خوښی څخه مالا مال ؤ. مګراوس له هغې سره هغه لومړنی احساس نه ؤ پاتې او غوښتل يې چې وپوهېږی: «هغې ولی خپل خلاصون دلاسه ورکړی دی؟»

مونږ پوهېږو چې د احساس په وسيله مونږ خلاصون نه دی ترلاسه کړی بلکه د خدای د کلام په منلو سره مو ترلاسه کړی دی، يعنې څه چې هغهٔ فرمائيلي دي. که چېرې مونږ په هغه لار چې مقدس کتاب زمونږ د خلاصون لپاره رابنودلی دی ګام پورته کړو، بايد ايمان ولرو چې خلاصون مو ترلاسه کړيدی. سره ددې چې هر ډول احساس مونږ ته پيدا شي. روح القدس هم کولای شي چې دغه ډاډ مونږ ته راکړي. همدا شان مونږ کولای شو چې داسې يوه ډاډګيرنه د خپلو مسيحی خويندو او ورونو څخه هم ترلاسه کړو.

"مونږ پوهېږو چې له مرګ نه په ژوندون کې شوی يو په دې ځکه چې مونږ له خپلو وروڼو سره مينه لرو، او څوک چې مينه نه لری هغه لاتر اوسه د مرګ په حالت کې دی."
(اول يوحنا ۳: ۱۴)

کیدائ شی تاسو به د مسیحیانو څخه د «عادل شمیرنی» او د «سپیڅلتوب» یا تقدس لفظونه اوریدلي وي. د دغو الفاظو معنی څه ده؟

عادل شمیرنه یعنی د ګناه د اسارت څخه آزادي، او د خدای سره د یوی سمې اړیکې برقرارول دي. چې دا د خلاصون نتیجه ده. خدای زمونږ ګناهونه بخښي او زمونږ خطاګانې زمونږ څخه لرې کوي او وایي چې اوس مونږ عادل کسان استو. یعنې دا چې مونږ تر اوسه پورې کوم غلط کار نه دی تر سره کړی.

په رومیانو **۵** : ۱ کې لولو چې: "نو اوس چې مونږ د ایمان په وسیله صادق کړی شوو نو د مالک عیسی مسیح په وسیله د خدای سره صلح لرو." د خدای په نظر کې پاک او د بې ګناه کېدل د عادل شمېرل کېدلو په معنی ده.

تقدیس د مقدس کېدلو په معنی ده، یعنې د ګناه څخه پاکوالی او خدای ته د خپل ځان وقف کول دي.

په نوې لوظنامې کې راغلي دي: "خدای چې د سلامتی سر چینه دی تاسو د په خپله بالکل پاک کړی، او ستاسو روح او ځان او تن دی زمونږ د مالک عیسی مسیح تر راتلو پوری پوره بې عیبه وساتی." (اول تسالونیکیان **۵** : **۲۳**)

خدای د ټولو مسیحیانو څخه غواړي چې پاک او سپیڅلی واوسئ. مقدس کتاب وایی: "نو د خدای دا مرضی ده چې تاسو پاک شئ، یعنی د حرامکارئ نه ځان وساتئ."
(اول تسالونیکیان **۴** : **۳**)

"د ټولو سره د صلح کوشش کوئ او د هغې پاکيزګۍ طلبګار اوسئ چې بغير د دې نه به څوک مالک ليدی نۀ شی." (عبرانيان ۱۲: ۱۴)

يو بل ټکې هم شته دی چې د عيسی مسيح د سولۍ(صليب) کيدو د نتائيجو په باره کې د خبرو کولو پر وخت بايد هغی ته اشاره وشي او هغه الٰهی شفا ده. الٰهی شفا يوه بله ځانګړتيا ده چې عيسی مسيح، د ګلګتا د غره د پاسه په سولۍ کيدو سره مونږ ته چمتو کړې ده.

"کله چې ماښام شو نو خلکو عيسی له ډېر داسې کسان راوستل چې پيريانو نيولی وو او هغۀ د هغوی نه په يو حکم پيريان وشړل او ټول رنځوران ئې جوړ کړل چې دغه رنګ د يشعياه نبی په وسيله وئيلی شوی دا پيشن ګوئی پوره شی چې: «هغه زمونږ رنځونه او کمزورئ اوچتی کړی.»" (متی ۸: ۱۲ – ۱۷)

"دا زمونږ د ګناهونو په خاطر وو چې هغه زخمي شو او زمونږ د شرارتونو وجه وه چې هغه وهل ټکول وخوړل. هغه سزا وليده ترڅو زمونږ بشپړه سلامتيا خوندي وساتلۍ شي. او دهغه د زخمونو څخه مونږ شفا حاصله کړه." (اشعيا **۵۳**: **۵**)

الٰهی شفا د خدای يو مافوق الطبيعه قدرت دی چې د انسان جسم ته سلامتيا وربخښی. يعقوب **۵**: **۱۴**– **۱۵** مونږ ته وايی چې دا شفا څنګه د خپل ځان دپاره وغواړو:

"که په تاسو کې څوک بيمار وی نو د جماعت مشران د راوبلی او د هغه د پاره د دعا وغواړی او د مالک په نوم دې

هغه په تیلو غوړ کړی. او کومه دعا چې به په ایمان سره وغوښتی شی د هغې په وجه به بیمار بچ شی، او مالک به هغه پاڅوی او که هغه ګناهونه کړی وی نو هغه به هم ورته معاف شی.“

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۲ ـ د صحیح ځواب پر وړاندې نښه ورکړئ.

په لاندې مواردو کې کوم یو د خلاصون د نتیجو څخه بلل کېدلای شي؟

الف) تغیر یا بدلون

ب) زوی ولی، یا نوی زیږیدنه

ج) عادل شمیرنه

د) سپېڅلتیا یا تقدیس

ه) دالٰهی شفا لاس ته راوړنه

۷ ـ د چَپ اړخ جملی ولولئ او د هغې په مخ کې د ښي طرف څخه د هغه صحیح ځواب پیدا او نمبر یې ولیکئ.

۱:- سپېڅلی کېدل ... الف) داخلی بدلون

۲:- د مافوق الطبیعه قدرت په وسیله، سلامتي. ... ب) تقدیس

۳:- پوره بدلون ... ج) عادل شمیرنه

۴:- د خدای د کورنۍ غړیتوب ... د) الٰهی شفا

۵:- عادل شمېرل کېدل ... ه) ځوی ولي

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱_ ټول ځوابونه صحیح دی.

۲_ ب) د ګناه څخه آزادیدل د عیسی مسیح په واسطه.

۳ - یو ځواب هم صحیح نه دی.

۴_ ب) ایمان راوړي.

۵_ الف) مالک عیسی مسیح کې وي.

۶ - ټول ځوابونه د خلاصون نتائج دی.

۷ - الف) ۳ - پوره بدلون

ب) ۱- سپیڅلي کېدل

ج) ۵ - عادل شمېرل کېدل

د) ۲ - د مافوق الطبیعه قدرت په وسیله سلامتي

ه) ۴- د خدای د کورنۍ غړیتوب

## ستاسو یادداشت

اوم لوست

# روح القدس

مریدان يې په دې پوهېدل چې ډېر زر به عیسی هغوی پرېږدی. عیسی په خپله دا خبره هغوی ته کړې وه. په ابتداکې دا خبره هغوی ته په زړه پورې نه وه. او د هغوی زړونه خواشینې وو. هغوی د عیسی سره مینه درلوده. پوره درې کاله د هغهٔ پسې هر چېرې روان وو. نو اوس څرنګه هغوی د عیسی مسیح نه بغیر خپل ژوند ته دوام ورکړی وای؟

عیسی د هغوی د زړه په پټو اسرارو پوهېده او هغوی ته یې ډاډګیرنه ورکړه چې دا د هغوی په ګټه ده چې هغه دې خپل آسماني پلار ځخه لاړ شی. او پلار به یی روح القدس را واستوي (چې د دری ګونی شخصیتونو یوه برخه ده چې په دریم لوست کې مو ولوستو). او هغوی به کله هم یواځې پرېنږدي

د خدای روح قرار نه ؤ چې فقط په یوه هېواد کې محسوس شوی وای او یا د یو خاص قوم په خدمت کې وای. په کار دا ؤ چې هغه د ټولی دنیا خلکو ته په یو شان خپور شوی وای، او د هغوی خدمت یې کړی وای. د پینتیکاسټ په ورځ پطروس یوی لویې غونډی ته خپله وینا اوروله چې په هغې کې دبیلابیلو قومونو خلکو چې په پنځلسو مختلفو ژبو یې خبرې کولې،

راټول شوي وو. اعمال د رسولانو د کتاب په ۲: ۱۲ - ۱۷ کې د هغهٔ د دې وينا په هکله داسې ويل شويدي

”دا هغه څه دي چې يوئيل نبی د هغې په هکله ويلي ؤ چې: «خدای فرمائی چې په آخری ورځو کې به داسې کيږی چې زه به خپل روح په هر يو کس نازلوم او ستاسو زامن او لوڼه به نبوت کوی، ستاسو ځوانان به رويا په سترګو وينی او بډاګان به خوبونه.»“

په شپږم لوست کې مو هغه څه چې د خلاصون په باره کې لازمي ؤ، ولوستل. آيا په دې پوهيږئ چې مونږ د روح القدس په وسيله د نجات لورې ته رهنمايی کيږو؟ راځئ چې د روح القدس په هکله خپلې مطالعې ته دوام ورکړو او د هغه کار په خپلو کې وڅيړو.

## هغه څه چې تاسو به يې په دی لوست کې ولولئ

د روح القدس ذات

د روح القدس کار

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو ...

- د روح القدس ذات وستايئ.
- د روح القدس دنده په خلاصون کې توضيح کړئ.
- د روح القدس کار په خپل ژوند کې وپيژنئ.

## د روح القدس ذات

روح القدس خدای دی. او لکه پلار او د هغه د زوی په شان نور ډېر نومونه هم لری لکه «روح القدس»، «د خدای روح»، «د حقیقت روح»، او «تسلی ورکوونکی». په متی ۲۸: ۱۹ کې د دغې دری ګونی ذات یعنی تثلیث اقدس بیان راغلی دی چې وایي: "ځکه تاسو په مزکه خواره شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ."

روح القدس د خدای پلار په شان دی. هغه ابدي، په هر شي قادر، د هر څه نه خبر، او هر ځائ کې حاضر دی. هغه د پلارخدای او زوی سره یو ځای په کار بوخت دی او د هغوی سره په ګډه په پیدائښت کې دخالت لري. راځئ چې د مقدس کتاب په څو آیتونو باندی چې د روح القدس په اړه خبرې کوي نظر واچوو.

"نو بیا ولې د مسیح وینه له دې نه زیات څه ونه کړی! هغهٔ د هغه روح په وسیله چې له ازل نه دی خپل ځان د یو بې عیبه قربانئ په طور د خدای په مخکښې پیش کړو او د هغه وینه به زمونږ زړونه د داسې کارونو نه پاک کړی چې د هغوی انجام مرګ دی، چې مونږ د ژوندی خدای عبادت وکړو." (عبرانیان ۹ : ۱۴)

"هغه ټول خدای په مونږ د روح په وسیله ظاهر کړل، ځکه چې روح دغه ټولی خبری و آزمئی بلکه د خدای پټی خبری هم معلوموی." (اول کورنتیان ۲ : ۱۰)

"د خدای روح زه پیدا کړی یم او ماته یی ژوند بخښلی دی." (ایوب ۳۳ : ۴)

دا روح القدس ؤ چې په پخوانۍ زمانې کې یې د پیغمبرانو، کاهنانو او دینی مشرانو لارښودنه کوله، اود هغو ښځو او نارینوو سره چې د خدای په خدمت کې بوخت وو مرسته کوله.

د یوسف په اړه چې په مصر کې د غلام په توګه خرڅ کړای شو، ویل شویدي چې: "آیا مونږ د یوسف په شان بل کس پیدا کولای شو چې د خدای روح په هغه کې وی؟"
(پیدائښت ۴۱ : ۳۸)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۱- روح القدس د................... دی. هغه د .............. او ............سره یوځای ؤ او په ..............کښې هم د هغه کار وینو.

۲- لاندې ورکړل شوي متنونه مطالعه کړئ. بیا هر هغه مشخص صفت چې د روح القدس په اړه پکښې بیان شویدی په خالی ځایونو کې ولیکئ. خالی ځای په صحیح الفاظو سره ډک کړئ.

الف) رومیان ۱۵ : ۱۳..........................................

ب) عبرانیان ۱۰ : ۱۵..........................................

ج) اول پطروس ۴ : ۱۴ ..........................................

د) اول یوحنا ۵ : ۲ ..........................................

ه) یوحنا ۱۴: ۲۲ ..........................................

## د روح القدس کار

روح القدس زمونږ په خلاصون کې ډېر اساسي او بنیادي رول لوبوي. هغه مونږ ته ښیي چې زمونږ ګناه څومره ناوړه او غلط عمل دی. روح القدس مونږ سره مرسته کوي چې عیسی د خپل خلاصونکي په توګه وپېژنو او قبول ئې کړو. هغه زمونږ ژوند ته بدلون ورکوي.

"کله چې هغه راشی نو هغه به دنیا د ګناه او د صداقت او انصاف په باب کې ملامته کړی." (یوحنا ۱۲ : ۸)

"عیسی ځواب ورکړو، «زه درته ربښتیا وایم، چې یو سړی به هم د خدای په بادشاهۍ کې تر هغې داخل نۀ شی تر څو هغه د اُوبو او روح القدس نه پیدا نۀ شی. چې د انسان نه پیدا کېږی هغه جسم دی خو چې د روح القدس نه پیدا کېږی هغه روح دی.»" (یوحنا ۳: ۵ – ۶)

روح القدس په هر ایماندار کې ځای نیسی. کله چې یو کس په عیسی مسیح ایمان راوړي روح القدس د هغه زړۀ ته ورننوځي. "او په دې سبب چې تاسو د خدای زامن یئ خدای د خپل زوی روح زمونږ زړونو ته راولېږلو کوم چې د "آبا" یعنی "ای پلاره" غږ کوی." (ګلتیان ۴ : ۶)

روميانو ۸ : ۹ يو ګام نور هم وړاندې ځي او وايي: ”... او که څوک د مسيح روح نه لري نو هم د هغۀ نه دی.“ که چېرې مونږ د خدای کورنۍ سره تعلق ولرو د هغه روح په مونږ کې ځای نيسي.

”او کوم روح چې تاسو موندی دی، هغه د غلامۍ هغه روح نه دی چې تاسو بيا ويره وی، خو هغه روح دی کوم چې مونږ بچی جوړوی او مونږ د دې قابل کوی چې مونږ ووايو، «آبا!» يعنی، «ای پلاره!» په دې وئيلو سره د خدای روح زمونږ د روح سره هم دا وائی د دې ګواهۍ دپاره چې مونږ د خدای بچی يو.“ (روميان ۸ : ۱۵ – ۱۶)

په مقدس کتاب کې څو ځله زمونږ په بدن کې د روح-القدس ځای نيونې ته اشاره شوې ده او دا هم ممکنه ده چې د روح القدس څخه معمور(مالامال) شو. خو دغه کار د مسيح خوا ته راتګ او په هغه باندې په ايمان راوړلو سره ترلاسه کيدای شي. دې ته د «روح القدس بپتسمه» هم وايی. هر ايماندار د روح القدس تعميد نشی حاصلولی. مګر دا يوه تجربه ده چې خدای غواړي ټول بچيان يې بايد هغه ولري. په اعمال د رسولانو کې ويل شويدي: ”او بيا چې هغه د خدای ښی لاس ته وخيژولی شو، هغه د پلار نه د وعدی په مطابق روح القدس حاصل کړو او په مونږ ئې نازل کړو اوس چې تاسو وينئ او آورئ.“ (اعمال ۲ : ۳۳)

پطروس ووئيل: ”توبه ګار شئ او په تاسو کې هر يو دې د خپلو ګناهونو د معافی دپاره د عيسی مسيح په نوم بپتسمه

واخلی او تاسو ته به روح القدس وبخښلی شی.“
(اعمال ۲ : ۳۸)

روح القدس زمونږ مددګار او تسلی راکوونکی دی. هغه مونږ ته تعلیم راکړ، مینه او مشارکت یې را وبخښه او د حقیقت په لور یې رهنمایي کړو. هغه ډېري مېوې لکه د خوشحالۍ، هوسایني، نرم مزاجۍ، عاجزۍ او ځان ساتنې مېوې لري. او هغه روحاني نعمتونه چې دهغې په وسیله د خدای او هم د نورو انسانانو خدمت وکړو.
(اول کورنتیان ۱۲ : ۴ – ۷ ) (ګلتیان ۵ : ۲۲)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۳ – په لاندنیو جملو کښې صحیح جملې غوره کړئ.

الف) روح القدس په هر ایماندار کې حضور لري.

ب) روح القدس مونږ ته د نجات لاره ښیي.

ج) په عیسی مسیح ایمان راوړل او د روح القدس بپتسمه (تعمید) دواړه یو دي.

د) روح القدس مونږ ته وائی چې مونږ د خدای بچیان یو.

۴ ـ د ښي طرف عبارتونه د روح القدس کارونه دي. د مقدس کتاب ځخه لاندې ورکړل شوې حوالې پیدا او وې لولئ. بیا د هر یو په مقابل کې د روح د کار پورې مربوط صحیح نمبر ولیکئ.

۱ـ قدرت وربخښی. ... الف) یشعیاه ۱۱: ۲

۲ـ تعلیم ورکوی. ... ب) حزقیال ۳۶: ۲۷

۳ـ حقیقت ښکاره کوی. ... ج) یوئیل ۲: ۲۸

۴ـ حکمت، معرفت او مهارت ... د) لوقا ۱۲: ۱۲
وربخښی.

۵ – نبوتونه، خوبونه او رویاګانې ... ه) میکاه ۳: ۸
وربخښي.

۶ـ تاسو اړ باسي چې د خدای ... و) یوحنا ۱۲: ۱۳
احکام رعایت کړئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ـ د تثلیث دریم شخصیت

پلار

زوی

پیدا ایښت

۲ – الف) قدرت

ب) ګواهی

ج) د جلال روح

د) حقیقت

هـ) مدد ګار

۳ – الف) صحیح

ب) صحیح

ج) غلط

د) صحیح

۴ _ الف) ۴- حکمت، معرفت او مهارت وربخښی.

ب) ۲- تاسو اړ باسي چې د خدای احکام رعایت کړئ.

ج) ۵- نبوتونه، خوبونه او رویاګانې وربخښي.

د) ۲ - تعلیم ورکوي.

هـ) ۱- قدرت وربخښي.

و) ۳ - حقیقت ښکاره کوي.

# اتم لوست

# کلیسا

ډېر زیات ځایونه شته چې د«کلیسا» نوم پرې اېښودل شویدی. ډېر ښکلې عمارتونه، لوی لوی تعمیرونه او پراخه سالونونه او یا د ختو جوړشوي واړه واړه کورونه چې بشارت ورکوونکي پکښی خدمت کوي. دا ټول عمارتونه صلیبونه، زنګونه او برجونه لري. او هر څوک یې چې له څنګه تېرېږی په خپلې خاصې ژبې سره چې په هر رقم ده وایي: "دلته کلیسا ده" همدغه د انسان په لاس جوړ شوي عمارتونه په حقیقت کښې هم د کلیساپه معنی ده. خو هغه کلیسا چې نوې لوظنامه د هغې په هکله خبري کوي د یوۀ عمارت او ودانۍ څخه بېله ده او ژوره معنی لري.

کلیسا په خپل ذات کې د ټولو ایماندارانو څخه جوړه شوې ده چې د عیسی مسیح بدن په نامه یاد ېږي. خدای په خپل روح سره د دې ایماندارانو په منځ کې استوګن کېږي. په اوم لوست کې د روح القدس د کار ماهیت او دندو په اړه لږ څه خبرې وشوې. یو کار چې مونږ هلته دهغه ذکر و نه کړ هغه دا ده چې روح القدس په کلیسا کښې اتحاد او یووالی منځ ته راوړي. افسیان ۴: ۳ وائي: ”او دا کوشش کوئ چې کوم یووالی چې روح القدس درکوی، د صلح په تړون ئې وتړئ.“

په دې لوست کې به وګورو چې کليسا څه شی دی، د هغه دندې او وظيفې څه دي .او په راتلونکي کې به څه کېږي. بيا هم دا مقدس کتاب دی چې زمونږ دې پوښتنو ته ځواب وايي.

## هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولئ

د کليسا نومونه

د کليسا دوه مهم رسمونه

د کليسا دنده

د کليسا راتلونکې

## دغه لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- د مسيح کليسا وپېژنئ.
- خپل ځان په کليسايي چارو کې شريک وګڼئ.
- د کليسا راتلونکې دندې تشريح کړئ.

---

## د کليسا نومونه

---

آيا دغه کليمات يعنی بدن، ودانۍ، ناوې، کورنۍ د يو شريک شي طرف ته اشاره نه کوي؟ دا کليمات ټول د خلکو سره په ارتباط کې دي. مګر د مقدس کتاب په ژبه دغه الفاظ، يوې خاصې ډلې ته اشاره کوي چې د خدای کورنۍ جوړوي.

کلیسا د هغه بدن سره تشبه شوې چې عیسی مسیح یې سر دی. کولوسیان ۱: ۱۸ وایي: "او هغه د بدن، یعنی د جماعت سر دی..."

"او هر څه ئې د هغه د پښو د لاندې کړل او هغه ئې د ټولو څیزونو سردار جوړ کړو، او جماعت له ئې ورکړو چې هغه د جماعت مالک شی. جماعت د مسیح بدن دی، دا بدن د هغه نه کامل کېږی چې هغه له ټولو نه په هر څه کښې کامل وی." (افسیان ۱: ۲۲ – ۲۳)

په بل ځای کې ویل شویدي:

"هم دغه شان تاسو ټول په یو ځای دمسیح بدن یئ او بیل بیل اندامونه یئ." (اول کورنتیان ۱۲: ۲۷)

مقدس کتاب کلیسا دهغه "عمارت" او معبد سره تشبه کوي چې خدای ته مختص شوې وي. "او د رسولانو او نبیانو په بنیاد تاسو ودان کړی شوی یئ چې د ګوټ سر کاڼی په خپله مسیح عیسی دی. مسیح په خپله د هغې ماڼی هره یوه حصه یو ځای ساتی چې په رب کې یو پاک کور جوړ شی. نو تاسو هم د هغه په یووالی کې د نورو سره د خدای یو داسې کور جوړیږئ چې په کوم کې خدای د خپل روح په وسیله اوسیږی." (افسیان ۲: ۲۰ – ۲۲)

د کلیسا یو بل نوم د «عیسی مسیح ناوې» ده. مقدس کتاب عیسی مسیح ته د ګډوری په ویلو سره زیاتوی چې کلیسا هغه ناوی ده چې مسیح به له هغې سره به واده وکړی.

په مکاشفه ۲۱: ۹ کې لولو چې: "... راځه او زه به تا ته ناوې وښیم، یعنې د ګډورې ښځه به درته وښیم."

"راځئ چې خوشحالیږو او د خوشحالۍ چغې وباسو او د هغه لوئی بیان کړو ځکه چې د ګډورې د واده ورځ راغلې ده او د هغه ناوې ځان سمبال کړې دی." (مکاشفه ۱۹: ۷)

په افسیانو ۵: ۲۵ کې هم مسیح د خاوند او کلیسا د هغهٔ د ناوې او میرمنې سره ورَته شویدي چې وائي: "اې خاوندانو! د خپلو ښځو سره مینه کوئ لکه څنګه چې مسیح د جماعت سره مینه کړې ده او خپل ځان ئې د هغه دپاره مرګ ته سپارلې دی."

کله چې مقدس کتاب ولولئ نو له داسې نورو تشبیهاتو او نومونو سره به هم مخامخ شئ چې کلیسا ته منسوب شویدي. خو هغه مهم ټکی چې باید په یاد ولرو دا دی چې کلیسا د هغو کسانو د یوځای کیدو څخه جوړېږي چې په مسیح کې یې نوی ژوندون تر لاسه کړی وي او د هغهٔ پیروان وي . چې دغه ډله د زیاتېدو په حال کې ده. مقدس کتاب وایي: "هغوی د خدای ثنا وئیله، نو ټول خلق ترې راضي وو او هره ورځ څومره خلقو چې خلاصون موندلو نو مالک د هغوی په ډله کې شاملول." (اعمال ۲: ۴۷)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۱ـ لاندې آیتونه ولولئ او هغه صفتونه چې کلیسا ته منسوب شویدي د هر یو آیت مخی ته ولیکئ؟

الف) زبور ۱۴۹: ۱ ........................................

ب) اول پطروس ۵: ۲ ........................................

ج) زبور ۸۹: ۷........................................

د) افسیان ۲: ۱۹ ........................................

## د کلیسا دوه مهم رسمونه

اوس مونږ پوهیږو چې کلیسا څه شی دی، خو دا مهمه ده چې د هغې له رسمونو او رواجونو سره هم آشناشو. رسم یا رواج هغه قانون دی چې د یو قدرت په واسطه منځ ته راځي. د کلیسا دوه مهم رسمونه عبارت دي د اوبو بپتسمه او عشائی رباني، چې دا دویم رسم ته غوره مانبام یا د خدای مانبام هم ویل شوی دی.

د دغو دوو رسمونو بنسټ په خپله عیسی مسیح ایښی دی. د هغه آخري حکم چې خپلو مریدانو ته یې ورکړ، دا وو چې: "ځکه تاسو په مزکه خواره شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ." (متی ۲۸: ۱۹)

د اوبو بپتسمه یو خاص مفهوم لري. ”او تاسو د مسیح سره په بپتسمه کې ښخ شوئ او په هغه کې مو د هغه خدای په قوت ایمان راوړو چې هغه ئې د مړو نه ژوندی کړو، او تاسو هم ورسره ژوندی شوئ.“ (کولوسیان ۲: ۱۲)

د یو ایماندار په توګه په کارده چې د خپل د نوي ژوند د ګواهۍ په خاطر د عیسی مسیح په نامه د اوبو بپتسمه واخلئ او په عشائی ربانی یعنی غوره ماښام کې ګډون وکړئ.

عشائی ربانی یا د خدای ماښام هغه وروستنی ماښام دی چې عیسی مخکې تر دې چې د رومي عسکرو له خوا ونیول شي، د خپلو دولسو مریدانو سره یوځای پکښې ګډون کړی ؤ. مونږ د عیسی د مرګ د یادګیرنې په خاطر دغه ماښام لمانځو او پکښې ګډون کوو. مقدس کتاب وائی: ”نو هرکله چې تاسو دا ډوډی خورئ او دا پیاله څښئ نو د مالک د مرګ اظهار کوئ ترڅو چې هغه را نه شی.“ (اول کورنتیان ۱۱: ۲۶)

”ځکه چې ما کومې خبری چې ما تاسو ته رسولی دي هغه ما ته د مالک نه په خپله حاصلی شوی دي، چې په کومه شپه د مالک عیسی مخبری وشوه ډوډی ئې واخسته، شکر ئې پرې ووی او ما ته ئې کړه او وئې وئیل چې «دا زما بدن دی چې ستاسو دپاره دی. زما په یادګارئ کښې هم دغه شان کوئ.» دغه شان هغه د خوراک نه پس پیاله واخسته او وئې وئیل چې «دا پیاله زما په وینه کې نوی لوظ دی هرکله چې ئې څښی نو زما په یادګارئ کښې دغسی کوئ.»“
(اول کورنتیان ۱۱: ۲۳ – ۲۵)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۲– هغه دوه دودونه او رسمونه چې د عیسی مسیح څخه د یادګار په توګه پاتی‌شوی دي کوم دي؟

..........................................................................................

..........................................................................................

۳– هغه ځواب چې په ښه توګه کولای شي دا لاندې جمله بشپړه کړي په نښه کړئ. د متی ۲۸: ۱۹ پر اساس، د اوبو بپتسمه..

الف) د هر هغه چا لپاره دی چې په مسیحی کورنۍ کې دنیا ته راغلی وي.

ب) د هغو کسانو لپاره دی چې په مسیح ئې ایمان راوړی وي او د هغه پیروي کوي.

ج) د کلیسا سره د پیوستون لپاره دی.

۴– هغه بشپړ کوونکې ځوابونه چې دا لاندې نیمګړې جمله پوره کولای شي په نښه کړئ.

د خدای غوره مانښام یا عشائی ربانی:

الف) د کلیسا د دودونو څخه یو دی.

ب) د عيسى د بدن خوړل او د هغه د وينى ښنبل دي.

ج) د عيسى مسيح د قربانۍ يادګيرنه ده.

د) د ټولو ايماندارانو لپاره دى.

## د کليسا دنده

د کليسا دنده يا ماموريت د نړۍ ټولوخلکو ته د عيسى مسيح د زېري يعنى انجيل رسول دي. دغه دنده مخکې له دې چې عيسى مسيح د پلار خداى خوا ته پورته شى مونږ ته را وسپارله.

"بيا هغۀ د هغوى عقل روښانه کړو چې په صحيفو پوهه شى. هغۀ ووئيل چې: دا ليکلى شوى دي چې مسيح به زحمت وزغمى او په دريمه ورځ به له مړو نه بيا ژوندى پاڅى. او د هغۀ په نامه به ټولو قومونو ته د ګناهونو نه د توبې او د معافئ وعظ کولى شىتا سو د بيت المقدس نه شروع شئ."
(لوقا ۲۴ : ۴۵ – ۴۷)

**هغه څه چې تاسو ئې بايد سرته ورسوئ**

۵ـ ښه بشپړ کونکی ځواب معلوم کړئ.

د کلیسا دنده او ماموریت عبارت دی له:...

الف) د عیسی مسیح د عذاب او مرګ یادونه.

ب) د توبې وعظ او د ګناهونو بخښنه.

ج) ټولو قومونو ته د عیسی مسیح د زېری رسونه.

## د کلیسا راتلونکې

عیسی مسیح د کلیسا سره مینه درلوده او خپل ځان یې هم د هغه په لاره کښې قربان کړ. د هغه هدف او مقصد څه وه؟

"د دې دپاره چې هغه ته د کلام سره په اوبو غسل ورکړی، پاک ئې کړی او مقدس ئې کړی، او داسې د جلال جماعت ساز کړی او ځان ته ئې حاضر کړی، چې په بدن کې ئې نه داغ وی، نه ګنجی، او نه په کې بل داسې څه څیز وی، بلکه پاک او بې عیبه وی." (افسیان ۵: ۲۲ – ۲۷)

کلیسا که په آسمان کې وی او که په مزکه، عیسی مسیح په هغې حکومت کوي او د خدای د ستاینی نه به خالی نه وي.

"او له هغوی نه تا د کاهنانو بادشاهی جوړه کړه چې زمونږ د خدای خدمت وکړی او هغوی به په مزکه بادشاهی کوی. بیا چې ما وکتل نو د بې شماره فرښتو آوازونه مې واوریدل چې هغه د تخت او د حیوانانو او د مشرانو نه چاپیره وې او د هغوی شمار په زرګونو او لکونو کې وو او هغوی په زوره چغې وهلی

چې: «هغه ګډوری چې حلال کړی شو، د دې لائق دی چې ټول قدرت، دولت، حکمت، لوئی، عزت، شان او تعریف ومومی!» او بیا ما واوریدل چې ټول مخلوقات چې په آسمان کښې، په مزکه باندې، د مځکی د لاندې یا په سمندر کښې دی، هغوی ټولو چغې وهلی چې: د هغه چا څوک چې په تخت ناست دی او ګډوری ته شکر، عزت، شان او قدرت دې تل تر تله وی!" (مکاشفه ۵: ۱۰- ۱۳)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۲ ـ صحیح جملې په نښه کړئ.

الف) په ټول ابدیت کې به هیڅ شی سرته رسیدونکی نه وي.

ب) کلیسا به تر ابده پورې مسیح سره وی.

ج) د خدای کلیسا به د کاهنانو او رهبرانو په بڼه د خدای خدمت کوي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ – الف) د مؤمنینو ډله

ب) رمه

ج) مقدسين

د) د پاکانو وطن، د خدای کورنۍ

۲ ـ د اوبو بپتسمه او عشائی ربانی (د خدای مانښام).

۳ ـ ب) د هغو کسانو لپاره دی چې په مسيح ئې ايمان راوړی وي او د هغه پيروي کوي.

۴ – د (الف)، (ج) او (د) ځوابونه صحيح دي. د (ب) ځواب غلط دی ځکه چې مونږ په حقيقت کې په عملی توګه د عيسی مسيح وينه او بدن نه خورو بلکه دغه ډوډی او شراب د هغه د وينو او بدن سمبول دی.

۵ ـ ټول ځوابونه صحيح دي.

۲ – د (ب) او (ج) ځوابونه صحيح دي.

---

ستاسو يادداشت

---

نهم لوست

# د روح نړۍ

خو زما بچو! تاسو د خدای د کورنۍ یئ او تاسو په دې دروغژنو نبیانو غالب شوی یئ، ځکه چې هغه څوک چې په تاسو کښې دی، هغه له هغه چا ډېر زورور دی چې په دنیا کښې دی. (اول یوحنا ۴: ۴)

کله چې شریر او شیطاني روح د ماریانې په ځان کې ځای نیولی ؤ، هغه یوه پیغله جینۍ وه. هغه وخت چې زه ورسره آشنا شوم هغه پنځه ویشت کلنه وه او تر اوسه هم د شیطاني روح تر آغېزې لاندې وه. هغه لومړنۍ درې هفتې چې ما او څو نورو کسانو د ماریانا او د هغې د خاوند سره یوځای ژوند کاوه واقعاً د یو سخت روحانی جنګ بېلګه وه.

هره ورځ به مو د ماریانا پر سر لاس کېښوده او د هغې د خلاصون لپاره به مو دعا کوله. دا شرارتباره روحونو به هڅه کوله تر څو هغه ووژني او مونږ ته هم نقصان ورسوي خو په دې کار نه بریالي کېدل.

ما په بدو روحونو د فشار راوړلو لپاره د خدای څخه وغوښتل چې د عیسی مسیح د سپېڅلې وینې په خاطر زمونږ ساتونکی شي. بیا کرار کرار دغه بد روحونه د ماریانا د ځان

څخه وتل پيل کړل. د خدای قدرت د شيطان د قدرت څخه لوړ دی. او ډېر ژر ماريانا په بشپړه توګه خلاصون تر لاسه کړ.

هغه اوس کولای شول چې خلکو ته ووايي: «هغه خدای چې زما زړه کې ځای نيولی او په ما کې اوسېږی د شيطان او هر بد روح څخه چې په دنيا کې موجود دی قوی او برلاسی دی.»

ماريانا د خدای د کورنۍ سره يو ځای شوه او د هغې کليسا غړيتوب يې هم تر لاسه کړ چې په تېر درس کې مو پرې خبرې وکړې. يوازې خدای هغه کنټرولوله او فقط روح القدس په هغې کې ژوند کاوه.

ښايي تاسی به هم د شيطان قدرت ليدلی وي چې فعاليت کوي. مګر تاسو دا ضرورت نه لرئ چې د هغه څخه ويره وکړئ ځکه د خدای قدرت ډېر لوی دی.

په دی لوست کې به د دنيوي روحونو په اړه خيړنې وکړو، او د هغه امنيت په هکله به خبرې وکړو چې موږ د ايماندارانو په توګه په مسيح کښې يې لرو.

## هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولئ

شيطان او خبيثه روحونه

فرښتی

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- بیان کړئ چې شیطان څوک او انجام یې څه دی.
- د ښو او بدو فرښتو ترمینځ فرق وپیژنئ.
- د هغو مرستو په اړه معلومات ولرئ چې ښې فرښتې یې د ایماندارانو سره کوي.

---

## شیطان او خبیثه روحونه

---

شیطان هغه شرارتکاره فرښته ده چې د آسمان څخه راغورځیدلې ده. ځکه چې هغۀ غوښتل چې خپل ځان د خدای څخه پورته او لوی وګڼي. اشعیاه ۱۳:۱۴– ۱۵ وائی: "تا په خپل زړه کې ویل چې آسمان ته به پورته شم، خپل د بادشاهی تخت به د خدای د ستورو څخه هم پورته کېږدم او د جماعت د غره پر سر چې په شمال کې دی او مالکان هلته راغونډېږي، ناسته وکړم. د وریځو د پاسه به قدم ووهم او د متعاله خدای په شان به شم، لیکن ته هغې کندې ته چې د مړو د استوګنې ځای دی وغورځولی شوې."

هغه شریرو فرښتو چې د شیطان نه ئې پیروي وکړه دې ته ورته برخلیک سره مخامخ شول. مقدس کتاب وایی: "ځکه هرکله چې خدای ګناه کوونکی فرښتې پرې نه ښودی بلکه جهنم ته ئې واستولې، او په تورو غارونو کې ئې واچولې چې د عدالت دپاره په قید کې وی." (دویم پطروس ۲ : ۴)

مسیح وویل: "ما دا ولیدل چې څنګه شیطان د بریښنا په شان د آسمان نه راکوز شو." (لوقا ۱۰ : ۱۸)

شيطان ته ځينې وخت «لوسيفر» يا «شرير» هم ويل شوي دي. هغه هڅه کوي چې انسانان د ژوندي خدای د خدمت څخه منع کړي او د هغوی سوچونه او نظريې بدلې کړي.

اول پطروس ۵: ۸ مونږ ته داسې خبرداری راکوي: "تاسو ځان ساتئ او بيدار اوسئ ځکه چې ستاسو مخالف ابليس د غړمبيدونکې مزری په شان په دې لټون کې دی چې څوک ونغری."

شيطان د خبيثه ارواحو سره يو ځای کار کوي ترڅو انسانانو ته نقصان ورسوي، او نابود ئې کړي. متی ۸: ۲۸- ۳۴ د دو تنو ليونيو د خلاصون خبری کوي چې پيريانو او شيطانانو ئې ټول بدن نيولي او تابع کړي وو. خو د خدای قدرت همېشه د شيطان د قوت نه لوړ دی. عيسی مسيح دغه قدرت د انسانانو څخه د بدو روحونو او د پيريانو په شړلو سره خلکو ته ښکاره کولو.

"کله چې ماښام شو نو خلقو عيسی له ډېر داسې کسان راوستل چې پيريانو نيولی وو او هغۀ د هغوی نه په يو حکم پيريان وشړل او ټول رنځوران ئې جوړ کړل. چې دغه رنګ د يشعياه نبی په وسيله وئيلی شوې دا پيشن ګوئی پوره شی چې: «هغۀ زمونږ رنځونه او کمزورئ اوچتی کړی.»"
(متی ۸: ۱۲_۱۷)

کله چې عيسی بيا راشي او د ځمکې پرسر خپله بادشاهي برقراره کړي، نو شيطان به جهنم ته وغورزولی شي.

"او هغوی له دوکه ورکونکی ابلیس د اور او ګوګړو تالاب ته وغورزولی شو چیرته چې ځنګلی ځناور او دروغژن نبی هم ورغورزولی شوی دی او هلته به شپه او ورځ تل ترتله عذابولۍ شی." (مکاشفات ۲۰: ۱۰)

کله چې د شیطان له خوا نه وسوسه کېږئ او یا مو خبیث روحونه تهدیدوي، کولای شئ چې د خدای په قدرت سره په هغو غلبه پیدا کړئ او مضبوط او قایم و اوسئ. یعقوب ۴: ۷ وایي: "نو د خدای تابع شئ، او د ابلیس مقابله وکړئ نو هغه به در نه وتښتي."

د شیطان سره د مقابلې او هغه ته د ماتې ورکولو یوه لار دا ده چې دغه آیت او یا دې ته ورته نور الفاظ په لوړ آواز سره تکرار کړئ، «زه د شیطان د مقابلې لپاره چمتو یم. هغه په ما هیڅ قدرت نه لري. ځکه زه د خدای زوی یم او د عیسی مسیح د وینو په واسطه ساتل کېږم چې په ټولو خبیثو فرښتو او شیطان باندې یې بری حاصل کړی دی.»

"خو زمونږ وروڼه په هغه د ګډوری د وینې په وسیله او د ګواهۍ د کلام په وجه غالب شول، او خپل ځان ئې هم عزیز ونۀ ګڼلو تر دې چې مرګ ئې هم قبول کړو." (مکاشفات ۱۲: ۱۱)

همدا شان په وروستۍ برخې کې به ولولئ چې خدای خپلې فرښتې رالیږي ترڅو ستاسو خدمت وکړي. که چېرې د خدای بچیان هستئ نو ویرې ته هیڅ اړتیا نشته.

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۱– ځکه کوم روح چې خدای موږ ته را کړی دی، د ............... د پاره نه، بلکه د .................،د............او په............. قابو کولو طاقت دپاره. (دویم تیموتیوس ۱: ۷)

۲_ د صحیح جملو مخی ته نښه ورکړئ:

الف) شیطان د غړمبیدونکې زمری په شان دی او غواړی چې په مسیحی ایماندرانو حمله وکړي او ضرر ورته ورسوي.

ب) خبیثه ارواح د هغو انسانانو د تصور او خیال زیږنده ده چې بې خبره او ناپوهه دي.

ج)کولای شو چې د عیسی د وینی په وسیله چې د صلیب (سولی) د پاسه تویه شوې ده په شیطان او خبیثو روحونو باندې بری ترلاسه کړو.

د) که چیرې یو ایماندار په ټینګ عزم سره د شیطان مقابل کې ودریږي هغه ورته ضرر رسولی نه شي.

۳ - متی ۲۵: ۴۱ ولولئ او ووایئ چې شیطان او د هغهٔ بدو فرښتو ته څه پیښیدونکي دي؟

..............................................................................

..............................................................................

## فرښتې

”فرښتی څۀ دي؟ هغوی ټول خدمت ګزار روحونه دي کوم چې د هغه خلکو د خدمت دپاره رالېږلی شوي دي څوک چې د خلاصون وارثان دي.“ (عبرانیان ۱: ۱۴)

آیا تر اوسه مود ساتونکو فرښتو په هکله څه اوریدلي دي؟ دغه فرښتې قصې او افسانې نه دي بلکه حقیقی موجودات دي. مقدس کتاب وایی: ”د خدای فرښتی د هغه کسانو نه چاپیره دي او د هغوی حفاظت کوي کوم چې د خدای څخه ویره لري.“ (زبور ۳۴: ۷)

د فرښتو ډېرې دندې دي چې لومړنۍ یې د خپل خالق خدمت دی. فرښتی خپل ټول عمر دخپل خدای په عبادت او ستاینې کې تېروي. په نحمیا ۹: ۲ کې لولو چې: ”د آسمان لښکری تا ته سجده ږدي.“ هغوی په خپله قدرت نه لري او په خپله خوښه کار نه شي کولای بلکه د عیسی مسیح تر قدرت لاندې دي. اول پطروس ۳: ۲۲ په دې ټینګار کوی چې: ”عیسی آسمان ته ختلی دی او د خدای ښی لاس ته ناست دی،او فرښتی او اختیارات او قدرتونه د هغۀ تابع کړی شوی دی.“

فرښتو د زړې لوظنامې د شرعی قوانینو په ورکړه کې مهم رول درلود (ګلتیان ۳: ۱۹). وروسته د دوی د آواز انګازی د یهودیه د غرونو په لمنو کې اورو چې د عیسی مسیح د زیږیدنې زېری ورکوي (لوقا ۲: ۱۳- ۱۴). مونږ د هغو آوازونه اوریدلی دي او هر کال ئې د عیسی مسیح د پیدایښت د کلیزې پر وخت یو ځل بیا اورو.

فرښتو هغه وخت چې عیسی مسیح د ځمکې پر سر ژوند کاوه د هغهٔ خدمت ئې کولو. په لوقا ۴: ۱۱کې راغلي دي چې د شیطان د وسوسی او آزمایښت څخه وروسته چې په عیسی مسیح ئې په بیابان کې ترسره کړ، فرښتو د هغهٔ مرستې ته ودانګل. هغه وخت چې عیسی مسیح د ګتسمنی په باغ کې ؤ او دعا یې کوله او د غصې له زوره یې د وینې‌خولّه په تندی جاری وه، یوه فرښته راغله څو هغه ته قوت ورکړي او ورسره مرسته وکړي.

مقدس کتاب په ډاګه کوي چې فرښتې زمونږ خدمت هم کوي. که څه هم هغوی اکثراً په سترګو نه لیدل کېږي خو بیا هم زمونږ حفاظت کوي او د خطرونو څخه مو ژغوري. مونږ نه پوهېږو چې تر اوسه څو ځله د خطرونو، مشکلاتو او کړاونو څخه ژغورل شوي یو. ځکه د دغو فرښتو خدمتونه د دې سبب شویدي چې دغه ناوړه واقعې پېښې نشي او مونږ ته نقصان ونه رسېږي.

په دې توګه په یو شی پوهېږو او هغه دا چې فرښتی زمونږ د مرستی لپاره رالېږل شوی دي ځکه مقدس کتاب مونږ ته دغه خبره بیان کړې او زمونږ د هڅونې او تشویق لپاره یې ډېرې نمونې د بیلګې په توګه بیان کړي هم دي. کله چې دانیال د زمرو د کوهي څخه په خوندي توګه رابهر شو، د وخت بادشاه ته یی داسې ګواهی واوروله: "زما خدای خپله فرښته راولېږله او د زمرو خوله ئې وتړله تر څو ماته نقصان ونه رسوي." (دانیال ۶ : ۲۳)

په اول بادشاهان ۱۹: **۵** کې ګورو چې یوه فرښته ایلیا ته هغه وخت خوراک راوړي چې د لوږې او ستړتیا څخه د مرګ حالت ته رسېدلی ؤ. همدا شان کله چې پطروس رسول د انجیل د موعظې په خاطر په زندان کې تر شکنجې لاندې ؤ، د خدای فرښتې دهغهٔ د خلاصون لپاره ودانګل او هغه یې د بند څخه آزاد کړ.(اعمال ۱۲: ۷)

فرښتې څه لیدونکې وي او څه نا لیدونکې، مګر دا پوهېدل ضروري دي چې هغوی زمونږ د خدمت لپاره ملا تړلې ده. څومره د تسلۍ څخه ډکه خبره ده کله چې پوهېږو چې فرښتې دې ته چمتو دي چې هر څه خدای فرمایي هغه پر ځای کړي.

څرنګه چې پورته هم اشاره وشوه فرښتی په خپل سر کوم کار نه کوي بلکه د خدای د قدرت او فرمان په تابع دي. هغوی خپل پرستش ته هم اجازه نه ورکوي او هغه نه قبلوي. یوحنا د عیسی مسیح ګران مرید د هغې پیغام څخه چې د فرښتې له خوا ورته ورکړی شوی ؤ دومره وارخطا شو چې پر ځمکه پریوته او سمدستی ئې د فرښتې په عبادت پیل وکړ. خو فرښتې هغه د دې کار څخه منع کړ او داسې یې ورته وویل: "... نه، داسې مه کوه! زه هم د تا او ستا د وروڼو په شان یو خادم یم چې د عیسی شهادت لری او تش خدای ته سجده کوه." (مکاشفه ۱۹: ۱۰)

تاسو نشئ کولای چې د فرښتو عبادت وکړئ، مګر کولای شئ چې هغه څه تر سره کړئ چې د هغوی د خوشحالۍ باعث وګرځي. که چېرې تاسو خپل ژوند مسیح ته سپارلی وي نو

هغوی اوس خوشحاله دي. عیسی مسیح فرمایلي دي: "هم په دغه جوړ زه تاسو ته وایم چې د یو ګناه ګار په توبه کار کیدو د خدای په فرښتو کې هم دغه خوشحالي کیږي." (لوقا ۱۵: ۱۰)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۴_ لاندیني آیتونه ولولئ او د هر یو مخې ته د فرښتو هغه دندې ولیکئ چې په هغې آیت کې ذکر شوي دي.

الف) عبرانیان ۱: ۲ ..................................................

ب) پیدایښت ۲۴: ۴۰ ..................................................

ج) زبور ۹۱: ۱۱ ..................................................

۵_ د صحیح ځواب مخې ته نښه ورکړئ.

فرښتي ..................................................

الف) هغه موجودات دي چې باید عبادت یې وُشي.

ب) کولای شي چې د خدای د امر نه بغیر په خپله خوښه کار او یا خبرې وکړي.

ج) د خدای خدمتګاران دي او د هغهٔ د بچیانو سره مرسته کوي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ – وېره، قدرت، مینه، نفس

۲ – الف) شیطان د غړمبیدونکې زمری په شان دی او غواړی چې په مسیحی ایماندرانو حمله وکړي او ضرر ورته ورسوي.

ج ) کولای شو چې د عیسی د وینی په وسیله چې د صلیب (سولۍ) د پاسه تویه شوې ده په شیطان او خبیثو روحونو باندې بری ترلاسه کړو.

د) که چېرې یو ایماندار په ټینګ عزم سره د شیطان په مقابل کې ودرېږي هغه ورته ضرر رسولی نه شي.

۳ – تل عمری اور

۴ – الف) د خدای عبادت

ب) د بري او کامیابۍ بخښنه

ج) حفاظت او ساتنه

۵ ـ ج) د خدای خدمتګاران دي او د هغهٔ د بچیانو سره مرسته کوي.

لسم لوست

# زمونږ راتلونکی

ټول خلک د راتلونکې معلوماتو د ترلاسه کولو سره دلچسپي لري. ډېر ښه او بد کتابونه په دې اړه لیکل شوی دي چې خلک به په راتلونکی کښې د کومو پېښو انتظار کوي؟ هم دارنګه د دولت د پوهانو او مشرانو څخه همېشه دغه پوښتنه کېږي چې ملت به ئې په راتلونکې کې د کومو پېښو سره مخامخ شي؟

خلک همېشه د خپل راتلونکې په اړه پریشانه وي او له همدې وجې څخه هغوی کوډو، تعویذونو، فالونو او داسې نورو خرافاتي شیانو ته مخه کوي ترڅو د راتلونکې په اړه هغوی ته معلومات ورکړي.

یوه ورځ یوه ښځه په بېړې سره ما ته راغله او زما څخه یې وغوښتل چې خپل لاس ورته ښکاره کړم څو زما فال وګوري او ماته زما د راتلونکې په اړه څه ووایي. خو کله چې ما ورته وویل چې ماسره یو کوچنی کتاب شته چې زما راتلونکی یې راته روښانه کړی دی هغه ډېره حیرانه شوه. خو د هغې حیرانتیا هغه وخت زیاته شوه چې ما ورته وویل چې دا کتاب ستا د راتلونکې په هکله هم دی. بیا مې د نوې لوظنامې یو ټوک هغې له ورکړ.

مقدس کتاب یوازینی تفسیري او د راتلونکې په هکله د حقیقت د اظهار یوه منبع ده چې خدای زمونږ د پوهې لپاره هغه څه چې لاژم دي پکښې بیان کړي دي. نور د فال نیولو، د بخت او طالع د خلاصولو او کوډو او جادو ته هیڅ حاجت نشته. په حقیقت کښې دا هغه ناوړه کارونه دي چې د خدای له خوا منع شویدي.

که چېرې تاسو د خپل راتلونکې په اړوند پریشانه یاست او نه پوهېږئ چې د عیسی دبیا راتګ پر وخت به څه پېښېږي، نو یقیناً به ددې لوست د لوستلو څخه خوند واخلئ. په دې لوست کې به د مالک د بیا راتګ او د هغه د عدالت کولو (یوم الحساب یا د محشر ورځ) په اړوند خبرې وشي. حتی فرښتې هم چې په تېر لوست کې مو د هغوی په باره کې معلومات حاصل کړل، دې ته لیواله دي چې پوه شي چې خدای کله بېرته راستنیږي.

اجازه راکړئ چې د مقدس کتاب په رڼا کې وګورو چې زمونږ د راتلونکې په هکله څه پېښیږي.

## هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولئ

د ایماندارانو پورته تګ

د عیسی مسیح څمکنۍ بادشاهي

د بې ایمانانو عدالت او محاکمه

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی ترڅو...

- په دې پوه شئ چې څه وخت او د چا لپاره پورته کېدل صورت نيسی.
- د زرکلن حکومت او د عدالت د سپين او لوی تخت په تعريف او معنیٰ پوه شئ.
- خپلې سترګی د هغه ابديت په لورې واړوئ او د هغې تل پاتې ژوندون انتظار وکړئ چې له مسيح سره به يې ولرئ.

## د ايماندارانو پورته تګ

په پنځم لوست کې مونږ د «پورته تګ» د کليمې په معنی پوه شوو. دغه کار د عيسی بيا راتګ ته اشاره کوي چې د هغهٔ کليسا به په فضا کې له هغهٔ سره ملاقات وکړي. هيڅوک د دې کار د پېښېدو نيټه نشی اټکل کولای. يوازی پلار خدای د هغی څخه خبر او د پېښېدو نيټه ورته معلومه ده. مقدس کتاب وايی: "خو هغه ورځ او هغه ګړۍ هيڅا ته معلومه نه ده، نه خو د آسمان فرښتې پرې خبرې دي او نه زوی، خو يو پلار پرې خبر دی." (متی ۲۴: ۳۶)

خو داسې علايم شته چې مونږ ته خبرداری راکوي چې د ايماندارانو پورته تګ نږدې دی. مسيح په دې هکله فرمايلي دي چې ددې ورځې د راتلو څخه به وړاندې دنيا د شرارت، بيرحمۍ، سختۍ او دښمنۍ په لمبوکې سوځي او دغه پېښې به ډېرې لوړې کچې ته ورسېږي. دروغجن مسيحان او ساختګي پيغمبران به راښکاره شي. زلزلې، قحطۍ، او

ناروغۍ به د ځمکې هرې خوا ته خورې شي. د جنګونو اورونه به هر طرف بل شی. ټولی دغه علامې چې د متی ۲۴ فصل او لوقا ۲۱ فصل کې راغلي دي، نن ورځ د پېښېدو په درشل کې دي.

خو سره ددې هم ټول اړخونه په منفي طرف حرکت نه کوي. ددې ټولو ناخوالو او وېرونکو شرایطو باوجود به هم خلک د خدای په لټه کې وي، او د هغه برکتونه به تر لاسه کوي. په یوئیل۲: ۲۸ – ۲۹ کښې دا موضوع په دې ډول روښانه شوې ده: ”دې نه وروسته به خپل روح په ټول بشر نازل کړم، ستاسو زامن او لورګانې به نبوت وکړي. ستاسو بوډاګان به خوبونه او ځوانان به مو رویاګانې ویني. په هغه ورځ به زه خپل روح ستاسو په غلامانو او وینځو هم نازل کړم.“

مسیحیان په ډېرې خوشحالۍ او لیوالتیا سره د پورته تګ پېښې ته سترګې په لارې دي. هغه کسان چې په هغې موقې کښې مړه شویدي، هغوی به بیرته ژوندی شي او هغه کسان چې ژوندی دي هغوی به بدلون وکړي. بیا به ټول به په ګډه سره پورته وخيژولی شي، او په فضا کې به د عیسی مسیح خدای هرکلی وکړي.

”ګورئ! زۀ به درته یوه د راز خبره کوم چې مونږ ټول خو به نۀ مرو بلکه مونږ ټول به بدل شو، د سترګی په یو رپ کښی چې ورستی بګل وغږیږی او د بګل د آواز سره به مړی په غیر فانی حالت کښی راژوندی شی، او مونږ به بدل شو. ځکه چې ضروری دی چې دا مړ کیدونکی جسم د غیر فانی جامی

واغوندی او دا مړ کیدنکی جسم د دَ ابدی ژوندون جامی واچوی." (اول کورنتیان ۱۵: ۵۱ - ۵۳)

د پورته تګ څخه وروسته به مسیحیانو سره انصاف وشي او مسیح ته د هغوی د وفادارۍ په مطابق به اجر تر لاسه کړي. بیا به هغوی د ګډوری د واده مابنام ته لاړ شي، او مسیح، دا د خدای ګډوری به کلیسا ته د خپلې ناوی په توګه هرکلی ووائی، "ځکه چې دا ضروری ده چې د مسیح د عدالت د تخت په وړاندې چې مونږ حاضر شو نو چې زمونږ د ټولو حال څرګند کړی شی نو هر څوک به د خپلو هغو کارونو بدل ومومی کوم چې هغوی د وجود په وسیله کړي دي که بد وی او که ښه."
(دویم کورنتیان ۵: ۱۰)
مونږ پوهیږو چې زمونږ ګناهونه د عیسی مسیح په وینو پوښل شوي او پټ دي او د هغو لپاره مونږ ځواب ورکوونکې نه یو. مګر د خپلې وفادارۍ په خاطر چې د مسیح ته یې لرو خپل اجر او بدل به تر لاسه کړو. کله چې د ژوند په پړاو کې مونږ د سختیو او ستونزو سره مخامخ کیږو نو ښه به دا وي چې په یاد ولرو، عیسی مسیح هلته حاضر دی او هر څه ګوري.

مقدس کتاب وایی: "راځئ چې خوشحالیږو او د خوشحالۍ چغې وباسو او د هغهٔ لوئی بیان کړو ځکه چې د ګډوری د وادهٔ ورځ راغلې ده او د هغه ناوې ځان سمبال کړی دی، او ورته د مهینی لټې جامې ورکړی شوی دي چې صفا ځلقیدونکی دي. او دا مهینه لټه د پاکانو ښه کارونه دي. بیا فرښتې ماته وویل چې «دا ولیکه: بختور دي هغه خلک چې د

ګډوری د واده میلمستیا ته رابللی شوی دي!» او نو ئې وویل چې «دا د خدای برحق کلام دی.»“ (مکاشفه ۱۹: ۷ – ۹)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۱ـ د اول تسالونیکیانو ۴: ۱۲-۱۷ په مطابق کومې لاندینی جملې صحیح دي؟

الف) کله چې بګل (شپیلۍ) وغږول شی ټول مړی ژوندي کیږي.

ب) خدای په دې وخت کې ځمکې ته راځي څو د ټولو ګناهګارانو سره انصاف وکړي.

ج) هغه ایمانداران چې د پورته تګ نه وړاندې مړه شوي وي هغوی بیا ژوندي کیږي.

د) ټول ژوندي او مړه ایمانداران په ګډه پورته تګ کوي او تر ابده پورې به له خدای سره وي.

۲ـ کومی نښې او علامې په دې دنیا کې وینئ چې د عیسی مسیح د بیرته راتلو د وخت په نږدیوالی ټینګار کوي؟

## د عیسی مسیح ځمکنی بادشاهی

خدای به د خپل قوم سره یو ځای بیا ځمکې ته راځی څو زرکاله بادشاهی وکړي. دغی زمانی ته «زرکلنه بادشاهي» وايي.

مقدس کتاب دغه دوره د مځکې پر مخ د لويې خوشحالۍ او سولې دوره بولي. د یهوداپه څوارلسم آیت کښې راغلي دي چې: "... ګورئ! مالک به د خپلو زرګونو پاکانو سره راځی."

"بختور او قدوس هغه دی چې په دې اولنی قیامت کښې شریک دی ځکه چې په داسې خلکو دویم مرګ اختیار نه لری بلکه هغوی به د خدای او د مسیح کاهنان وی او د هغه سره به تر زرو کالو پورې بادشاهی کوي." (مکاشفه ۲۰ : ۶)

"لیوه به د ګډوری سره په شریکه ژوند کوي او پړانګ به له وزګړي سره یو ځای ویده کېږي. خوسکي به د زمری د بچیانو سره په ګډه قدم وهي او یو ماشوم به هم وشی کړای چې هغوی سمبال کړي." (یشعیاه ۱۱ : ۶)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۳ـ د هغو جملو مخې ته نښه ورکړئ چې دا لاندې ناقصه جمله په صحيح توګه تکميلوي:

زرکلنه بادشاهي چې په مقدس کتاب کې يې ذکر راغلی دی، يوه اشاره ده..................................................

الف) د مسيح زرکلنۍ ځمکنۍ بادشاهۍ ته.

ب) يوه سوکاله او آرامه دورې ته.

ج) هغه حکومت ته چې ټول ايمانداران به ئې د مسيح سره يو ځای په ځمکه تېروي.

## د بې ايمانانو عدالت او محاکمه

پس له دې چې مسيح زرکاله بادشاهی وکړه، هغه ګناهګاران چې تر دې وخته پورې د مړو په دنيا کې وو، بېرته به را ژوندی شي ترڅو د محاکمی او حساب کتاب لپاره د خدای پر وړاندې ودريږی. نو بيا به شيطان او د هغه پيروانې فرښتې او ټول شريران د جهنم اور ته واچولی شي.

دغه محاکمې ته د «لوی سپين تخت» عدالت وايي چې د مکاشفی د شلم باب په څو ايتونوکښې د هغې پوره وضاحت شوی دی.

"بيا ما يو لوی سپين تخت وليدو او يو سړی چې پاس پرې ناست وو، د هغه د مخ نه مزکه او آسمان وتښتيدل او غائب شول. ما لوی او واړه مړی د تخت د وړاندې ولاړ وليدل او کتابونه پرانستلی شول. بيا يو بل کتاب پرانستلی شو، يعنی د

ژوندون کتاب. په دې کتابونو کې څه چې د مړو د عملونو لیکلی وو د هغې په مطابق د هغوی عدالت وشو. سمندر خپل مړی چې په کې وو، ورکړل او مرګ او عالم ارواح په خپله قبضه کې چې مړی وو، ورکړل او د ټولو عدالت د هر چا د خپل عمل په مطابق وشو. بیا مرګ او عالم ارواح د اور تالاب ته وغورزولی‌شول، د اور تالاب دویم مرګ دی. او په دې کې هغه کسان وغورزولی شول، د چا نومونه چې د ژوندون په کتاب کې درج نه وو." (مکاشفه ۲۰: ۱۱– ۱۵)

ټول هغه کسان چې نوم یې د ژوندون په کتاب کې لیکل شوی دي، هغوی د عیسی مسیح پیروان دي او ورته وېره نشته ځکه هغوی به همېشه او تر ابده د عیسی مسیح سره وی.

یوحنا هغه څه چې په رویا کې لیدلي وو په مکاشفه کې مونږ ته داسې بیانوي:

"او ما پاک ښار، یعنی نوی بیت المقدس ولیدلو چې د خدای له طرفه له آسمان نه راکوزیدو، او دا داسې تیار کړی شوی وو لکه چې ناوې د خپل خاوند دپاره ښکلې تیاره کړی شوی وي. ما له تخت نه یو اوچت آواز واوریدو چې دا ئې ویل چې ګورئ! اوس خدای د بنی آدمو په مینځ کې استوګنه کوی، هغه به د هغوی سره اوسیږی او هغوی به د هغه امت وی او خدای به په خپله د هغوی سره وی." (مکاشفات ۲۱: ۲_۳)

د سپین تخت د عدالت د مراسمو څخه وروسته، د خدای بچیان به د هغۀ سره وي او خدای به د دوی لپاره نوی آسمان او نوی ځمکه تیاره کړي.

"هغه به د هغوی د سترګو ټولې اوښکې وچې کړي، هلته به نه مرګ، نه وېره، نه ژړا او نه درد وی ځکه چې وړومبی څيزونه تېر شوی دي." (مکاشفه ۲۱: ۴)

## هغه څه چې تاسو ئې بايد سرته ورسوئ

۴_ مکاشفه ۲۲: ۲۰ ولولئ او د هغې له مخې خالي ځايونه ډک کړئ.

او څوک چې د دې خبرو..................ورکوي هغه وائی چې "هو، زه.................!" آمين مالک عيسی ...........!

۵_ دا لاندنۍ جمله د ورکړل شوو جملو څخه پوره کړئ.

کومه يوه صحيح ده؟

تر ابده پورې خدای سره اوسيدل.....................................

الف) د تېرو شوو ګناهونو د يادولو او د هغو څخه توبه کولو وخت دی.

ب) د خوشحالۍ او د خدای سره تل پاتې يا ابدي ژوندون وخت دی.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱ _ (ج)، (و) او (د) صحيح دي.

۲ـ ستاسو ځواب باید داسې وی: د روح القدس نازلیدل، په مسیح باندې د ډېرو کسانو ایمان راوړل، د انجیل د زیرې رسیدل ټولی دنیا ته.

۳ ـ ټول ځوابونه صحیح دي.

۴ – شهادت، زر درځم، راشه.

۵ – ب) د خوشحالۍ او د خدای سره تل پاتې یا ابدي ژوندون وخت دی.

ستاسو یادداشت

# د خدای شريعت

زما نه بغير د هيچا او هيڅ شي عبادت مه کوه.

ځانته ته د هيڅ شي نه بت يا مجسمه مه جوړوه.

زما د نامه څخه نا جايزه استفاده مکوه.

د سبت ورځ سپيڅلې وګڼه او هغه په ياد ساته.

د خپل پلار او مور درناوی کوه.

قتل مه کوه.

زنا مه کوه.

غلا مه کوه.

په چا د دروغو الزام مه لګوه.

د چا مال ته د طمعې په سترګه مه ګوره.

په لسم لوست کې مو وليدل چې په راتلونکی کې به څه کار کوو. په دې لوست کې به دا موضوع وڅېړو چې په اوسنی حاضر وخت کې څه بايد وکړو. خدای لس حکمونه د کاڼو په دوو تختو کښې وليکل او هغه ئې د بنی اسرائيلو لوی لارښود

موسیٰ ته ورکړل چې خپل قوم ته ئې ورسوي. که څه هم چې دغه احکام زاړه دي خو اوس هم د تطبيق وړ دي.

## هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولئ

د خدای د شريعت مفهوم او هدف

د شريعت څخه تابعداری

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی تر څو ...

- د دې لسو شرعی حکمونو د هر يوۀ په معنی پوه شئ.
- په دې پوه شی چې خدای ولی قوانين وضعه کړل.
- د قوانينو په اطاعت کولو کې خپل مسؤليت ومنئ.

---

## د خدای د شريعت مفهوم او هدف

---

خدای موسیٰ ته وويل: "دوه د کاڼو تختی ځان ته د لومړنيو تختو په شان جوړې کړه، څو هغه خبری چې په لومړينو تختو کښې ليکل شوې وې او تا ماتی کړې، هغه يو وار بيا درته په دغو ډبرينو تختو کښې وليکم." (خروج ۳۴: ۱)

د مقدس کتاب د خروج په شلم باب کې دغه لس حکمونه چې خدای ليکلي دي، زمونږ لپاره ثبت شوي دي. خدای دغه لس حکمونه د قوانينو او لارښودونو د کتاب په توګه نازل کړل ترڅو د هغۀ بچيان ورڅخه پيروی وکړي. راځی چې دغه لس حکمونه هر يو په جلا جلا توګه تر څيړنې لاندې ونيسو.

**زما نه بغير د هيچا او هيڅ شی عبادت مه کوه.**

لکه څنګه مو چې په دویم لوست کې ولوستل، مونږ باید په خپل ژوند کې لومړنی ځای خدای ته ځانګړی کړو. دا حکم په متی ۴: ۱۰ کې بیا تکراریږی:"خو عیسی ورته وویل چې: «ورک شه شیطانه! صحیفی وائی چې ته به خپل مالک خدای ته سجده کوی او تش د هغه بندګی به کوی»."

**ځانته ته د هیڅ شی نه بت یا مجسمه مه جوړوه.**

مونږ یوائې د خدای څخه تابعداري کوو او خپله وفاداری ویشلای نه شو. عیسی مسیح وفرمایل، "یو نوکر هم د دوو مالکانو خدمت نه شی کولی..." (لوقا ۱۲: ۱۳) ځکه که یو پرې ګران وي نو د بل نه به نفرت او کرکه کوي. زمونږ څخه د دې خبری تمه او هیله کیږی چې د خدای سره ریښتیني و اوسو او د زړه د کومی د هغه سره مینه او محبت وکړو.

**زما د نامه څخه نا جایزه استفاده مکوه.**

خلکو دغه دریم حکم نورو ته په لعنت وئیلو او د خدای له نامه څخه دخپلو بدو اهدافو د لاس ته راوړلو په وجه، مات کړی دی. دا خدای ته په سپکه نظر کتل دي. مونږ همېشه هغه نوم ته چې د ټولو نومونو څخه لوړ دی، درناوی کوو او ورته د قدر په سترګه ګورو.

"ستاسو د خولی نه دې هم یوه خرابه خبره ونه شی بلکه هغه ښه خبره چې د ضرورت په مطابق د ترقی دپاره غوره وی، د دې دپاره چې د هغې له مخی د هغې په آوریدونکو فضل کېږی." (افسیان ۴ : ۲۹)

"خو زه تاسو ته دا وایم چې چېرې هم قسم مه خورئ، په آسمان باندې هم نه، ځکه چې دا د خدای تخت دی، او نه په مزکه ځکه چې دا د هغه د پښو چوکۍ ده، او نه په بیت المقدس ځکه چې دا د لوی بادشاه ښاریه ده."
(متی ۵ : ۳۴ – ۳۵)

**د سبت ورځ سپیځلې وګڼه او هغه په یاد ساته.**

دا یوازینی حکم دی چې په نوې لوظنامې کې نه دی تکرار شوی. زیاتره عیسویان د یهودانو د سبت د ورځې رعایت نه کوي او د هغې پر ځای د یکشنبې د ورځې لمانځنه کوي ځکه دا د هفتی لومړنۍ ورځ وه چې عیسی مسیح د مړو څخه را پورته شو. هره یکشنبه مونږ ته دغه قیامت رایادوي. دا ډېره مهمه ده چې د استراحت او عبادت لپاره یوه ځانګړې ورځ وټاکو. مګرکومه ورځ چې ټاکو دا دویم درجه اهمیت لري. کولوسیان ۲ : ۱۲ وائي: "نو هیڅوک هم د خوراک څښاک یا د اختر یا د نوی میاشت یا د سبت په حقله دې په تاسو الزام ونه لګوی. ځکه چې دا د راتلونکو څیزونو سوری دی خو مسیح حقیقت دی."

"څوک خو داسې دی چې یوه ورځ په نورو ورځو افضله ګڼي او څوک ټولې ورځې یو برابر، خو هر سړی دې په خپل زړه کې پخه عقیده لری." (رومیان ۱۴ : ۵ )

**د خپل پلار او مور احترام کوه.**

د خروج دکتاب په ۲۰ : ۱۲ کښې هغو اولادونو ته چې د خپل مور او پلار اطاعت کوي ځانګړې وعده ورکړل شوې ده او

وائي: "د مور او پلار احترام کوه څو په هغه ځمکې کې چې خدای يې تاته درکوی اوږد ژوند وکړې." په نوې لوظنامې کښې هم په همدې حکم ټینګار شوی دی.

"ای بچو! ایماندارانو ته په کار دي چې د خپل مور او پلار حکم منی ځکه چې دا ښه کار دی." (افسیان ۶: ۱)

**قتل مه کوه.**

لمړنی قاتل قائن ؤ چې خپل ورور هابیل یی و واژه. قائن فکر کاوه چې هغه کار چې دۀ تر سره کړی دی، هیچا نه دی لیدلی. مګر خدای هغه لیدلی ؤ. خدای قائن ته وویل: "دا تا څه کړیدي؟ د ورور وینه دې د ځمکې څخه ماته فریاد کوي." (پیدایښت ۴: ۱۰)

قتل داسې یوه ګناه ده چې د ځنځیر په شان غبرګونونه ترشا لری. دغه ګناه هم د قاتل او هم د مقتول کورنۍ او خپلوانو ته نقصان اړوی. او له بله پلوه د خدای په نزد چې انسان يې د خپل په صورت او مثال کې پیدا کړیدی، هم یوه لویه ګناه شمېرل کېږي.

**زنا مه کوه.**

زنا هغه ګناه ده چې انسان د یو چا سره د جنسی اړیکو په ټینګولو سره هغه وعده ماتوي چې د نکاح په وخت ئي د خپل د ژوند له ملګري سره کړې ده (چې نر او ښځه دواړه پکښې شامل دي). په نوې لوظنامې کې لیکل شویدي: "واده دې په تاسو ټولو کې د عزت خبره وګڼلی شی، ښځه او خاوند دې د یو بل

سره وفادار پاتې شی ځکه چې خدای به په خپله د حرامکارو او زنا کارو عدالت کوی.“ (عبرانیان ۱۳ : ۴)

**غلا مه کوه.**

غلا یو غلط کار دی چې انسان هغه ملکیت چې په هغه پورې تعلق نه لري په ناجائزو طریقو سره تر لاسه کړي، حتی که دا د یو مالدار انسان ملکیت هم وی او هغه ورته ضرورت هم ونه لري. مقدس کتاب وائي: ”غل دې بیا غلا ونه کړی بلکه ځه ښه کسب دِ شروع کړی او په خپلو لاسونو دِ محنت او ګټه کوی، د دې دپاره چې حاجتمندو ته د ورکولو دپاره د هغه سره هم څه وی.“ (افسیان ۴: ۲۸)

**په چا د دروغو الزام مه لګوه.**

په نهم حکم کښې هر هغه ډول دروغ شاملېدای شي چې په ګفتار (وینا) کې وي یا په کردار (عمل) کې. د خدای پر وړاندې د «ښو» او «بدو» دروغو ترمینځ کوم فرق نشته او د هغی له نظره ټول هغه تهمتونه او الزامونه چې حقیقت نه لري، که ښه وي او که بدګناه شمېرل کېږي. زبور ۱۰۱: ۷ وائي: ”دوکه باز به زما په کور کې ونه اوسیږی او دروغجن به زما په نزد پاتې نه شي.“

”خو د ویریدونکو، بې ایمانو، پلیتانو، قاتلانو، حرامکا-رانو، جادوګرانو، بت پرستانو او هر قسم دروغجنو برخه به په هغه تالاب کې وی چې په کې د ګوګړو اور بلیږی، او دا دویم مرګ دی.“ (مکاشفه ۲۱ : ۸)

**د چا مال ته د طمعې په سترګه مه ګوره.**

هغه شي ته په حرصناکو سترګو کتل چې په بل چا پورې اړه لري، طمع ویل کېږي. لوقا ۱۲: **۱۵** دغه عمل په دې ډول بیانوي: "خبردار شئ! د هر قسم حرص نه ځان ساتئ ځکه چې که د یو سړی سره ډېر زیات مال هم وی خو دولت د هغه ژوند نه شی زیاتولی."

خدای دغه قوانین ځکه مونږ ته راکړل تر څو د هغه په وسیله ښه او بد مونږ ته زده کړي او تصمیم نیولو په وخت کښې زمونږ لارښونه وکړي.

"نو بیا د شریعت څه؟ شریعت ځکه وروستو ورکړی شو چې د دې په وسیله ګناه ظاهره شی تر څو چې د ابراهیم د نسل راتلل جاری وی چا سره چې وعده شوی وه، او شریعت د فرښتو په وسیله د یو مینځګړی په لاس مقرر کړی شو. پس شریعت مسیح ته د را رسولو پورې زمونږ ساتونکی وو د دې دپاره چې مونږ د ایمان په وسیله صادق شو." (ګلتیان ۳ : ۱۹، ۲۴)

**هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ**

۱ـ د خروج د کتاب شلم فصل په غور سره ولولئ. وروسته د لسګونو فرمانونو هر حکم په مختصره توګه او د هغه د آیت په ذکر سره ، لاندې ولیکئ.

الف) اول ..........................................................................

ب) دویم ..........................................................................

ج) دریم..........................................................................

د) څلورم ..........................................................................

ه) پنځم ..........................................................................

و) شپږم ..........................................................................

ز) اووم ..........................................................................

ح) اتم ..........................................................................

ط) نهم ..........................................................................

ی) لسم ..........................................................................

۲ـ عبرانیان ۱۳: ۵ ولولئ. ستاسو په نظر د دې آیت د لیکلو پر وخت، د پولس په ذهن کښې کوم فرمان یا فرمانونه وو؟

..........................................................................

..........................................................................

## د شریعت څخه تابعداري

خدای زمونږ نه غواړي چې د هغهٔ فرمانونه نه یوازی په عمل کې پلي کړو، بلکه هغه د خپل د کرکتر او شخصیت یوه برخه وګرځوو. یعنې د خلکو سره مینه او محبت وکړو، نورو ته ترجیح ورکړو او د هغوی له ځانه څخه لوړ وګڼو.

"ځکه چې دا حکمونه چې «زنا مه کوئ، خون مه کوئ، غلا مه کوئ، حرص مه کوئ» او د دې نه علاوه نور چې څه حکمونه دي، د هغې ټولو خلاصه په دې کې ده چې «د خپل ګاونډی سره د خپل ځان په شان مینه محبت کوئ.»" (رومیان ۱۳: ۹)

"ځکه چې د خدای سره مینه لرل د هغه په حکمونو عمل کول دی، او هغه څه پیتی نه دی." (اول یوحنا ۵: ۳)

مونږ په دی پوهېږو چې د قوانینو او شریعت رعایتول مونږ نه شی ژغورلی بلکه د خدای د رحم او په عیسی مسیح د ایمان په واسطه نجات مومو افسیان ۲: ۸ – ۹ دغه مطلب تائیدوی او وایي: "ځکه چې تاسو د ایمان په وسیله په فضل خلاصون موندلی دی، دا ستاسو له طرفه نه نه، بلکه د خدای بخښنه ده. او دا د عملونو په سبب نه ده، د پاره د دې چې څوک فخر ونهٔ کړی."

سره ددې هم مونږ د خدای د قوانینو څخه اطاعت کوو ځکه د هغهٔ د بچیانو په توګه مونږ ته د هر څه نه لوړه د هغه رضایت او خوشحالۍ حاصلول دي. که چېرې مونږ د خدای یو حکم هم ماتوو نو پکار ده چې بې له ځنډه توبه وباسو او هغهٔ څخه وغواړو چې مونږ وبخښي او ګناهونه مو معاف کړي.

"زما بچو ! د دغو خبرو د ليکلو نه زما مطلب دا دی چې تاسو ګناه مه کوئ، خو که چېرې څوک ګناه وکړی نو د پلار سره زمونږ يو شفاعت کونکی دی ، يعنیعيسیٰ مسيح چې صادق دی. هغه په خپله زمونږ د ګناهونو کفاره دی، نۀ يوائې زمونږ د ګناهونو بلکه د ټولی دنيا د ګناهونو هم."
(اول يوحنا ۲ : ۱ – ۲)

آيا تاسو خپل ځان کله کله عاجز او حتی نافرمانه احساس کړی دی؟ په دې حال کې عيسی مسيح کولای شی ستاسو سره مرسته وکړي او هغه قوت او طاقت چې تاسې ورته ضرورت لرئ تاسو ته درکړي. آيا تاسو دې ته مايل ياست چې خپل سرونه ټيټ کړئ او همدا اوس له هغه څخه وغواړئ چې له تاسو سره مرسته وکړي؟

"ای په آسمان کې پلاره! په دې خاطر چې ما هسې چې لاژمه وه له تا سره مينه نه ده کړې، ډېر خفه يم او افسوس کوم. ما وبخښه او مرسته راسره وکړه څو په ګناه ککړ نه شم او ستا د قوانينو څخه سرغړونه ونه کړم.

ای زما خدايه! زه غواړم چې تاسره دوستی او مينه وکړم او ستا د نوم څخه دفاع وکړم. د هغه مينې څخه زيات چې د خپل ځان سره يې لرم او د هغې دفاع څخه زياته چې خپل ځان او خپلی کورنۍ څخه يې کوم.

خپل زور او قوت ما ته راکړه. ټولی دغه غوښتنې او دعاوې د عيسی مسيح په نوم چې خپل ژوند يې زمونږ په خاطر قربان

کړې دی، ستا حضور ته در وړاندې کوم، څو د قبلولو مقام ته ورسیږي.“

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۳ـ اول یوحنا ۳: ۱۵– ۱۸ ولولئ. د دې آیت په مطابق دا لاندیني کومې جملې صحیح دي؟

الف) رفتار یا سلوک هم د عمل په شان د اهمیت وړ دی.

ب) هر څوک چې د خپل ورور څخه کرکه کوي، هغه هم قاتل دی.

ج) د خدای سره مینه او د خپل ورور سره مینه هم د خدای د شریعت یوه برخه ده.

۴ ـ رومیان ۸: ۳ – ۴ ولولئ او لاندې جملې په صحیح توګه پوره کړئ.

الف) خدای ګناه د بشر په طبیعت کې د ........................ محکوم کړ.

ب) هغه څه چې شریعت یې زمونږ څخه غواړی کولای شو په پوره ډول سرته ورسوو ځکه چې مونږ د .................. په مطابق ژوند تېروو.

۵ـ (یوحنا ۱۴: ۲۱) ولولئ او د دې آیت په رڼا کې خالی ځایونه ډک کړئ.

الف) هغه څوک چې خدای سره مينه کوي ......................

ب) خدای هم په خپل وار سره وعده کوي ......................

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱ـ خپل ځوابونه د لاندې آياتونو سره مقايسه کړئ.

الف) خروج ۲۰: ۳

ب) خروج ۲۰: ۴ ـ ۶

ج) خروج ۲۰: ۷

د) خروج ۲۰: ۸ ـ ۱۱

ه) خروج ۲۰: ۱۲

و) خروج ۲۰: ۱۳

ز) خروج ۲۰: ۱۴

ح) خروج ۲۰: ۱۵

ط) خروج ۲۰: ۱۶

ی) خروج ۲۰: ۱۷

۴ـ الف) د خپل زوی په را استولو سره.

ب) روح

۳ ـ ټول ځوابونه صحيح دی.

۵ ـ الف) هغه د هغهٔ د حکمونو په مطابق عمل هم کوي.

ب) چې هغه سره مینه کوی او ځان ورته څرګندوي.

٢ـ کیدای شي د پولوس په ذهن کښې دغه فرمانوه وو. «زما نه بغیر د هیچا او هیڅ شی عبادت مه کوه» او همدا شان ځینې داسې کسان وو چې د هر شي نه زیات یې د مال او دولت سره مینه کوله. یا «غلا مه کوه» ځکه هغه وئیل چې خدای به تا هیڅکله یوازی پری نږدي او په دی اساس ته غلا ته هیڅ ضرورت نه لرې یا دا فرمان «د چا مال ته د طمعې په سترګه مه ګوره» ځکه هغه وویل، هغه څه چې لرې قناعت پرې وکړه او بل ته طمعه مه کوه.

ستاسو یادداشت

دولسم لوست

# د خدای سره زمونږ اړیکې

په دې وپوهېدو چې دیو مسیحی مؤمن په توګه زمونږ لمړنی مسئولیت دا دی چې د خدای سره مینه او محبت ولرو. لکه څنګه چې مو په یوولسم لوست کې ولوستل، مونږ ځکه د خدای قانون په مطابق عمل کوو چې له هغه سره مینه لرو. نو په دې توګه زمونږ رابطه د خدای سره په دوستی او مینې باندې ولاړه ده.

د اول کورنتیان په دیارلسم باب کښې د مینې او محبت په هکله یو ډېر ښایسته متن وجود لري چې د ۴ څخه تر ۸ آیت پورې دی او وایي چې: "مینه صابره ده، مینه مهربانه ده او هیچا سره کینه نه لری، مینه نه خو لافې وهی او نه لوئی کوی، نه بې ادبی کوی، نه په خپل مطلب پسی ګرزی، نه غصه کوی او نه بدګمانی کوی. مینه د نورو د بدو حساب نه ساتی او نه د نورو په بدکارئ خوشحالیږی بلکه په رښتیاؤ خوشحالیږی. داسې هیڅ څیز نشته چې مینه ئې زغملی نه شی په هر څه یقین کوی، د هر څه امید لری او د هر څه زغم کوی. د مینی زوال نشته. که نبیان وی نو د هغوی کار به ختم شی، که ژبې وی نو ختمی به شی، که علم وی نو فنا به شی."

دا کومه تصادفي خبره نه ده چې مخکنی لوست او د ۱۳ څخه وروستني لوستونه د خدای د هغو ډالیو په اړه خبرې کوي چې ایماندارانو ته یې ورکړي دي.

هغه لوست چې د مینې په هکله خبرې کوي په هغو فصلونو کښې شامل دی چې د خدای د ډالیو بیان په کې شوی دی، ځکه مینه هم په خپل ذات کښې یوه ډالۍ ده. مینه او د ځان څخه تېریدنه دواړه یو بل پورې تړلي دي، ځکه که چېرې له نورو سره مینه کوو نو په ډېر شوق او پوره علاقمندۍ سره دې ته چمتو کېږو چې خپل هر څه د هغه څخه قربان کړو.

## هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولئ

د خدای سوغاتونه (ډالۍ) زموږ لپاره

زموږ سوغاتونه (ډالۍ) د خدای لپاره

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو...

- کم تر کم درې هغه ډالۍ وپېژنئ چې خدای خپلو بچیانو ته د انعام په توګه ورکړېدي.
- وعده وکړئ چې خپل د مینې هغه سوغاتونه چې د خدای لایق دي، هغۀ ته ئې وړاندې کړئ.

## د خدای سوغاتونه (ډالۍ) زمونږ لپاره

لمړنۍ ډالۍ چې خدای د ایمان په ابتدا کښې مونږ ته راکوي هغه د خلاصون سوغات دی.

"ځکه چې تاسو د ایمان په وسیله په فضل خلاصون موندلی دی، دا ستاسو له طرفه نه نه، بلکه د خدای بخښنه ده. او دا د عملونو په سبب نه ده، دپاره د دې چې څوک فخر ونۀ کړی." (افسیان ۲ : ۸ – ۹)

که چېرې مونږ د مؤمنینو له ډلې څخه یو، نو خدای زمونږ آسمانی پلار دی او مونږ د هغه بچیان شمېرل کېږو. متی ۵ : ۱۲ خدای لپاره دغه ګران او با ارزښته نوم کارولی دی. "او تاسو هم دغه رنګ د خلقو د وړاندې رڼا خوره کړئ د دې دپاره چې هر کله چې هغوی ستاسو ښه کارونه ووینی نو هغوی به ستاسو د پلار چې په آسمان کښې دی، لوئی بیان کړي."

څومره لوړ مقام دی چې مونږ د خبرو په دوران کې د خدای سره لکه د هغه د زوی په شان خبرې وکړو او هغه ته د خپل پلار نسبت وکړو. عیسی مسیح هم مونږ ته د خبرو کولو همدا طریقه ښودلې ده او وایی: "اې په آسمان کې زمونږ پلاره! ستا نوم دې پاک وی." (متی ۶ : ۹)

که څه هم خدای خالق دی خو ټولو هغو کسانو ته چې د هغه په کورنۍ کې زیږیدلی دي د پلار حیثیت لري. مقدس کتاب وائي: "هم دغه د خدای د بچو او د ابلیس د بچو فرق دی،

هیڅوک هم چې صداقت نه کوی د خدای بچی نه دی، او نه هغه څوک چې د ورور سره مینه نه لری.“ (اول یوحنا ۳ : ۱۰)

د دې لپاره چې د خدای د کورنۍ غړي شو نو لاژمه ده چې د هغهٔ یوازینی زوی عیسی مسیح د خپل مالک او ژغورونکي په توګه ومنو. دې نه پس زمونږ نوی ژوندون پیلېږي. یوحنا وائی: ”خو کومو خلقو چې قبول کړو هغوی ته ئې دا حق ورکړو چې د خدای اولاد شی یعنی هغوی چې د هغه په نامه ایمان راوړی.“ (یوحنا ۱: ۱۲)

هر پلار چې د خپلو زامنو حاجتونه پوره کوي ډېر خوشحالېږي. زمونږ آسمانی پلار هم زمونږ ټولې اړتیاوې پوره کوي.

”زما خدای به ستاسو هر حاجت د خپل بې پایانه دولت په مطابق د مسیح عیسی په وسیله پوره کړی.“
(فیلیپیان ۴ : ۱۹)

خدای زمونږ څخه د خپلو بچیانو په شان حفاظت کوي هغه شپه او ورځ زمونږ ساتنه کوي: ”خدای به پرې نږدي چې زما پښې و خوېږي او زه ولوېږم. هغه چې زما ساتنه او څارنه کوي، کله هم خوب نه کوي.“ (زبور ۱۲۱ :۳)

”خدای د نیک عملو خلکو څخه څارنه کوي او د هغوی نارو ته غوږ نیسي.“ (زبور ۳۴: ۱۵)

داسې نور هم زیات آیتونه په زبور کې شته دي چې د الهی مواظبت او ساتنې څخه بحث کوی.

کله چې پلار خدای د خپل کلام په ترڅ کې مونږ ته وائی چې زمونږ لپاره به یو ټاکلی کار ترسره کړي، مونږ دغه آیاتو ته د خدای د ژمنې په سترګه ګورو. ژمنې او وعدې هغه سوغاتونه دي چې د خدای له طرفه څخه وي. مونږ کولای شو د خدای برکتونه حاصل کړو او د دعا او د هغهٔ کلام ته د ایمان په وسیله دغه وعدې خپلې کړو. په دې هکله مسیح فرمایلي دي: "رښتیا رښتیا تاسو ته وایم،څوک چې په ما ایمان راوړی هغه به هم هغه څهٔ کوی لکه چې یې زهٔ کوم ،او هغه به لا د دِ نه هم زیات کارونه کوی ځکه چې زهٔ پلار له روان یم. رښتیا چې تاسو څهٔ چې هم زما په نوم وغواړئ هغه به زهٔ کوم ځکه چې د پلار جلال په زوی کښې ښکاره شی." (یوحنا ۱۴: ۱۲- ۱۳)

مسیحیان کولای شی چې د بلې لارې نه هم د خدای برکتونه تر لاسه کړي او هغه د نورو سره کومک او لاس نیوی دی. (زبور ۴۱: ۱) وائي: "نېکمرغه هغه دي چې د بې وزلې غریبانو او حاجتمندانو په هکله فکر کوي."

که چېرې مونږ په خدای ایمان ولرو او د هغهٔ نه وغواړو نو ډېرې ډالۍ به ورڅخه ترلاسه کړو. ایمان په حقیقت کښې په پرخدای باندې د یقین کولو عمل دی. زمونږ ایمان د خدای د رضا سبب ګرځي. ایمان نه یوازی خلاصون او نورې ډالۍ چې مونږ د هغې یادونه وکړه مونږ ته راکوي، بلکه مونږ ته روغتیا او د روح القدس تعمید هم راکوي. مقدس کتاب وائي: "او بغیر د ایمان نه د خدای خوشحالول ناممکن دی، ځکه چې خدای ته راتلونکی ته په دې ایمان راوړل په کار دي چې هغه

موجود دی او څوک ئې چې لټوی، هغوی ته اجر ورکوی.“ (عبرانيان ۱۱: ۲)

دا مطلب چې د ايمان په وسيله شفا حاصليداى شي د مقدس کتاب په خط د يعقوب ۵: ۱۵ کې موندلای شو چې وائي: ”او کومه دعا چې به په ايمان سره وغوښتی شی د هغې په وجه به بيمار بچ شی، او مالک به هغه پاڅوی او که هغه ګناهونه کړی وی نو هغه به هم ورته معاف شی.“

”دا ځکه وشو د دې دپاره چې هغه برکت چې خداى ابراهيم ته د ورکولو وعده کړی وه، د مسيح عيسی په وسيله غير يهوديانو ته هم ورسی، او مونږ د ايمان په وسيله هغه روح القدس حاصل کړو د کوم چې خداى وعده کړی ده.“ (ګليتيان ۳: ۱۴)

په همدی ډول تر ټولو لويه ډالۍ د روميانو په ۲: ۲۳ کې ذکر شوې ده. ”ځکه چې د ګناه بدل مرګ دی خو د خداى بخښنه زمونږ په مالک عيسی مسيح کې د تل ژوندون دی.“

”هر ښه بخشش او هر کامل انعام د آسمان نه راځی او د خداى نه موندلی کېږی چې د نمر سپوږمۍ او د ستورو پيدا کوونکی دی. په هغه کې نه خو څه تبديلی راځی او نه د ګردش له عمل روښانه کېږی او نه تياره کېږی.“ (يعقوب ۱: ۱۷)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۱– زبور ۹۱ ولولئ. د خدای د هغو وعدو د توصیف لپاره چې مونږ ته ډالۍ شوي دي، کوم الفاظ استعمالولی شو ؟

........................................................................

........................................................................

۲ـ ښی خوا ته لیکل شوي آیات مطالعه کړئ. وروسته بیا د ورکړل شوي وعدې نمبر په لاندیني تشو ځایونو کښې ولیکئ.

| | |
|---|---|
| ۱- حکمت، معرفت او خوشحالی | ... الف) رومیان ۵: ۱۷ |
| ۲ – طاقت | ... ب) جامعه ۲: ۲۲ |
| ۳ - ډېر زیات فیض او برکت | ... ج) حزقیال ۱۱: ۱۹ |
| ۴ - نوی فکر او زړه | ... د) متی ۱۱: ۲۸ |
| ۵ - آرامی | هـ..) کورنتیان ۱۲: ۲ |

۳ـ کم تر کمه هغه درې ډالۍ ولیکئ د کله نه چې تاسو په عیسی مسیح ایمان راوړی او هغه مود خپل ژغورونکي په حیث منلی دی، تاسو ته در کړی شویدي:

..................................................................................

..................................................................................

..................................................................................

## زمونږ سوغاتونه (ډالۍ) د خدای لپاره

آیا تاسو ته دا عجیبه نه ښکاري چې هغه خدای ته چې هر څه لري مونږ سوغات ورکوو؟ خدای په خپل مقدس کلام کښې مونږ ته فرمایلی دي چې کوم شی هغه ته د تحفې یا سوغات په توګه نذرانه کړو. مونږ کولای شو چې خپل عبادت د هغه حضور ته د تحفې په توګه نذرانه کړو. زبور **۹۵**: **۲** وائي: "راځئ چې عبادت او سجدې وکړو او د خپل خالق خدای حضور ته په ګونډو شو."

عبادت کیدای شي چې له دعا او د خدای د هغو نعمتونو څخه په شکر ګزاری سره مل شي، چې خدای مونږ ته رابخښلي دي. همدا شان مونږ کولای شو چې د هغو کارونو څخه ستاینه وکړو چې خدای مونږ ته تر سره کړیدي. کولوسیان ۳: ۱۲ مونږ ته دا ښودنه کوي چې روحانی سندرې جوړې کړو او د زړه له کومی یې هغهٔ ته نذرانه کړو.

د خدای عبادت په بله طریقه هم تر سره کولای شو او هغه دا ده چې پرته له کوم قیداو شرطه څخه خپل ځان هغه ته وقف کړو.

"د دې دپاره زما وروڼو! زه د خدای رحمتونه تاسو ته دریادوم او درته خواست کوم چې خپل ځانونه هغهٔ ته د داسې ژوندئ قربانئ دپاره وړاندې کړئ چې هغهٔ ته قبوله او مناسب وی، او ستاسو عبادت دې د زړهٔ او پوهی دواړو له رویه معقول وی. خپل ځان د دې موجوده دنیا په شان مهٔ جوړوی، بلکه بویه چې ستاسو پوهه بیا نوې کړی شی او د دې په وسیله ستاسو فطرت بالکل بدل شی. بیا به هله تاسو د دې قابل شئ او په دې به پوهه شئ چې د خدای رضا څهٔ ده او دا به وپېژنئ چې هغه ښهٔ څهٔ دي چې قبلیدونکی او کامل دي." (رومیان ۱۲: ۱ – ۲)

د خدای په لار کښې د خپل مال او دولت څخه د تېریدلو له طریقه هم کولای شو چې دهغهٔ عبادت وکړو. کله چې د خدای په خاطر د خپل مال څخه تېریږو، خدای هم مونږ ته او هم زمونږ مال ته برکت ورکوی. خدای د ملاکې په کتاب ۳: ۱۰ کښې دغه وعده ورکړې ده چې: "ټول عُشرونه او د خپل عاید لسمه برخه زما خزانو ته راوړئ ترڅو زما په کور کې خوراک دپاره څه وي، بیا نو ما پریږدئ او په ما دا امتحان وکړئ چې زه تاسو ته څنګه د آسمان نه د برکتونو دروازی پرانیزم. او څومره برکتونه په تاسو را وروُم. دومره برکتونه چې تاسو سره به د هغهٔ لپاره ځای نه وي."

عُشر چې پورته د هغهٔ یادونه وشوه د عاید د لسمې برخې څخه یوې برخې ته وویل کیږی. د یو مسیحی په صفت هر څه چې لرو هغه د خدای مال دی. عیسی مسیح په متی **۲۵** باب کې د هغو کسانو لپاره یوه خاصه علاقمندي ښودلې ده چې هغهٔ ته یې خوراک او څښاک ورکړي وو او په زندان کښې د هغهٔ د ملاقات لپاره تللي وو. کله چې هغوی پوښتنه وکړه چې، مونږ کله دا کار کړی دی؟ مسیح په ځواب کې وویل: ”زه تاسو ته دا وایم چې تاسو زما په ورونو کې د عاجز نه عاجز یو تن سره هم چې څه کړی دي نو زما دپاره مو کړی دي.“ (متی **۲۵**: **۴۰**)

په بل عبارت زمونږ ورکړه د ژوند په یوې لارې باندې بدلیږي.

عبادت په دې معنی نه ده چې همېشه ګونډه ووهو او دعاګانې وکړو. مونږ باید هره ورځ په داسې یوې رویې سره ژوند وکړو چې د خدای پرې راضي او خوشحاله شي او هغه د عبادت په توګه قبول کړي. چې دا په حقیقت کښې کوم سخت کار نه دی. ”او په ټولو خبرو کې زمونږ د مالک عیسی مسیح په نوم زمونږ د خدای پلار هر وخت شکر کوئ.“ (افسیان **۵**: **۲۰**) ځکه چې هغه د شکر ایستلو لایق دی.

**هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ**

۴ – کومې ډالۍ او تحفې چې مونږ ئې کولای شو خدای ته وړاندې کړو، په لاندېني آیتونو کې ذکر شوي دي؟

الف) یشعیاه ۳۸: ۲۰

.........................................................................

ب) حبقوق ۲: ۲۰

.........................................................................

ج) زبور ۱۰۳: ۱

.........................................................................

د) یوحنا ۴: ۲۳

.........................................................................

ه) اول تیموتیوس ۲: ۸

.........................................................................

و) عبرانیان ۱۰: ۲۵

.........................................................................

۵ـ زبور ۱۱:۷۶ وائي، "تاسو باید ټول ........................ چې لرئ د هغه حضور ته........................ کړئ ځکه چې د هغه نه وېره پکار ده."

۶ – دا لاندېني کومې برخې کولای شي چې د خدای لپاره زمونږ د عبادت او ډالیو یوه برخه وي ؟

الف) د جامو پریمنځلو په وخت کې د روحاني سندرو ویل.

ب) کله چې ستاسو رئيس له ځانه بې منطقي ښيي، په هغهٔ نه په غصه کېدل.

ج) د يکشنبې په ورځو کښې کليسا ته تلل.

د) خوراک د خوړلو نه مخکې شکر ادا کول.

ه) په يو ځای کښې آرام کښېناستل او د خدای په نيکي ګانو باندې سوچ کول.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱– په لنډ ډول بايد ستاسو ځواب داسې وي. د خدای ساتنه يا په خدای کې امن و امان.

۲_الف) ۳- ډېر زيات فيض او برکت

ب) ۱- حکمت، معرفت او خوشحالی

ج) ۴ - نوی فکر او زړه

د) ۵ - آرامی

ه) ۲ - طاقت

۳ – ستاسو ځوابونه کيدای شي چې ډېر وي. شفا، د کار پيدا کول، د ويرې نه خلاصون، د نوې اميد موندل ......دا ټول کيدای شی د خدای له خوا ورکړل شوي سوغاتونه او ډالۍ وي.

۴ – الف) د موسيقۍ په آلاتو سره د خدای ستاينه.

ب) د خدای په حضور کې سکوت يا چُپ والی.

ج) د خدای ستایل یا تمجید.

د) د خدای عبادت کول.

هـ) د خدای حضور ته په پورته شوو لاسونو دعا.

و) یو د بل سره یو ځای راغونډیدل او یو د بل تشویقول.

۵ – سوغاتونه، نذرانه.

۶ ـ ټول ځوابونه د خدای د عبادت کولو د طریقو په اړه خبرې کوي.

ستاسو یادداشت

# د نورو سره زمونږ اړیکې

د مقدس کتاب د دوشنبې د ورځې د زده کړې په غونډه کښې د شهادت ورکولو وخت رارسيدلی ؤ. يوه جينۍ چې اولګا نوميده راپاڅيده ترڅو شهادت ورکړي.

د دې څخه يوه ورځ مخکې اولګا او د هغې يوه همصنفۍ يوې کليسا ته تللې وې چې هلته کار وکړي. د خدمت په دوران کې يو څو نشئ يان کليسا ته ننوتل او سمدلاسه يې په جنګ او جګړو پيل وکړ. کله چې ايمانداران په تېښته شول او ځانونه يې هرې خواته خواره کړل، يوۀ سړي په غلطۍ سره خپل ځوی چې هغه هم نشه ؤ، په چاړه ووهه او زخمي يې کړ. اولګا چې دغه صحنه وليده د خپلې ملګرې سره ئې مجلس بند کړ او د زخمي شوي کس مرستې ته لاړه. د هغوی ځان هم په خطر کښې وو مګر هغوی چې کومه مرسته د زخمي شوي کس سره کوله په حقيقت کې خپل دښمن يې له مرګه ژغورۀ. د شهادت په آخره کې اولګا داسې درخواست وکړ: «راځئ چې دعا وکړو چې دغه سړی ته دې خدای ډېر زر شفا ورکړي او روغ يې کړي چې مسيح د خپل خلاصونکی په توګه ومني.»

مونږ ټولو خپل سرونه ټيټ کړل او په دعا مو پيل وکړ. خو ما يوازې هغه نشئ ئي ځوان ته دعا نه کوله بلکه د اولګا لپاره

مې هم د هغې د نورو سره د محبت په خاطر دعا او شکر ګزاري کوله. داسې يو بې ساری محبت چې دشمنانو ته ئې هم د نذرانې په توګه وړاندې کاوه.

اولګا هغه څه چې په دولسم درس کې مو ولوستل په ښه توګه زده کړی ؤ. خدای ته د مينې ښودلو يو طريقه دا ده چې د نورو خلکو سره مرسته وکړو. او هغوی سره مينه محبت جاری وساتو.

راځئ چې اوس وګورو چې د خدای کلام مونږ ته د نورو سره دا اړيکو د ساتلو په اړه څه وايي.

## هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولئ

د خپلو مشرانو سره اړيکې

د خپلو شاوخواه کسانو سره اړيکې

د خپلو دښمنانو سره اړيکې

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو...

- د نورو پر وړاندې خپل مسئوليت درک او هغه ومنئ.
- په هر ډول اړيکې کښې محبت ته خاص ځای ورکړئ.

## د خپلو مشرانو سره اړیکې

د هر سر د پاسه سر شته. هر څوک په خپل ژوند کې داسې یو یا څو کسان لري چې د هغوی د اقتدار او واک لاندې دي. کوچنیان د خپلو میندو او پلرونو تر کنترول او ادارې لاندې وي. میندې او پلرونه هم سیاسی او مذهبی رهبران لري. حتی دغه رهبران هم خپل د پاسه داسې کسان لري چې هغوی ته لارښونه ورکوي چې څه وکړي او څه ونکړي. مقدس کتاب د هغه چا سره زمونږ د اړیکو په اړه چې زمونږ مشران دي څه وایي؟

د مور او پلار باید اطاعت وشي او ورته د عزت، مینې او احترام په سترګه وکتل شي. دا د خدای د لسو حکمونو څخه یو حکم دی چې په یوولسم لوست کې مو ورته اشاره وکړه. (افسیان ۲: ۱ – ۲) د دې په تائید وایي: "ای بچو! ایماندارانو ته په کار دي چې د خپل مور او پلار حکم منی ځکه چې دا ښه کار دی. «د خپل پلار او د خپلې مور عزت کوئ،» دا اول حکم دی چې دا لوظ هم ورسره دی: چې «ستا په کښې خیر دی او په مزکه په دې عمر ډېر شی.»"

د حاکمانو لکه پولیسو، قاضیانو او د دولتی اختیار د خاوندانو هم باید اطاعت وکړو. "هر څوک دې د اختیار د خاوندانو تابعدار وی، ځکه چې داسې د اختیار خاوند نشته کوم چې د خدای د طرفه نه وی او کوم اختیار لرونکی چې موجود دي، هغه د خدای د طرفه دي." (رومیان ۱۳: ۱)

د ایمانداری په مقام کښې هم مونږ لارښوونکي لرو، لکه پاستران یا شپونکي او د کلیسا مدیره هیئت، او د یکشنبې د

درسي ټولګيو معلمين. دوی هم د درناوي وړ دي او په هغه ځايونو کې چې د دوی د مسئوليت تر ولکې لاندې دي، د هغوی تابعداری واجبي ده.

"د خپلو مشرانو خبره منئ او د حکم تابعداری ئې کوئ ځکه چې هغوی ستاسو د روحونو د فائدی د خاطره د هغوی په شان بيدار اوسی چاته چې به حساب ورکول وی، دپاره د دې چې هغوی په خوشحالی دا کار وکړی نه چې په خفګان ، ځکه چې په داسې حال کې به ستاسو د پاره هيڅ فائده نه وی." (عبرانيان ۱۳: ۱۷)

يوازې د خدای قدرت زمونږ د مشرانو د قدرت څخه اوچت دی. او يوازې هغه وخت د هغوی فرمانبرداری لاژمه نه ده کله چې زمونږ نه وغواړي يو داسې کار ترسره کړو چې هغه د خدای د دستور او خوښې پر خلاف وي. هم داسې يوه مسئله پطروس اونورو رسولانو ته ورپېښه شوې وه او هغه دا وه چې د وخت دولت د دوی څخه وغوښتل چې د انجيل وعظ او زېری ورکول پرېږدی. خو پطروس په دې پوهېده چې د هر څه څخه لومړی د خدای اطاعت پر ځای کړي. اعمال ۵: ۱۹ کې ويل شويدي: "... مونږ به د بنی آدمو نه، بلکه د خدای حکم منو."

## هغه څه چې تاسو ئې بايد سرته ورسوئ

۱ـ لاندې آیتونه ولولئ. وروسته د هر یو پر وړاندې د صحیح توضیح نمبر د ښي طرف له توضیحاتو څخه ولیکئ.

۱- د مور او پلار احترام ...الف) تیموتیوس ۵: ۱۷

۲ - د دولتي مشرانو احترام ...ب) کولوسیان ۳: ۲۰

۳ - د کلیسا د لارښونکو احترام ...ج) اول پطروس ۲: ۱۳

...د) امثال ۲: ۲۰

...هـ) متی ۲۲: ۱۷ – ۲۱

۲ـ لاندی فهرست ولولئ او د هر یوهٔ په احترام کولو کښې که څه ستونزه لرئ په نښه یې کړئ.

پلار ........................................

مور ........................................

شپونکی ........................................

د کلیسا مدیره هیئت ........................................

دولتی پولیس ........................................

که چېرې د یو یا زیاتو نومونو مخې ته مو نښه ورکړی وي نو د خپل خدای نه وغواړئ چې د دې مشکل ریښې له تاسو څخه لرې کړي، او داسې یو کار په تاسو کښې تر سره کړي چې وشئ کړای د هغوی درناوی او اطاعت وکړئ.

## د خپلو شاوخواه کسانو سره اړیکې

یوه ورځ زما یو ملګري راته وویل: «که چېرې بې ایمانان ماسره بدچلند وکړي بیا هم کیدای شي چې له هغوی سره مینه وکړم. مګر دا نه شم زغملی چې نور مسیحیان دې ما سره بدچلند وکړي ځکه هغوی پوهېږي چې باید چا سره بد سلوک ونکړي.»

د پطروس او نورو رسولانو په سر به څه راغلي وای که چېرې عیسی مسیح هم هغسی چلند له هغوی سره کړی وای لکه څنګه چې هغوی ورسره پخوا کړي وو؟ هغوی د هر چا څخه زیات پوهېدل. خوسره ددې هم کله چې عیسی مسیح ونیول شو او محاکمی ته وړاندې شو نو ټول ترې وتښتېدل. خو کله چې مسیح د قبر نه راپورته شو، خپل ځان ئې هغوی ته ښکاره کړ او هغوی ئې له خپلې مینې څخه ډاډه کړل.

مونږ هم لکه د رسولانو په څېر ډېر ځله، سره د دې چې پوهېږو بیا هم له ماتې سره مخ کېږو. مګر عیسی مسیح زمونږ سره لاهم مینه کوي او مونږ خپل دوستان بولي. خدای زمونږ څخه غواړي چې له نورو سره هسې مینه ولرو لکه څنګه چې خدای ئې زمونږ سره لري. "زه تاسو ته نوی حکم درکوم: د یو بل سره مینه کوئ، لکه چې ما تاسو سره مینه کړې ده دغه شان تاسو هم د یو بل سره مینه کوئ." (یوحنا ۱۳: ۳۴)

د خپلو دوستانو او ګاونډیانو سره باید هسې سلوک وکړو کوم چې غواړو زمونږ سره هسې سلوک وشي. لوقا ۶: ۳۱ وائی: "د خلقو سره داسې سلوک کوئ لکه چې تاسو غواړئ چې هغوی دې د تاسو سره وکړی."

او په رومیانو ۱۳: ۹ کې داسې لولو: "...د خپل ګاونډی سره د خپل ځان په شان مینه محبت کوئ."

د بې ایمانانو سره هم باید زمونږ اړیکې په مینه او محبت پورې تړلې وي. مونږ باید په عمل کښې هغوی ته وښیو چې مسیح په مونږ کښې ژوند کوي.

ریچرد وورمبراند یو عیسائی دینی لارښود چې په کلونو ئې په عیسی مسیح باندې د ایمان لرلو په سبب په زندان کې شکنجې او زورونې لیدلې وې، د یوۀ بل قیدی قصه کوي چې هغه هم پاستر ؤ او له دۀ سره یو ځای په زندان کښې ؤ. هغۀ د عیسی مسیح په څیر د خوی او خصلت په لرو سره یې شهرت موندلی ؤ.

وروسته یو کمونیست پلوی ځوان هم زندان ته راوړل شو او د دې دواړو پاسترانو سره یو ځای په یوې کوټې کښې واچول شو. هغوی دواړو دۀ ته د انجیل زېری وړاندې کړو او د هغه څخه ئې وغوښتل چې عیسی مسیح د خپل ژغورونکي په توګه ومني، مګر نوموړي ځوان د دې کار له منلو څخه ډډه وکړه.

یوه ورځ همدغه کمونیستې ځوان د یوۀ بحث په ترڅ کې وویل: «زه څرنګه کولای شم چې هغه کس د خپل ژغورونکي په توګه ومنم چې نه مې هغه لیدلی دی او نه هم پوهېږم چې هغه څه ډول سړی ؤ؟»

پاستر ورته ځواب ورکړو: «زه درته وایم چې څنګه زه یم هغسی هغه هم دی، او زه د هغه یو ژوندی مثال یم.»

هغه ځوان سمدلاسه په ځواب کښې وویل: «که چیرې هغه په ریښتیا ستا په څیر وي نو زه ئې همدا اوس د خپل ژغورونکي په توګه منم او پرې ایمان راوړم.»

دا څومره په زړه پورې ګواهي ده چې نوموړي دیني لارښود درلوده. په خواشینۍ سره باید ووایم چې ډېر لږ ایمانداران به پیدا شي چې دا جرئت ولري چې ووائي: «زه د عیسی مسیح په څیر یم.» مګر دا هغه شی دی چې خدای ئې غواړي، یعنې څو مو چې وسه رسي باید د رب خوی او خصلت پیدا کړو، څو خلک هغه زمونږ په وجود کې وګوري.

متی **۵**: ۱۶ وائي: "او تاسو هم دغه رنګ د خلقو د وړاندې رڼا خوره کړئ د دې دپاره چې هرکله چې هغوی ستاسو ښه کارونه ووینی نو هغوی به ستاسو د پلار چې په آسمان کې دی لوئی بیان کړی."

راځئ چې هره ورځ خپل خدای ته دعا وکړو او ورڅخه وغواړو چې هره ورځ مو د خپل ځان سره وَرته او مشابه کړي. وروسته بیا داسې وخت راځي چې زمونږ دغه غوښتنه عملي بڼه غوره کوي او آهسته آهسته د هغهٔ په څیر کیږو.

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۳ـ په لاندینې احتمالی حالتونو فکر وکړئ. د هغه څه په مطابق چې څو شیبې وړاندې مو ولوستل ووایاست کوم یو صحیح او کوم غلط دی. د صحیح ځواب مخ ته نښه ورکړئ.

الف) یو مسیحی په تاسو تهمت لګوي او تاسو غواړئ چې هغه محاکمې ته راکاږئ.

ب) یوګاونډی تاسو ته وائي: «نور نو د عیسی مسیح په هکله د خبرو کولو په خاطر ماڅخه مه راځه.» مګر بله ورځ کله چې هغه د مرستې غوښتنه کوي، تاسو ځئ او د هغه مدد کوئ.

ج) یو پاستر داسې وعظ کوی چې په تاسو ښی نه لګي. نو په دې خاطر چې خپله نارضایتي ښکاره کړئ، پورته کېږئ او غونډه خوشې کوئ.

د) ستاسو یو مسیحی ملګری څه ګناه کوي، خو تاسو د دې پر ځای چې د هغه ګناه بربنډه کړئ، په خصوصي توګه د هغهٔ لیدنې ته ځئ او له هغه سره مرسته کوئ چې توبه وکړي او د خدای طرف ته راشي.

۴ـ اول یوحنا ۴: ۱۷ – ۲۱ ولولئ. د دې آیاتو په مطابق لاندینې کومې جملې صحیح دي؟

الف) مونږ مینه کوو ځکه لومړی خدای مونږ سره مینه کړې ده.

ب) هر څوک چې مینه نه کوی خدای نه پېژني.

ج) په مينه کې ويره شته ده، ځکه کيداى شي چې مينه رد شى.

د) د خداى سره مينه، تاسو لپاره کافي ده. د هغه ورور مينې ته هيڅ حاجت نه لرى چې تاسو سره ئې بد سلوک هم کړى وي.

## د خپلو دښمنانو سره اړيکې

آيا د اولګا قصه مو په ياد ده چې د لوست په سر کې مو ولوسته؟ آيا اولګا له هغو کسانو سره مينه او محبت وکړ چې د هغې په حق کې يې د بدکار د کولو اراده درلوده؟ ددې پر ځاى چې اولګا د زخمي شوي کس د روغتيا د پاره خداى ته دعا وکړي کولاى شول چې د هغوى د شرارت په وجه خداى ته خواست وکړي چې هغوى ته سزا ورکړي.

آيا دا کار د هغه چا لپاره چې غواړي د مسيح په شان شي، مناسب دى؟ نه! هغه شپه چې عيسى مسيح ونيول شو، کله چې پطروس په توري سره د کاهنانو د رئيس د غلام غوږ پرې کړ، نو هغۀ څه ډول غبرګون له ځانه ښکاره کړ؟ هغه غلام د عيسى مسيح دښمن ؤ، مګر لوقا ۲۲: ۵۱ په دې هکله ليکي: "خو عيسى ځواب ورکړو، «پريږدى چې هغوى خپل کار وکړى!» بيا هغۀ د هغه سړى په غوږ لاس کيښودو او روغ ئې کړو."

مونږ غواړو چې د عيسى مسيح په شان شو. د هغه کس په شان چې له خپلو دښمنانو سره يې مينه وښودله او هغوى يې

معاف کړل. په متی ۵: ۴۴ کې عیسی مسیح فرمایلي دي: "خو زه درته دا وایم چې د خپلو دښمنانو سره مینه کوئ، او څوک چې په تاسو ظلم کوی د هغوی دپاره دعا غواړئ." همدارنګه په متی ۶: ۱۵ کې وائي: "خو که چېرې تاسو نور نه معاف کوئ نو ستاسو قصورونه به هم ستاسو آسمانی پلار معاف نه کړی."

مینه او محبت د مسیحیت لوی فضیلت دی. په اول کورنتیان ۱۳: ۱۳ کې داسې لیکل شویدي: "لنډه دا چې ایمان، امید او مینه درې واړه پاتې کېږی خو په دوی کښې مینه افضله ده."

مسیحیان اول باید د خدای سره مینه وکړي. هغه به هم په خپل وار سره زمونږ په زړونو کې خپله مینه ځای په ځای کړي او په دې توګه مونږ کولای شو هم خپلو دوستانو او هم له خپلو دښمنانو سره مینه او محبت وکړو. مقدس کتاب وایي: "هغهٔ (عیسی) ورته ځواب ورکړو چې: «د مالک خدای سره د زړه په راستۍ، په پوره روح او په پوره عقل سره مینه لرئ.»" (متی ۲۲: ۳۷)

"زه تاسو ته نوی حکم درکوم: د یو بل سره مینه کوئ، لکه چې ما تاسو سره مینه کړی ده دغه شان تاسو هم د یو بل سره مینه کوئ." (یوحنا ۱۳: ۳۴)

دغه آیت حفظ او تکرار کړئ. او په یاد ولرئ چې د یو ایماندار لومړنی مسئولیت د خدای او د هغه د خلکو پر وړاندې مینه او محبت دی.

## هغه څه چې تاسو ئې بايد سرته ورسوئ

**۵ـ دا لاندېنۍ کومې جملې ستاسو په ژوند کښې حقيقت لري؟**

الف) هغه طريقه چې تاسو په خپل کور کې پر هغې عمل کوئ د کورنۍ په نورو غړو باندې کلک اثر لري او د دې سبب ګرځي چې هغه څه چې تاسو د خدای په هکله وايئ، پرې باور وکړي.

ب) ستاسو اعمال په دې باعث کېږي چې ستاسو دوستان هم د هغه خدای د قدرت غوښتونکې شي چې په تاسو کښې ئې بدلون راوستی دی.

ج) تاسو هره ورځ دا دعا کوئ چې کله خلک تاسو وويني نو عيسی مسيح هم په تاسو کې ووينی.

د) تاسو هغه دوستانو ته دعا کوئ چې له نورو سره مينه کول هغوی ته سخته برېښي، ترڅو خدای دغه نقص له هغوی څخه لرې کړي.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱ـ الف) ۳ - د کليسا د لارښونکو احترام

ب) ۱ - د مور او پلار احترام

ج) ۲ - د دولتی مشرانو احترام

د) ۱ – د مور او پلار احترام

هـ) ۲ – د دولتی مشرانو احترام

۲ – هر هغه ځواب چې تاسو ورکړئ دئ.

۳_ الف) غلط

ب) صحیح

ج) غلط

د) صحیح

۴_ الف) صحیح

ب) صحیح

ج) غلط

د) غلط

۵_ که چېرې ستاسو په ژوند کې بعضی ځوابونو د عمل جامه نه وي اغوستي نو دا لوست یوځل بیا ټکي په ټکي ولولئ. خپل اعمال وآزمایئ او د خدای نه وغواړئ چې تاسو ته قوت درکړي ترڅو هره ورځ دهغهٔ د معیارونو او مقیاسونو په مطابق ژوند وکړئ.

## ځوارلسم لوست

# یو مسیحی د خپل ځان په هنداره کې

د کوچني هېواد په هر ځای کې د جنګ جګړې اورونه لمبې وهلې او جګړه ماران په هر ګوټ کې په جنګ اخته وو. په دې وخت کښې یو ځوان سړی د هغوی په لاس کې پریوت او برمته شو. که چېرې هغهٔ د مسیحیت څخه انکار نه وای کړی نو خپل ځان به ئې له لاسه ورکړی ؤ.

په هغې د نااميدئ څخه ډک حالت کښې هغهٔ خپل توان له لاسه ورکړو او خپل ایمان څخه منکر شو. وروسته بیا هغه تر سخت ګوابښ او فشار لاندې ونیول شو ځو له جګړه مارانو سره مرسته او د هغوی لپاره کار وکړي. هغه ډېر ژر د هغوی مشر وټاکل شو او دغه سړي وژونکو ته به ئې د هغو مسیحیانو کورونو په نښه کول چې پېژندل ئې. میاشتې تېرې شوې ترڅو دهغهٔ یو وسله وال کس، د یوې سختې جګړې په ترځ کښې پر هغهٔ ډزې وکړې او وې واژه. دا کس هم خپل دنیاوي ژوند له لاسه ورکړ او هم ئې اُخروي ژوند.

څومره به ښه وای چې هغه سړي په خپل ایمان ټینګ ولاړ وای. ممکن خپل ژوند ئې له لاسه ورکړی وای مګر په عوض کښې ئې ابدي ژوندون درلود. هغه د خدای او خلکو پر وړاندې د خپل مسئولیت په سرته رسولو کې ماتې وخوړه. هغه د خپل

ځان په نسبت د خپل مسئوليت په پوره کولو کښې هم له ماتې سره مخامخ شو.

دغه لوست به زمونږ سره مرسته وکړي ترڅو وپوهېږو چې څه دَين او مسئوليت زمونږ پر غاړه دی او څرنګه د هغه خدای اطاعت وکړو چې زمونږ د اوسنی او راتلونکې ابدي ژوند باندې حساب کوي.

## هغه څه چې تاسو به ئې په دې لوست کې ولولئ.

د خپل ځان څخه انکار

د خپل ځان پاکول

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- وپوهيږئ چې ستاسو لويه ګټه په دې کښې نغښتې ده چې د خپل نفس څخه انکار وکړئ.
- تشريح کړئ چې ولې هر مسيحی ته ضروري ده چې پاک فکر او پاکيزه جسم ولري.

## د خپل ځان څخه انکار

د يو مسيحی ژوند د هغه شخصی ملکيت ندی. د هغه د ژوند مالک خدای دی چې هغه ئې د خپلو وينو په قيمت اخيستی دی.

"او چې تاسو ورته پلار وايئ نو د هغه خدای نه دعا غواړئ چې د هر چا د عمل په مطابق بغير د طرفدارئ نه انصاف کوی،

نو د خپل هجرت وخت په ویره تېرکړئ ځکه تاسو خبر یئ چې ستاسو فضول چال چلن چې د پلار نیکه نه مو موندلی دی د هغې نه ستاسو خلاصون د فانی څیزونو، یعنی سرو یا سپینو زرو په وسیله ونه شو، بلکه د یو روغ رمتۀ او بې داغه ګډوری، یعنی د مسیح د قیمتی وینی په وسیله.“
(اول پطروس ۱: ۱۸–۱۹)

اول کورنتیان ۶: ۲۰ هم د هغې قربانۍ په هکله خبری کوي چې عیسی مسیح د سولۍ پرسر تر سره کړ. ”ځکه چې خدای تاسو په بیعه آخستی یئ، نو بیا د خپل بدن نه د خدای جلال ښکاره کړئ.“

که چېرې مسیح مونږ په ډېره لوړه بیعه اخیستي یو، نو بیا مونږ ته هم پکار ده چې یو قیمت ادا کړو. مقدس کتاب وایي چې مسیحي کېدل یعني د خپل ځان هېرول او د عیسی مسیح څخه پیروي کول دي. په لوقا ۹: ۲۳ کې د عیسی مسیح د خبرو سره مخامخ کېږو چې وائي: ”کۀ څوک زما مریدی خوښوی نو هغه دې خپل خواهشات شا ته وغورزوی او هره ورځ دې هغه خپله سولۍ پورته کوی او په ما پسې دې راځی.“

مونږ هغه وخت خپل ځان هېرولی شو چې د خدای دارادې سرته رسول د خپلو هیلو د سرته رسولو څخه غوره وګڼو. عیسی مسیح زمونږ لپاره یوه داسې نمونه پریښوده چې په یوحنا ۶: ۳۸ کې هغه وینو، ”زه د آسمان نه د خپلې رضا کولو دپاره نه یم راکوز شوی بلکه د هغۀ د رضا دپاره چا چې زه را استولی یم.“

"هر هغه څوک چې ما ته مالک مالک وايي هغه به د آسمان په بادشاهۍ کې داخل نه شی، خو صرف هغه څوک چې زما د آسماني پلار په رضا کار کوی." (متی ۷: ۲۱)

د حقیقي او رښتوني مسیحیانو په توګه مونږ باید هره ورځ هغه کار وکړو چې درست وي، که څه هم دا زمونږ د شخصي ارادې او هیلې پر خلاف وي. مقدس کتاب وايي: "بلکه په مالک عیسی مسیح ځان پټ کړئ او د وجود د خواهشاتو دپاره تدبیرونه مه کوئ." (رومیان ۱۳: ۱۴)

آیا د خپل نفسیاتي خواهشاتو څخه د انکار خبری په تاسو کې څه منفي اثر پرېږدي؟ امید لرم چې داسې نه وي ځکه خدای کله هم داسې یو شی نه غواړي، مګر دا چې د هغه پر ځای مونږ ته یو بهتر شی راکړي. دا د هغه سپي او هډوکي د داستان په شان ده. د هغۀ ښتن هغه کوله چې هډوکی ترې واخلي مګر سپی په غصه شو او په غپلو ئې پیل کړل او هډوکې یي په خولې کې ټینګ ونیوه.

دا هډوکي یوازنی شی ؤ چې هغۀ درلوده او دې ته چمتو نه ؤ چې هغه څخه تېر شي. مګر د هغه ښتن د غوښې یوه غټه ټوټه د هغه په مخ کښې پر مزکه کیښوده. سپي سمدلاسه هډوکی پریښود او د هغه نه لاس په سر شو.

ځینې وختونه مونږ د اندازې څخه زیات پر «هډوکې» پسی ښښلو، هغه شی چې فکر کوو مونږ ورته اړتیا لرو او هغه غواړو. مګر مونږ باید وپوهېږو چې خدای د دې نه ډېر ښه شیان زمونږ لپاره تیار کړ یدي او مونږ ته ئې راکوي. کله چې د عیسی

مسیح شاګردان په دې سوچ کې وو چې د کومو شیانو څخه مخ واړوي او هغه پرېږدي، عیسی مسیح هغوی ته ډېر روښانه ځواب ورکړو او وې ویل: "هر هغه چا زما د خاطره وروڼه، خویندې، پلار، مور، اولاد، مزکه، جائیداد او کورونه پرېښي دي هغوی به یو په سل بیا مومي او تل عمري ژوندون به ئې نصیب شي." (متی ۱۹: ۲۹)

عیسی په بل ځای کښې فرمایلي دي چې: "غل د غلا بلکه د قتلونو او تباهی دپاره راځي او زه دې له راغلی یم چې خلک ژوندون ومومي او ډېر ئې ومومي." (یوحنا ۱۰: ۱۰)

کامل او پوره ژوند هغه دی چې انسان ورپسې ګرځي خو ورکونکی، او بخښونکی یې یوازې او یوازې خدای دی او فقط هغه یې د ورکړې توان لري.

"او د مسیح په هغه مینه پوهه شئ کومه چې د پوهی نه بهر ده، چې تاسو د خدای په ټوله معمورۍ کې معمور شئ. اوس چې څوک داسې قادر دی چې د هغه قدرت په مطابق چې په مونږ کې اثر کوی، زمونږ د خواست او خیال نه ډېر زیات کار کولی شی، هغه ته دې په جماعت کې او په عیسی مسیح کې تل تر تله، پیړۍ په پیړۍ جلال وی! آمین."
(افسیان ۳: ۱۹ – ۲۱)

**هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ**

۱ـ لوقا ۱۴: ۲۷ ولولئ او خالی ځایونه ډک کړئ.

الف) دغه آیت کې ستاسو د ځان ځخه انکار د.................... سره مقایسه شوی دی.

ب) د دې آیت په مطابق مونږ باید د خپلې..................... د خدای سره مینه وکړو.

۲ـ د نفس ځخه انکار او د سولئ پورته کول دا معنی لری چې:

الف) لاژم نه دی چې باید دنیوی ملکیتونه ولرو.

ب) هر څه چې لرو خرڅ او کلیسا ته یې ورکړو.

ج) د خدای د ارادې سرته رسول د خپلو هیلو د سرته رسولو نه غوره وګڼو.

۳ ـ د دې لاندینی جملو ځخه کومه یوه صحیح ده؟

الف) عیسی مسیح زمونږ په خاطر ځان قربان کړ تر څو، نه دا چې زمونږ د ګناهونو پیټی دروند کړي بلکه مونږ د خپلو ګناهونو ځخه آزاد کړي.

ب) شیرازه او کامل ژوند هغه وخت لاس ته راتلی شي چې یو سړی د خدای د طبیعت ځخه معمور شی.

ج) د خپل نفس نه انکار معنی دا ده چې نور خپل د ګناه ځخه ډک طبیعت له پامه وغورځوو.

۴- متی ۱۱: ۲۸ – ۳۰ ولولئ او دا لاندې خالی ځای ډک کړئ؟

د سولې پورته کولو څخه مقصد کوم دروند پنډ نه دی بلکه برعکس دا یو......................پنډ دی.

## د خپل ځان پاکول

یو مسیحی باید خپل فکر او جسم پاک او ستره وساتي. د دې خبری دلیل په مقدس کتاب کې داسې راغلی دی چې وائي: "آیا تاسو نه یئ خبر چې ستاسو بدن د روح القدس کور دی چې په تاسو کې اوسی او تاسو ته د خدای د طرف نه درکړی شوی دی؟ او تاسو د خپل ځان نه یې، ځکه چې خدای تاسو په بیعه آخستی یئ، نو بیا دخپل بدن نه د خدای جلال ښکاره کړئ." (اول کورنتیان ۶: ۱۹ – ۲۰)

هغه ناوړه عادتونه لکه د سګریټو څکل، او نشه لرونکو شیانو استعمالول سربیره په دې چې روغتیا ته نقصان رسوي کولای شی فکر او بدن ته په ضرر رسولو سره د سړی عمر هم لنډ کړي. څوک چې دغه ناوړه عادتونه لري شاید فکر وکړي چې هر وخت چې ئې زړه غوښتی وي کولای شی د دې کار څخه لاس واخلي. مګر دا حقیقت نه لري. هغه د خپل د دې ناوړه عادت مریئ او غلام جوړیږي.

"تاسو ته ښه معلومه ده چې تاسو چې کوم مالک ته ځان وقف کړئ او د هغه فرمانبردار شئ نو د هغه غلامان یئ. تاسو د ګناه فرمانبرداری کولی شئ خو انجام به ئې مرګ وی، یا د خدای فرمانبرداری چې انجام ئې صداقت دی."
(رومیان ۶: ۱۶)

کيداى شي ځينې وسوسې په تاسو برلاسي شي. آيا تاسو داسې ځايونو ته ځئ چې خداى ستاسو په تګ هلته نه خوشحاله کيږي؟ يا تاسو هغه کتابونه او مجلې لولئ او ګورئ چې خداى د هغې کتل او لوستل منع کړيدي؟ ناوړه او بد عادتونه کولای شو چې د خداى د مرستې په غوښتنې سره له منځه يوسو او هغو نه ځانونه خلاص کړو.

خداى ته ووايئ چې تاسو نشئ کولای چې په خپل شخصي قدرت سره پر شرارت او ناوړه عادتونو باندې غلبه وکړئ او خداى به په دې لارې کښې ستاسو سره مرسته وکړي. له هغه څخه وغواړئ چې ستاسو ضمير او باطن ته شفا ورکړي. ورسته دغه لاندې آيت ولولئ او هر وخت چې تر وسوسې لاندې راځئ هغه له ځانه سره تکرار کړئ. ”مسيح چې ماته توان راکوى په هغه کې زۀ هر څۀ کولی شم.“ (فيليپيان ۴: ۱۳)

”خپل ځان خداى ته وسپاره او پر هغۀ توکل وکړه او هغه به ستا مدد وکړي. هغه به ستا د حقوقو ساتنه وکړي او ستا حقانيت به لکه د رڼا ورځې په شان ټولو ته ښکاره کړي.“ (زبور ۳۷: ۵)

## هغه څه چې تاسو ئې بايد سرته ورسوئ

۵- په لاندې حالاتو کې کوم کار ترسره کولای شئ؟ هر کار ته د "هو" يا "نه" ځواب ورکړئ.

الف) تاسو د خپل یو غیر ایماندار دوست د خوښۍ محفل ته بلل شوي يئ. له تاسو څخه غوښتنه کېږي چې په هغو فعالیتونو کښې برخه واخلئ چې ستاسو د ایمان مخالف دي. آیا بیا هم تاسو دې محفل ته صرف د دې په خاطر ځئ چې ستاسو دوست له تاسو څخه مرور او خپه نشي؟

ب) ستاسو د کلیسا ډېر غړي له تاسو څخه غوښتنه کوي چې داسې ځایونو ته لاړ شئ چې هلته تمه کېږي په داسې اعمالو لاس پورې کړئ چې خدای ترینه نه خوشحاله کېږي. آیا تاسو صرف په دې خاطر چې هغوی ګومان ونه کړي چې ګواکې تاسو خپل ځان د هغوی نه زیات سپیڅلی ګڼئ، د هغوی خبره منئ ؟

ج) ډېر بې ایمانه خلک له تاسو څخه غواړي چې په هغو غونډو کې چې د دوی په کورونو کې جوړېږي ګډون وکړئ او خدای ته د خپل دایمان راوړلو د څرنګوالي په هکله له هغوی سره خبرې وکړئ. آیا تاسو به د دې لپاره چې دا د زیري ورکولو لپاره یوه ښه موقه ده هلته لاړ شئ؟

۲ ـ یو نوی مسیحی ایماندار تاسو ته دا اقرار کوي چې هغه نشي کولای سګرټ خوشې کړي. تاسو به د دې لاندیني کارونو څخه کوم یو تر سره کړئ؟

الف) ورته وایئ چې ترڅو دې سګریټ نه وی پرېښی جنت او آسمان ته نه شې تلی.

ب) د کلیسا شپون ته اطلاع ورکوئ. په دې توګه نوې مسیحی نه شي کولای چې د اوبو بپتسمه واخلي.

ج) هغه ته دعا کوئ او مرسته ورسره کوئ چې د خدای او د هغه کلام ته پناه یوسي او د هغه څخه قدرت ترلاسه کړي څو په دې ناوړه عادت باندې غلبه ومومي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ – الف) د سولې پورته کول

ب) کورنۍ او دوستانو څخه زیات

۲ – ج) د خدای د ارادی سرته رسول د خپلو هیلو د سرته رسولو نه غوره وګڼو.

۳ – ټولې جملې صحیح دي.

۴ _ سپک

۵ – هیله من یو چې د "الف" او "ب" سوالونو ته به مو د "نه" ځواب ورکړی وي ځکه چې تاسو ته نه ښائی چې د خپل ایمان نه لاس واخلئ، څو خپل مسیحی او غیر مسیحی دوستان خوشحاله کړئ. او هیله من یو چې د "ج" سوال ته به مو د "هو" ځواب ورکړی وي. ځکه عیسی مسیح چې هر ځائ ته تللو نو زیری به ئې ورکولو. څه د خلکو په کورونو کې او څه د خدای په کور کې. زه هم په دې باور لرم چې عیسی مسیح هغه ځائ ته تګ کاوه چې خلک د خدای خبرو اوریدو ته تږی او لیواله وو.

۶ _ ج) هغه ته دعا کوئ او مرسته ورسره کوئ چې د خدای او د هغه کلام ته پناه یوسي او د هغه څخه قدرت ترلاسه کړي څو په دې ناوړه عادت باندې غلبه ومومي.

ستاسو یادداشت

پنځلسم لوست

# مسيحي ژوند

زما پلار چې د ډېرو کلونو راهيسې د مسيحي مبشر په توګه خدمت کوي، کله ناکله له ډېرو سختو حالاتو سره هم مخامخ شوی دی. د خپل ايمان په خاطر هغه ته د مرګ ګواښونه شويدي، په زندانو کښې پريوتی دی او حتی د دار کړۍ ته نږدې شويدی، خو هغه کله هم وېرې ته يې په خپل ځان کې ځای نه دی ورکړی. وروستۍ تجربه فقط دا څو کاله وړاندې ورته پېښه شوه.

يو کس چې ويل يې ايماندار دی خو په عمل کې د خدای مخالف ؤ، را پاڅېدو چې زما په پلار تهمت ولګوي او هغه سپک کړي. دغه سړي به زما پلار پسې ډېر بد بد دروغونه ويل او په هغه پسې به ئې الزامونه لګول. خو زما پلار د دې په ځای چې د هغه نه انتقام واخلي هغه ته به ئې دعا کوله او دا موضوع يې د خدای لاسونو ته سپارله. پس له څو مياشتو څخه د هغه سړي دروغونه را ښکاره شول او معلومه شوه چې هغه تورونه چې دی يې په نورو لګوي، په خپله په هغو کې راګير دی.

زما د پلار په شان پېښې هره ورځ د دنيا په سر د زرګونو ايماندارانو په ژوند کې تکرارېږی. هغوی د مور د ګېډې څخه قوی مسيحيان نه دي زېږيدلي، بلکه هغوی دې ته اجازه

ورکوي چې خدای د دوی په ژوند کې په کار کولو سره د دوی شخصیت د کلونو په تېرېدو قوي او مضبوط کړي او هغه ته پراخوالی ورکړي. لکه د لوړو او دنګو ونو په شان، هغوی خپلې جرړې په ځمکه کې دومره ژورې کړي چې باد يې ونشي کړای له خپله ځایه وخوځوي.

آیا غواړئ چې د ښه او غوره شخصیت خاوندان شئ، داسې شخصیت چې په خدای اعتماد کوي او په ټولو حالاتو کې په هغه باور او توکل کوي؟

کولای شو هغه څه چې په دې لوست کې مطالعه کوو، هغې ونې ته تشبه کړو چې غواړی وده وکړي، او اوچته شي.

## هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولئ

لاس ته راوړنه او شراکت

مسیحی وده

فکرونه او عملونه

کلیسائي ژوند

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی ترڅو...

- هغه اساسی اصول وپېژنئ چې انسان د يو بریالي مسیحی ژوندون په لوري لېږدوي.
- دغه اصول په خپل ژوند کې وکاروئ.

## لاس ته راوړنه او شراکت

مونږ وليدل چې څوک مونږته تل عمري ژوندون راکوي او څنګه هغه تر لاسه کوو. مګر دا ښه ده چې مونږ يې همېشه په ياد وساتو چې زمونږ د ژوند منبع او سرچينه مسيح دی.

"خو کومې اوبه چې زه ورکوم د هغې د څښلو نه پس به څښونکی هيڅکله هم بيا نه تږی کېږی. زه چې کومې اوبه ورکوم هغه به په هغه کښې دننه يوه چينه شي چې همېشه به بهيږی او د تل ژوندون به ورله ورکوی." (يوحنا ۴: ۱۴)

دا واقعاً يوه لويه خبره ده چې يو کس دې د خدای د کورنۍ غړۍ شي. دا مونږ هڅوي چې نور خلک هم په دې خوشحالۍ کې د ځان سره شريک کړو څو هغوی هم د خدای د کورنۍ غړيتوب تر لاسه کړي. عيسی مسيح د متی ۱۰: ۳۲ کې فرمايلی دي: "هر څوک چې د خلقو په وړاندی زما اقرار وکړی، زه به په آسمان کې د خپل پلار په وړاندې د هغه اقرار وکړم." آيا دا يوه ښکلې او زبردسته وعده نه ده؟

"بلکه مسيح مالک وګڼۍ او په خپلو زړونو کې ئې مقدس ګڼۍ، او چې څوک ستاسو نه ستاسو د اميد د وجې تپوس وکړی هغه ته د ځواب ورکولو دپاره هر وخت تيار اوسۍ، خو په نرم مزاجی او په احترام سره. او نيت هم نيک ساتۍ ځکه چې په کومو خبرو کښې چې په تاسو بد ويلی شي چې په هغو کې هم هغه خلک شرمنده شي چې ستاسو مسيحی نيک چلن ته بدرد وائی." (اول پطروس ۳: ۱۵ – ۱۶)

مونږ د مسيح زيرى نورو ته هم لېږدوو او هغوى پکښې شريکوو، ځکه دا زمونږ هيله ده او مقدس کتاب هم مونږ دې کار ته هڅوي. کله چې مونږ له مسيح سره خپل دريځ ځرګندوو نو ډېر قوت ترلاسه کوو.

بله لار چې په عام محضر کښې دا په ډاګه کوي چې مونږ مسيحيان يو، هغه وخت دى چې مونږ د اوبو بپتسمه اخلو. د اوبو د بپتسمې اخيستل ستاسو په مسيحى وده کښې ډير مهم ګام شمېرل کېږي. په خپله عيسى مسيح هم بپتسمه اخستى وه. نه په دې خاطر چې بپتسمې ته يې ضرورت درلود، بلکه د دې لپاره چې هغه زمونږ يوه کامله نمونه ده. په دې اړه مونږ کولاى شو چې د متى د انجيل دريم باب ته مراجعه وکړو.

"ځکه تاسو په مزکه خوارهٔ شئ او ټول قومونه زما مريدان کړئ او د پلار، د زوى او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ." (متى ۲۸: ۱۹)

د کليسا غړيتوب تر لاسه کول او د يوې سيمه ايزې کليسا په کارونو کښې برخه اخيستل، زمونږ د خلاصون لپاره کوم ضرورى اقدام نه دى، مګر دا کار د دې باعث ګرځي چې خپلې مسيحې کورنۍ ته نور هم نږدې شو او د هغې سره پوره تړاو پيدا کړو.

مونږ د هغو کسانو په نسبت چې زمونږ په شاوخوا کښې دي مسؤليت لرو. مونږ دا زده کوو چې په زياته پيمانه له يوبل څخه ساتنه او څارنه وکړو. لکه څنګه چې يوه طبيعي کورنۍ د خداى په نقشه کښې ځاى لري، هم هغه شان روحاني کورنۍ هم

کولای شي چې ځای ولري. یعنې هغه ډله چې ورسره شراکت لرو او د یوبل څخه زده کوو. اعمال د رسولانو په اعمال ۲: ۴۷ کښې راغلي دي: "هغوی د خدای ثنا ویله، نو ټول خلک ترې راضی وو او هره ورځ څومره خلقو چې خلاصون موندلو نو مالک د هغوی په ډله کې شاملول."

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۱ـ د رومیانو د خط ۱۰: ۹ – ۱۰ په مطابق هغه کوم دوه کارونه دي چې یو مسیحي یې باید سرته ورسوي؟

..........................................................................................

..........................................................................................

۲ـ یوحنا ۱: ۴۳ – ۴۲ ولولئ. کله چې مسیح د فیلیپوس څخه دعوت وکړ نو د هغه غبرګون څه ؤ؟

..........................................................................................

۳– د دې لاندېني جملو څخه کومه یوه صحیح ده.

الف) د اوبو بپتسمه هغه طریقه ده چې د هغې په واسطه کولای شو په ډله ایزه توګه د مسیح په هکله زېری ورکړو.

ب) ضرور نه ده چې په ښکاره ډول د مسیح په هکله زېری ورکړو. مونږ کولای شو چې په پټه توګه هم د عیسی مسیح پیروان واوسو.

ج) مسیحي دوستان کولای شي مونږ سره مرسته وکړي او مونږ هم کولای شو چې د هغوی سره مرسته وکړو.

## مسیحی وده

تنده بیلابیل ډولونه لري. تاسو کیدای شي چې د هغه چا د خبر د اوریدو تږي واوسئ چې ډېر وخت کېږي له تاسو څخه لرې دی. مونږ د نویو مواقعو او فرصتونو تږي یو چې تر لاسه یې کړو... خلک د مینې او محبت تږي دي او یقیناً زمونږ زړه او روح د هغه څه غوښتونکی دی چې دنیا یې نشي ورکولای.

وروسته له دې چې تاسوخلاصون (نجات) حاصل کړ نو په خپل ځان کې د یوې بلې تندې احساس کوئ، چې دا تنده د خدای د کلام لپاره ده. ”د نوو پیدا شوو بچو په شان د خالص روحانی پیو خواهشمند اوسئ چې د هغو په وسیله د خلاصون موندلو دپاره لوئیږئ.“ (اول پطروس ۲: ۲)

مسیح وویل: ”... بنی آدم تش په ډوډئ نه پائي خو هغه په هره هغه خبره پائي چې د خدای د خلی نه وځی.“ (متی ۴: ۴)

یو مسیحی دې ته ضرورت لري چې هره ورځ مقدس کتاب ولولي. داؤد نبي چې بادشاه هم ؤ، ډېره ښه نمونه مونږ ته پرځای پریښې ده چې وایی: ”بختور دي هغوی چې د شریرانو سره صلاح او مشورې نه کوي.. د خدای له شریعت سره مینه او علاقمندي ښیي او دهغې څخه پیروي کوي او شپه او ورځ د هغې په هکله فکر کوي.“ (زبور ۱: ۱ – ۲)

همدا رنګه وائي: ”خدايه! ستا شريعت سره څومره مينه لرم او ټوله ورځ د هغې په هکله فکر کوم.“ (زبور ۱۱۹ :۹۷)

نه يوازی د خدای د کلام مطالعه مهم کار دی بلکه د هغۀ حفظول او ورته په زړه کې ځای ورکول هم ډېر اهم او ګټور کار دی. هغه څه مو چې د خدای د کلام څخه زده کړ يدي، ضرورت پر وخت روح القدس مونږ ته هغه رايادوي. يعنې په هغو شېبو کښې چې مونږ په خپل ژوند کښې لارښودنې او هدايت ته ضرورت پيدا کوو.

”خو مددګار يعنی روح القدس چې به پلار زما په نوم را استوی، هغه به تاسو ته هر څه ښائی او بيا به درته هغه څه رايادوی، کوم چې ما تاسو ته وئيلی دي.“ (يوحنا ۱۴: ۲۲)

د مقدس کتاب ورځنۍ مطالعه بايد له دعا سره يوځای وي. عيسی مسيح سره ددې چې په خپله د آسمان د د جلال او لويۍ څخه واقف ؤ، خو بيا هم د دعا کولو اړتيا يې احساسوله. هغه مخکې تر دې چې خپل مريدان وټاکي ټوله شپه يې تر سهاره پورې په دعا کښې تېره کړه. (لوقا ۲: ۱۲) سيلاس او پولوس کله چې د زندان څخه خلاص شول دعا يې کوله او روحاني سرودونه او سندرې يې وئيلې (اعمال ۱۲) او همدا شان مسيح خپلو شاګردانو ته وويل: ”او دغه شان زه تاسو ته وايم چې وغواړئ نوتاسو ته به درکړی شی، ولټوئ نوتاسو به ئې ومومئ، وډبوئ او دروازه درته لرې کړی شی. ځکه چې هر څوک چې غواړی، هغه ئې آخلی او څوک ئې چې

لټوی، هغه ئې مومی او څوک چې ور ټکوی، هغه ته دروازه بیرته کېږی." (لوقا ۱۱: ۹ _ ۱۰)

اول تسالونیکیان **۵**: ۱۷ وائي: "په دعا کې ناغه مه کوئ." حتی کله چې په ښوونځۍ کې یُو او فکر مو سخت مصروف دی، او یا په کار کې بوخت یو او دا ایجابوي چې خپل ټول پام د هغې خوا ته واړوو، خو بیا هم کولای شو چې په خپل روح کښې دعا وکړو او په دعا سره خپل کار پر مخ یوسو. که چېری یو اضطراري حالت مونږ ته راپېښیږي نو دا هغه موقع ده چې پوهېږو څه ډول له خدای سره رابطه قایمه کړو.

مونږ د خپل کار په سر حتماً دومره وخت موندلی شو چې لږ دمه وکړو او د خدای شکر پر ځای کړو. دا هغه طریقې دي چې مونږ کولای شو په دوامداره توګه د خدای عبادت او پرستش وکړو.

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۴– هغه کوم دوه فعالیتونه دی چې د یوهٔ ایماندار د روحانی ودې یا ترقۍ باعث ګرځي؟

الف) ...........................................................

ب) .............................................................

## فكرونه او عملونه

"خپلو سوچونه تر كنتول لاندې راوله ځكه د انسان ژوند د هغۀ د افكارو څخه سرچينه اخلي." (امثال ۴: ۲۳)

خدای كولای شي چې مونږ سره مرسته وكړي څو خپل سوچونه او فكرونه په كنترول كښې راولو. فيليپيان ۴: ۷ وايي: "نو د خدای سلامتی چې د پوهی نه بيخی بهر ده، ستاسو زړونه او خيالونه به د مسيح عيسی په يووالی كې محفوظ وساتی." كله چې زمونږ فكرونه او سوچونه پاک او سپېڅلی وي نو د خدای د خوشحالۍ سبب ګرځي.

"نو اوس ای ورونړو! څومره خبری چې رښتيا دی او څومره خبرې چې د شرافت دی، چومره خبرې چې واجبی دي او څومره خبری چې پاكی دي، او څومره خبری چې مينه ناكی دي او څومره خبری چې ښائسته دي، غرض دا چې كومی د نيكۍ او ستائينی خبری دي، په هغو غور كوئ." (فيليپيان ۴: ۸)

خپل فكر همېشه په هغه شي پورې اړول او محدود ساتل چې خدای پرې خوشحالېږی، دايمی تربيې او نورو مقرراتو ته اړتيا لري. ترڅو چې په دې دنيا كې ژوند كوو د ګناهونو او وسوسو سره به لاس په ګريوان يو. خو دا د خدای د مرستې له بركته ده چې كولای شو د ګناه د ككړتيا څخه ځانونه وساتو او

وسوسې ته تسليم نشو. يو پخوانی متل دی چې وايي: «کيدای شي چې مرغۍ ستاسو د سر د پاسه والوزي خو کله هم نشي کولای چې ستاسو پر سر باندې ځاله جوړه کړي.» په بل عبارت ممکن وسوسې تاسو راګير کړي خو تاسو دا اجازه مه ورکوئ چې په ذهني يا عملي توګه تاسو د ګناه طرف ته کش کړي. د فکر د څارنی او کنترول لرلو ښه لاره دا ده چې خپل ذهن د بدو فکرونو او بدو کارونو څخه لرې وساتئ او په هغه څه کې چې ئې ګورئ، اورئ، وايئ او سرته يې رسوئ پوره دقت او پاملرنه وکړئ.

خپلې سترګې تر کنترول او څارنې لاندې ونيسئ. "سترګی د وجود ډيوی دي. که ستا سترګی جوړې وی نو ستا ټول وجود به رڼا رڼا وی." (متی ۶ : ۲۲)

هغه څه چې اورو هم زمونږ په فکرونو اثر کوي د مرقوس ۴: ۲۴ کې لولو: "پام کوئ چې څۀ اورئ." اوس نو هغه خبری اتری او موزيک چې تاسو ئې اوريدل خوښ ګڼئ، ايا تاسو سره دا مرسته کولای شي چې د خدای سره زياته مينه ښکاره کړئ؟ آيا دا کار د يو سالم او رغنده سوچ ايجادکوونکی دی؟ که چېرې ستاسو ځواب نه وي نو دې ته اړ ياست چې هر څه چې اورئ بايد دکنټرول او ډسپلين لاندې ئې راولئ.

غوږ نيول له ځانه سره اوريدل هم لري يعنې د خپلو او دنورو د خبرو اوريدل. هغه څه چې مونږ وايو کيدای شي په قوي توګه په يو ښه يا بد کار خپله آغيزه او اثر پر ځای پرېږدي. که چېرې کوم کس زمونږ په مقابل کښې کومه غلطي کړې وي،

نو ښه به دا وي چې د دې پر ځای چې هغه ته کلک ځواب ورکړو او یا شخړه ورسره کړو، په ډېرې آرامۍ سره له دې مسئلې څخه تېر شو او هېر ئې کړو. مقدس کتاب امثال ۱۵: ۱ دا مطلب په دې ډول بیانوی: "په نرمه ژبه ځواب ورکول قهر او غصه له منځه وړی مګر سخته لهجه او ترخې خبرې هغه را پاروي."

زمونږ هدف او مقصد باید د دې متل پوره کول وي چې وایي: "هغه خبره چې په ځاي وویل شی لکه د سرو زرو د غمیو په شان ده چې د سپینو زرو په یوې لوښې کښې ټومبل شوي وي." (امثال ۲۵: ۱۱)

یو مسیحی باید خپل عملونه تر کلکې پاملرنې لاندې ونیسي. ځکه خدای د هغه څخه دا تمه لري چې هغه کار تر سره کړي چې ښه وي.

"خدای مونږ ته فرمایلي دي چې زمونږ څخه څه غواړي. هغه څه چې هغه یې زمونږ څخه غواړي دا ده چې مونږ رحم او انصاف ولرو او په پوره خاکسارۍ سره د هغه احکام پرځای کړو." (میکاه ۴: ۸)

راځئ چې د زبور لیکونکي سره هم غږي شو چې وایي: "ای پاکه ربه! ای زما ژغورونکیه او ساتونکیه! زما الفاظ او سوچونه دې ستا د خوښې په مطابق وي." (زبور ۱۹: ۱۴)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

**۵** ـ د هغې برخې څخه چې اوس مو ولوست داسې آیتونه پیدا کړئ چې لاندینۍ جملې تائیدوي او په معینو خالی ځایونو کې يې ولیکئ:

الف) زمونږ افکار دې باید د ښو کارونو پر محور وڅرخیږی.

..............................................................................

ب) زمونږ فکرونه دې باید د الهی آرامتیا پر بنا کنټرول شی.

..............................................................................

ج) زمونږ فکرونه دې باید زمونږ ژوند ته شکل ورکړي.

..............................................................................

د) زمونږ فکرونه دې باید خدای ته د قبول وړ وی.

..............................................................................

**۲** ـ یوحنا ۱۷: **۱۵ – ۱۹** ولولئ. او د هغه جملو مخو ته چې د دې لاندې جملې پوره کوونکې ده نښه وکړئ.

زمونږ فکرونه کولای شی ..............................؟

الف) په یوه سوري (غار) کښې زمونږ په پټیدو او ټوله ورځ په دعا کښې په تېرولو سره، له بدو خیالونو څخه خوندي پاتې شي.

ب) په هغو شیانو باندې په سوچ کولو سره چې پاک، صحیح او سپیڅلي دي، خوندي پاتې شي.

ج) د یوې مسیحی اتحادیې سره په یوځای کیدو او د دنیاوی چارو څخه د ځان ګوښه کولو په وسیله کیدای شي چې له بدو سوچونو څخه خوندي پاتې شی.

د) د مسیح په دعا باندې د ایمان لرلو په وسیله تر هغې پورې چې په دې دنیا کښې ژوند تېروو، دهر ډول شرارت نه به خوندي پاتې شي.

## کلیسائي ژوند

لکه څنګه مو چې څو شیبې مخکې ولوسته مونږ باید د انجیل ښه زېری نورو ته هم ورسوو چې هغه بې‌ایمانان هم په کې شامل دي کوم چې زمونږ دوستان دي. مګر د نژدې دوست د انتخاب لپاره باید د ډېرې کره کتنې او دقت څخه کار واخلو. زمونږ فارغ وخت باید په پوره توګه دا تعادل حفظ کړي چې وشو کړای هغه د هغو کسانو سره تېر کړو چې کولای شي زمونږ سره مرسته وکړي څو په خدای کښې وده وکړو او د هغه د ارادې غوښتونکي شو. مقدس کتاب وائی: "بختور دي هغوی چې د بدانو او شریرانو په مشوره عمل نه کوي، او د ګناه ګارانو په قطار کې نه ودرېږي او د استهزأ کونکو او مسخره کوونکو په لاریون او ټولنه کې نه شریک کېږی. بلکه میل او رغبت یې د خدای په شریعت باندې په عمل کولو کې وي او شپه او ورځ په هغې فکر کوي." (زبور ۱: ۱ – ۲)

موږ غواړو چې د خدای کلام په يوائې توګه او هم له خپلو دوستانو سره په شريکه توګه مطالعه کړو. د بله اړخه موږ دې ته هم اړتيا لرو چې د خدای کلام دې په ايمان سره موعظه شي. "او ايمان د زېری په آوريدلو پيدا کېږی او آوريدل د مسيح په باب کې د زېری ورکولو نه." (روميان ۱۰: ۱۷)

"او د يو بل سره د عبادت دپاره جمع کيدو نه منع نه شو لکه څنګه چې د ځنو خلقو دستور دی، بلکه يو بل ته نصيحت وکړو، او هر څومره چې هغه ورځ په رانژدی کيدو وينئ، هغه هومره ئې زيات کوئ." (عبرانيان ۱۰: **۲۵**)

کله چې ايمانداران سره راټولېږي بايد يو بل تقويه کړي او د يو بل حمايت وکړي. په يووالی، سرود ويلو او د خدای د شکر په ادا کولو کې لوی قوت او قدرت نغښتی دی.

"دپاره د دې چې په بدن کې بې اتفاقی پيدا نه شی بلکه اندامونه د يو بل برابر خيال وساتی. نو بيا که يو اندام درد ومومی نو د هغه سره ټول اندامونه دردېږی، او که چېرې يو اندام عزت مومی نو د هغه سره ټول اندامونه خوشحالېږی." (اول کورنتيان ۱۲: **۲۵** – **۲۶**)

د خدای نقشه دا ده چې د هغې په مطابق موږ برسيره پر دې چې ځان د سيمه ايزه کليسا په مالي مسائلو کې شريک ګڼو نورو ته هم بايد ځانونه ورسوو او مرسته ورسره وکړو. عبرانيان ۷: ۲ – ۹ موږ ته په دې باره کې د حضرت ابراهيم د ژوند يوه نمونه وړاندې کوي چې د هر هغه څه لسمه برخه چې

هغۀ درلودل، د خدای په لارې کښې يې ورکول. خو سره د دې هم لسمه برخه کافي نه ده.

فريسيانو او د هغې زمانې ديني لارښوونکو به هم خپل د عايد لسمه برخه د خدای لپاره ورکوله، مګر عيسی مسيح وفرمايل چې زمونږ د ورکړې معيار دې بايد د هغوی څخه ډېر اوچت وی. هغه ووېل چې هغوی د عشر په ورکولو کې يعنی يو د لسو په ورکړه کې دومره دقيق دي چې د کاږو، ويلنی، او زيرې عشر هم ورکوي. خو د شريعت اساسي ټکي ته چې عدالت، رحمت او بې ريايي ده، پاملرنه نه کوي (متی ۲: ۲۳). عيسی مسيح د دې مطلب نه وروسته توضيح کړه چې مونږ بايد په هر شی کې چې خدای ئې زمونږ نه غواړی وفادار واوسو.

مونږ د دې غوښتونکې يو چې خپلې پيسی په پوره سخاوت او پراخه لاس سره وبخښو او په همدې حال کې ټولو هغو شيانو ته غوږ ونيسو چې خدای يې زمونږ څخه غواړي. ښايي چې خدای زمونږ نه دا غواړی چې ډېر وخت هغه ته وقف کړو. يعني خپل استعدادونه او ټولې هغه نقشې چې مونږ خپل راتلونکې لپاره کښلې دي. هر هغه څه چې خدای وغواړي بايد د محبت د قربانۍ د يوۀ سوغات په توګه د هغۀ په مذبح کې نذرانه کړو. د هغه چا په مذبح کښې چې اول يې مونږ سره مينه او محبت کړی دی.

## هغه څه چې تاسو ئې بايد سرته ورسوئ

۷– د هر هغه شي لسمه برخه ورکول چې زمونږ ملکيت دی ........................ نوميږي.

۸_ د عبرانيانو ۱۰: **۲۵** په مطابق مونږ د نورو ايماندارانو سره يو ځائ راجمع کېږو ځو..........................................

..........................................................................

۹_ روميان ۱۲: ۱ – ۲ حفظ کړئ. د دې آيتونو مطابق د خدای واقعی عبادت عبارت دی له..........................................

..................... ..................................................

## پل ځوابونه مقايسه کړئ

**۱_ په خوله اقرار او په زړه کې ايمان لرل.**

۲ – (نتانی ايل) يې پيدا کړ، او هغه سره يې د عيسی مسيح په هکله خبری وکړې.

۳ _ الف) صحيح

ج) صحيح

۴ـ په منظمه توګه د مقدس کتاب لوستل او دعا کول.

۵ – الف) فیلیپیان ۴: ۸ ج) امثال ۴: ۲۳

ب) فیلیپیان ۴: ۷ د) زبور ۱۹: ۱۴

۶ـ (ب) او (د) صحیح دي.

۷ – عشر یا ده یک

۸ـ یو بل تشویق کړو.

۹ـ خپل ځان د خدای خدمت ته وقفول ترڅو هغه زمونږ نه راضي او خوشحاله شي.

ستاسو یادداشت

## شپاړسم لوست

# د روح څخه معموره ژوند

د روح څخه ډک او معموره ژوند باید د هر ایماندار هدف وي. د خدای د روح څخه ډکېدل یو بل قدم دی چې باید هر مسیحي هغه تجربه کړي. کوم ژوند چې د روح نه معموره وي هغه په کامله توګه خدای ته تسلیم او سپارل شوی وي.

عیسی مسیح خپلو شاګردانو ته وعده ورکړه کله چې خپل پلار څخه لاړ شي نو یو تسلی ورکونکی به راواستوي چې هغه روح القدس دی.

"او زه به پلارته خواست وکړم چې تاسو ته بل مددګار درکړی څوک چې به تاسو سره مدام وی، او هغه به د حق روح وی، دنیا هغه نه شی قبلولی ځکه چې دنیا نه خو هغه وینی او نه ئې پېژنی خو تاسو ئې پېژنئ ځکه چې هغه تاسو سره اوسی او په تاسو کې وی." (یوحنا ۱۴: ۱۲ – ۱۷)

د روح القدس د راتګ ورځ د پنطیکاست د ورځی سره سمون وخوړ. د دې پېښې تفصیل د رسولانو د اعمالو په دویم باب کې لیکل شوی دی. د دې ورځی څخه پس هر مسیحی ایماندار ته دا امکان پیدا شو چې د روح څخه ډک او معمور ژوند ولري.

په دې لوست کې به وګورو چې د روح ځخه د معمور ژوند هدف او مقصد څه شی دی او دا به زده کړو چې د روح القدس ځخه ډکېدل د خپل ځان سره نور ثوابونه او اجرونه هم لري.

## هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولئ

د روح ځخه معمور ژوند

روحاني قوت ترلاسه کول

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی ترڅو...

- تشریح کړئ چې د روح ځخه د معموره ژوند مقصد څه دی.
- خپل ژوند ته کتنه وکړئ او وګورئ چې په روح معمور دی او که نه؟ او څرنګه يې ثابتولای شئ؟

## د روح ځخه معموره ژوند

افسیان **۵**: ۱۸ مونږ ته دا تعلیم راکوي چې: "... په پاک روح معمور شئ." دا کار د نوې پیدایښت او په اوبو د بپتسمې د اخستلو په وسیله په مونږ کې هم صورت موندلی شي. عیسی مسیح دغه عبارت یعنی د روح القدس بپتسمه د دې لپاره استعمال کړه څو هغه روحانی ښائسته تجربو ته اشاره وکړي چې مریدانو يې په ببره لاس ته راوړې وو. عیسی مسیح په اعمال ۱: **۵** کې وفرمایل: "او لکه چې تاسو ته معلومه ده چې یحییٰ به په اوبو بپتسمه ورکوله خو تاسو ته به په روح القدس بپتسمه درکړی شی او دا به لږی ورځی پس وی." مونږ هم

کولای شو چې د ایماندارانو په صفت بپتسمه واخلو. لکه د هغه لومړنیو مریدانو په څېر چې په خپل ایمان کې یې د صبر څخه کار واخیست او د خدای شکر او ثنا یې پرځای کړه. هغوی د مسیح د دې حکم څخه تابعداری وکړ چې ویلي یې ؤ: "او دا ګورئ، زه تاسو ته د خپل پلار کړی لوظ در استوم، دلته په دې ښار کې تر هغې پاتې شئ تر څو چې په تاسو د آسمانی قوت نازل شی." (لوقا ۲۴: ۴۹)

یوه طریقه چې مونږ پرې پوهېږو چې آیا د روح القدس څخه معمور شوي یو که نه، دا دی چې د خدای هغه طاقت تر لاسه کوو کوم چې د پنطیکاست پر ورځ پر ایماندارانو باندې نازل شو. روح القدس زمونږ په وسیله پر هغو ژبو خبرې کوي چې مونږ پرې نه پوهېږو. مقدس کتاب وایې:"او ټول په روح القدس معمور شول او په پردو ژبو ئې خبری شروع کړی څنګه چې روح القدس د خبرو طاقت ورکړو." (اعمال ۲: ۴)

دا مهمه ده چې په روح معمور شوی ژوندون خپل نتائج یا میوې ښکاره کړي. "خو د خدای د روح میوه مینه، خوشحالی، سلامتی، زغم، مهربانی، نیکی، ایمانداری، عاجزی او پرهیزګاری ده. د داسې کارونو یو شریعت هم مخالف نه دی." (ګلیتیان ۵: ۲۲ – ۲۳)

که چېرې داسې احساس کړو چې د روح څخه معمور شوي یو خو دغه صفتونه په مونږ کې نه لیدل کېږی، نو باید د خدای حضور ته په مُخه کولو سره د هغه نه وغواړو چې د دې کار مانع مونږ ته ښکاره کړي. او که مونږ دغه ځانګړي خصلتونه ونه لرو

نو په دې صورت کې پخپله په خپل ځان کې د روح القدس د کار مانع ګرځيدلي يو.

"او د خدای پاک روح خفه کوئ مه، د کوم نه چې په تاسو د خلاصون د ورځ دپاره مهر لګولی شوی دی." (افسيان ۴: ۳۰)

مونږ کولای شو چې د خدای د ارادی نه د تابعدارۍ د لرلو په وسيله د روح القدس معموروالی پر خپل ځان کښې حفظ کړو.

"او په شرابو مستيږی مه ځکه چې د دې نه بد کاری پيدا کېږی، بلکه په پاک روح معمور شئ.او په خپلو کې زبور، سندری او روحانی غزلی وايئ، او په خپلو زړونو کې د مالک سندری او حمدونه وايئ. او په ټولو خبرو کې زمونږ د مالک عيسی مسيح په نوم زمونږ د خدای پلار هر وخت شکر کوئ." (افسيان ۵ : ۱۸ – ۲۰)

دغه آياتونه مونږ سره مرسته کوي څو وپوهېږو چې په روح کښې د اوسيدلو او ژوند کولو مفهوم او مقصد څه شی دی.

کله چې مونږ روح القدس ته دا موقع ورکوو چې زمونږ د ژوند واګي په خپل واک کښې واخلي، هغه وخت مونږ وده کوو او په بالغو مسيحيانو باندې بدلېږو (ګلتيان ۵: ۱۲). روح القدس مونږ فعال او ژوندي ساتي او د قوت او تياری احساس راکوي چې د هغه په مقابل کې خپل مسئوليت په ايماندارۍ سره سر ته ورسوو. دغه عقيده په دويم کورنتيان ۴: ۱۲ کې ليکل شوې ده چې وايي: "د دې دپاره مونږ همت نه بائيلو او

سره د دې چې زمونږ بدن ورو ورو ختمیږی خو بیا هم زمونږ روح ورځ تر ورځ نوی کیږی.“

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۱ـ د صحیح پوره کوونکو جملو مخې ته نښه ورکړئ:

کله چې یو ایماندار د روح القدس بپتسمه اخلي:

الف) په نا آشنا ژبو خبرې کوي.

ب) هغه میوی چې په ګلتیانو پنځم باب کې ذکر شوي راښکاره کوي.

ج) د روحانیت له نظره وده کوي.

د) د هغې نه وروسته دې ته اجازه ورکوي چې روح القدس یې د ژوندون چارې په خپل لاس کې واخلی.

۲ـ افسیان ۵: ۱۷ – ۲۱ ولولئ. د دې آیت په مطابق کم تر کمه درې هغه فعالیتونه ولیکئ چې د روح نه معمور شوی مسیحی یې باید تر سره کړي.

.......................................................................................

.......................................................................................

.......................................................................................

.......................................................................................

.......................................................................................

۳_ د ګلتیانو ۵: ۱۲ په مطابق په روح کښې د ژوند کولو کلي څه د ه؟

..........................................................................

..........................................................................

## روحاني قوت ترلاسه کول

روح القدس د دې لپاره را ولیږل شو څو زمونږ مرسته کوونکی وي. د هغهٔ د نومونو څخه یوم نوم ((تسلی ورکوونکی)) دی. کله چې یو سړی مونږ ته تسلی راکوي او مرسته راسره کوي نو داسې یو کار کوي چې د هغی له وجی زمونږ په ژوند کښې سهولتونه راځی. کله چې د ستونزو او فشارونو لاندې یو زمونږ لاس نیوی کوي او مونږ پورته کوي. له همدې وجې ده چې مونږ وایو د روح القدس په وسیله مونږ قوت تر لاسه کوو.

روح القدس مونږ ته قوت او طاقت رابخښي. هغه زمونږ د مسیحی ودې په هر ارخ کې زمونږ سره مرسته کوي. روح القدس د دعا په وخت کې هم زمونږ سره یاری کوي.

"روح القدس هم په دې شان زمونږ په کمزورتیاو کې مدد کوی. مونږ ته دا هم نه ده معلومه چې دعا څنګه کول په کار دي خو روح القدس په اسویلو زمونږ شفاعت کوی چې په لفظونو کې نه شي بیان کېدلی." (رومیان ۸: ۲۲)

روح القدس زمونږ لارښونه هم کوي. د نوې لوظنامې د رومیانو په ۸: ۱۴ کې لولو چې: "ځکه چې هر څوک چې د خدای د روح په هدایت چلیږی، هغه د خدای بچی دی."

روح القدس د رښتیا او حقیقت روح دی او هم لوی هدایت کوونکی، ښوونکی او لارښود دی چې مونږ د حقیقت لور ته لیږدوي. "خو مددګار یعنی روح القدس چې به پلار زما په نوم را استوی، هغه به تاسو ته هر څه ښائی او بیا به درته هغه څه رایادوی، کوم چې ما تاسو ته وئیلی دي." (یوحنا ۱۴: ۲۶)

"خو کله چې د حقیقت روح راشی نو هغه به تاسو ته دا ټول حقیقت وښیی ځکه چې هغه به د خپله ځانه هیڅ نه وائی، خو هغه څه به وائیکوم چې هغه آوری او هغه به تاسو په راتلونکی واقعاتو خبر کړی." (یوحنا ۱۶: ۱۳)

د ژوند په هغو سرشاره نعمتونو کښې چې د روح القدس څخه معمور وي، داسې نعمتونه او سوغاتونه هم وي چې د روح القدس له خوا ډالۍ کیږي. دغه نعمتونه او ډالۍ کیدای شي د هغو افزارو په ډله کښې وشمیرو چې د هغې په وسیله کولای شو د خدای په مقابل کښې خپله دنده په پوره راحتۍ او مؤثرې طریقې سره تر سره کړو. د دې ډالیو څخه لومړنۍ ډالۍ هغه قدرت او طاقت دی چې د مسیحی خدمت د ترسره کولو لپاره مونږ ته راکول کیږي.

"خو تاسو ته به د روح القدس په نازلیدو طاقت درکړی شی او تاسو به په بیت المقدس کې او په ټوله یهودیه او سامریه کې او د دې نه اخوا د دنیا تر بله سره زما شاهدان یئ."
(اعمال ۱: ۸)

روح القدس خپلی ورکړی چې د مسیحی خدمت لپاره ځانګړې توښې دي، زمونږ په واک کښې پریښې دي. مقدس

کتاب وائی: "نعمتونه خو قسما قسم دي خو روح يو دی." (اول کورنتيان ۱۲ :۴)

د روح القدس تحفی او بخششونه چې د مقدس کتاب په اول کورنتيان ۱۲: ۸ – ۱۱ کې بيان شوی دي عبارت دي له: د حکمت کلام، د علميت کلام، ايمان، د شفاورکولو توان، دمعجزو طاقت، نبوت، د مختلفو روحونو پېژندل،د قسما-قسمو ژبو د وئيلو توان، د ژبو تشريح کول او داسې نور. ځينې نورې توبنې او طاقتونه هم موجود دي چې خدای غواړي د خپل روح په وسيله هغه مونږ ته ډالۍ کړي.

"او د هغه رحم په مطابق چې په مونږ شوی دی، مونږ ته قسما قسم نعمتونه حاصل دي، ځکه چې چا ته چې د خدای د کلام آورولو نعمت وکړی شوی وی نو هغه دې د خپل ايمان په اندازه کلام آوروی. که چېرې خدمت ورکړی شوی وی نو په خدمت کې دې لګيا وی، که استاذ وی نو په تعليم کې دې مشغول وی او که ناصح وی نو نصيحت دې کوی، خيرات تقسيم کوونکی دی سخاوت کوی او رهنما دې پوره په سرګرمی رهنمائی کوی، رحم کوونکی دې ښه په خوشحالی رحم کوی." (روميان ۱۲: ۶ – ۸)

روح القدس د خدای بچيانو ته برکت او جلال هم د ځان سره راوړی.

"په دې وئيلو سره د خدای روح زمونږ د روح سره هم دا وائی د دې ګواهۍ دپاره چې مونږ د خدای بچی يو ، او چې بچی يو نو وارثان هم يو . مونږ د خدای وارثان او د مسيح په ميراث

کښې شریک یو، که داسې وی چې مونږ د هغهٔ د تکلیفونو په زغملو کښې شامل یو نو د هغهٔ په جلال کښې به هم شامل شو.“ (رومیان ۸ : ۱۲ – ۱۷)

د روح القدس نازلیدل اوس هم د پخوا په شان په پوره جوش او خروش سره دوام لري او ډېر مسیحیان د روح القدس په وسیله اوس هم بپتسمه اخلی. دعا وکړئ چې دغه کار دې همدارنګه جاری وی. د خپلې کلیسا لپاره هم دعا وکړئ خپلو دینی مشرانو، لارښوونکو، د کلیسا مدیره هیئت او ټولو هغو کسانو ته چې د روح القدس بپتسمه یې اخستې وي او هغه کاروي، د زړه له کومې دعا وکړئ. همدا روح دی چې کله مونږ د مشکلاتو، لوږې، سختۍ، جفا، دشمنۍ، فقر او بالاخره مرګ سره مخامخ کېږو، زمونږ سره مرسته کوي. مقدس کتاب وایې: ”خو بیا هم د دې هر څه سره ښکاره کامله فتح بیامومو د هغه چا په وسیله څوک چې مونږ سره مینه کوی.“
(رومیان ۸ : ۳۷)

## هغه څه چې تاسو ئې باید سرته ورسوئ

۴ـ کله چې مونږ وایو چې روح القدس مونږ ته قوت راکوي زمونږ مقصد دا دی چې.......................................

.......................................................................

۵ـ د روح القدس پنځه عنوانونه چې په دې لوست کې مو ولوستل ولیکئ.

۱) ........................................................

۲) ........................................................

۳) ........................................................

۴) ........................................................

۵) ........................................................

۲ـ په لاندیني کومو حالاتو کښې د روح القدس له ډالیو څخه کار اخیستل کېږي.

الف) د یوې محتاجې کورنۍ میلمه پالنه کوئ.

ب) د کلیسا د یوۀ ټولګي ښوونکیتوب قبلوئ.

ج) په خوشحالۍ سره د هغې ښځې د بچو ساتنه کوئ چې ناروغه ده.

د) د ملاقات پر ورځ زندان ته د وعظ او نصیحت لپاره ځئ.

هـ) خپلو دوستانو ته د کار پر سر بشارت یا زېری ورکوئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ـ ټول ځوابونه صحیح دی.

۲ ـ ستاسو ځوابونه کیدای شي چې داوي:

په خپلو کښې د روحاني سندرو او زبور وئیل، د زړه له کومې شکر ګزارى، یو د بل فرمانبردارى، په هر کار کې شکر ادا کول، عیسى مسیح ته احترام.

۳ـ د روح کلي دا ده چې اجازه ورکړو چې زمونږ د ژوند لارښود شي.

۴ ـ هغه زمونږ سره مرسته کوى او مونږ ته تسلي راکوي او کله چې د کوم فشار لاندې یو زمونږ لاس نیوى کوي.

۵ـ مددګار، تسلى ورکوونکى، د حقیقت روح، استاذ، لارښوونکى.

۶ - ټولو ځوابونو ته کولاى شئ د صحیح نښه ورکړئ.

# زمونږ عقیدتي اصول

آیا غواړئ وپوهېږئ چې:

- خدای څوک دی؟ انسان څوک دی؟
- خلاصون څنګه لاس ته راځي؟
- څرنګه کولای شئ چې روحاني وده وکړئ؟

آیا کولای شئ چې نورو ته ووایئ چې په څه ایمان لرئ او ولی پرې ایمان لرئ؟ آیا کولای شئ نورو ته ووایئ چې مقدس کتاب د خلاصون په هکله څه وایي؟ آیا غواړئ چې نوي ایمان راوړونکو سره مرسته وکړئ؟ که چېرې ستاسو ځواب هو وي نو دا هغه کتاب دی چې تاسو ورته اړتیا لرئ. دا کتاب ستاسو په روحاني ودې کښې ډېره مرسته کوي.

دغه کتاب په ډېرې ساده طریقې سره لیکل شوی دی چې لوستل او پوهېدل یې آسانه ده. فقط همدومره کافي ده چې د هغې لارښونې په عمل کښې پلې کړئ او خپل ځان و آزمایئ.

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې یوه برخه ده چې د ((مسیحی ژوند)) په نامه یادیږي. د مسیحی ژوند سلسله ټول اته لس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه مطالعه کړئ.